# پیشگفتار

الله متعال را شکر گذاریم که بعد از یک وقفه‌ی نسبتا طولانی؛ اینک یک بار دیگر ژورنال تحقیقی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی را به نشر می رسانیم، به خصوص که این شماره در بعد کیفی و کمی؛ از شماره های گذشته متفاوت می باشد. مقالات پژوهشی این شماره بیشتر از پیش اند واز گوناگونی موضوعات برخوردار اند و زیر سه دسته بندی کلان قرار گرفته اند:

- افغانستان شناسی
- منطقه و جهان
- فکر و فرهنگ

در شرائطی که پایان دادن به جنگ و برآورده شدن مصالحه و آشتی بین جناح های درگیر؛ ضرورت مبرم داخلی و خواست جامعهء جهانی می باشد، بیشترین مقالات ما روی قضیهء صلح و پیشرفت اقتصادی افغانستان در کنار گسترش همکاری های منطقوی متمرکز می باشد. در کنار این، به مسایل فکری و فرهنگی نیز پرداخته شده است، زیرا کشمکش های فکری یکی از گفتمان های مطرح در جامعهء ما بوده و پرداختن به آن، به شکل علمی و اکادیمیک و به دور از افراط و تفریط، یکی از نیاز های مرحلهء انتقالی ای می باشد که جامعهء ما در حال گذار از آن است.

هدف وجودی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی؛ ارزیابی و توسعه‌ءی پالیسی ها از طریق گفتگوهای سازنده و پژوهش های دقیق و بی طرفانه می باشد. مرکز در پی آنست تا با ارائه ی پژوهش های علمی و طرح های استراتیژیک پیرامون افغانستان و منطقه، برای بلند بردن سطح دانش و معرفت و توانایی های عرصهء تفکیر استراتیژیک در کشور، عمل نماید.

امیدواریم که مقالات این شماره در سطح ارزیابی پالیسی ها و تصحیح آن در داخل و خارج کشور مورد استفادهء مراجع پالیسی ساز، مسئولین و جهات ذی ربط قرار گیرد. در کشوریکه کار پژوهش و ارزیابی پالیسی ها و ارائهء طرح های علمی به دور از سیاست بازی ها و مصلحت اندیشی ها؛ هنوز امری نا آشنا و نا مانوس می باشد، جا دارد که ازین دستاورد علمی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی قدردانی صورت گرفته و از آن استفادهء بجا صورت گیرد.

جا دارد که از سوی خود اصالتاً و از جانب مرکز مطالعات وکالتاً صمیمانه سپاس نماییم از تمام شخصیت های اکادیمیک ایکه لطف نمودند و مقالات تحقیقی شانرا در دسترس ما قرار دادند، آنهم در حالیکه مرکز مطالعات در بدل مقالات تحقیقی و نوشته های نویسندگان هیچگونه مزدی نمی پردازد. از اعتماد تمام دوستانیکه لطف نموده تحلیل را بخاطر نشر مقالات ارزندهء شان برگزیدند، سپاس نموده آرزومندم که چاپ این مجموعه، گام مخلصانه‌ای در راه آرامش و آبادی وطن به حساب آید.

همچنان، جادارد که از محترم احمد بلال خلیل؛ محقق ارشد مرکز و مدیر تحریر ژورنال تحلیل صمیمانه اظهار سپاس نمایم که تلاش شباروزی ونو آوری های شان، زمینه آنرا فراهم کرد که ژورنال تحلیل با همه کاستی هایش، با این پیرایه‌ی دیدنی و کیفیت بالا به دسترس خواننده‌ی گرامی میرسد.

ما از صمیم قلب سپاسگذار خواهیم بود اگر اهل پژوهش و خوانندگان محترم، ضمن مطالعهء مقالات، مارا متوجه کاستی هایی سازند که از توجه ما به دور مانده است. همچنان، امیدواریم خوانندگان گران قدر، انتقادات سازنده و نظریات صائب شانرا بخاطر بهبود ژورنال در آینده با ما شریک سازند.

و من الله التوفیق

**نصیر احمد نویدی**

رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

# سریزه

په نړېواله کچه د امریکا د مخ پر کمېدونکي ځواک له کبله د نړېوال نظم او نړېوالې حکومتولۍ جوړښتونه دا ځل له تاریخ څخه په فهم د کوم بل راپورته کېدونکي زبرځواک له خوا نه ننګول کېږي، بلکې دا ځل د لېوالتیا ځای دی، چې دمګړۍ د لوېدیځ په لاسونو جوړ شوی نړېوال نظم او د حکومتولۍ جوړښتونه په خپله د دوی – [لوېدیځ] په تېره بیا د امریکا – له خوا تر ګواښ لاندې دي. د امریکا متحده ایالات چې له تېرو څو لسیزو راهیسې د نړېوالتوب او آزادې سوداګرۍ مشال پورته نیولی و، نن یې دغه مشال په خپله غورځولی دی، او چین چې له تېرو دوو لسیزو راهیسې له دې وضعیت څخه ډېره ګټه پورته کړې او د یو راپورته کېدونکي ځواک په نامه یادېږي، نن د کاپیټالیستي نړۍ د سرلاري شعارونه په سوسیالیستي ژبه زمزمه کوي، او ځان د خپل ولسمشر [شي جین پېنګ] په ژبه د دغې نړۍ ژغورونکی او اتل بولي.

له همدې ځایه ویل کېږي چې د یوویشتمې پېړۍ دویمه لسیزه د شلمې پېړۍ او ان په خپله د دغې روانې پېړۍ د لومړۍ لسیزې په پرتله ډېر تفاوت لري. په روانه پېړۍ کې د ځواک انډول د بدلون په حال کې دی. په دې پېړۍ کې د ځواک انډول له لوېدیځه ختیځ ته روان دی او له همدې کبله دغه پېړۍ د ځواک د انتقال یا لېږد په نامه هم یادېږي. دغه راز زموږه نړۍ نوره امریکایي نړۍ نه ده پاتې او نه هم نور نړېوال نظم یو قطبي پاتې دی. نړۍ اوس د "امریکایي پېړۍ" پرځای د "آسیایانو د پېړۍ" پر لور روانه ده او یو قطبي نظام پر دوه قطبي او څو قطبي نظام بدلون موندلی دی.

دغه راز «لوېدیځ» هم نور «لوېدیځ» نه دی پاتې. هغه لوېدیځ چې په پیل کې د جغرافیې نوم و، وروسته یې د یو کلتور بڼه خپله کړه او په سړه جګړه کې بیا پر یوې سیاسي آیډیالوژۍ بدله شوه، اوس نوره یوه نه ده پاتې. په امریکا کې د ټرمپ له ولسمشرېدو راهیسې، د امریکا او اروپايي ټولنې اړیکې او د اروپايي ټولنې اړیکې بیا د امریکا متحده ایالاتو له رقیبانو – ایران او چین – سره دغه فرضیه نوره هم نږدې ثابته کړې، چې «لوېدیځ» هم نور د «یو لوېدیځ» په توګه د ماتېدو پر ګړنګ ولاړ دی.

د دې ترڅنګ، د یوویشتمې پېړۍ په روانه دویمه لسیزه کې، په نړېواله کچه د پاپولېزم عروج او یو پر بل پسې د پاپولیستي اجنډاوو تر نامه لاندې په یو شمېر هېوادونو کې د مشرانو ټاکل کېدل، د نشنلېزم بیا ژوندي کېدل، له نړېوالتوب یا ګلوبلایزېشن څخه د آزادې نړۍ شعار ورکوونکو تېښته [له اروپايي ټولنې څخه د

انګلستان وتنه، او همدغه راز له یو شمېر ترڼونو څخه د امریکا وتل]، زیاتېدونکې کډوالي، د ترورېزم او د ترورېزم پر وړاندې د جګړو د ماهیت بدلون (په تېره بیا lone wolf بریدونه او Hybrid جګړې)، د چاپېریالي ګواښونو زیاتېدل، په افریقا کې د «ابېولا» مرض پراختیا، او د نړۍ په یو شمېر سیمو کې د روانو کړکېچونو او بحرانونو پای ته نه رسېدل – لکه فلسطین، افغانستان، سوریه، یمن او کشمیر – تېره او روانه لسیزه نه یوازې له بې ثباتۍ سره مخ کړې، بلکې د دې پېړۍ پر درېیمه لسیزه به هم ژورې اغېزې وکړي.

زموږ سیمه او افغانستان به هم د دې بدلېدونکي نړېوال نظام له اغېزو څخه پاک نه وي. دغه تاثیرات به زموږ په سیمه کې د نورو سیمو په پرتله زیات وي. ځکه موږ د نړۍ د راپورته کېدونکي ځواک (Rising Power)چین ګاونډي یو؛ له هغې روسیې سره په یوه سیمه کې پراته یو، چې په تېره یوه لسیزه کې یې عملاً د امریکا یو قطبي نظام ننګولی دی، دا یې که په ختیځه اروپا کې د ځواک ښودنه وي [په اوکراین او ګرجستان کې] او که په منځني ختیځ کې له خپلو متحدینو ملاتړ [د سوریې له بشار الاسد او ایران څخه ملاتړ]؛ له هغو دوو اتومي ځواک لرونکو هېوادونو – پاکستان او هند – په ګاونډ کې واقع یو، چې له ۱۹۴۷ز کال راهیسې په خپلو منځونو کې کړکېچنې اړیکې لري او په افغانستان کې د دوی ترمنځ رقابت او ان په اصطلاح نیابتي جګړو د دغه هېواد پر امنیت او سولې ژورې اغېزې کړې دي. د دې ترڅنګ اوسمهال زموږ په سیمه کې د امریکا او چین په مشرۍ د سیمې پر دوو بلاکونو وېشنه – د امریکا، هند، جنوبي کوریا او جاپان بلاک او د چین، روسیې، پاکستان او ایران بلاک – د چین د وربېښمو لاره، د چین په ختیځ سویل سمندرګي کې زیاتېدونکي اختلافات، د چین-پاکستان اقتصادي حوزه، له امریکا سره د ایران زیاتېدونکی کړکېچ یو څو هغه بېلګې دي، چې په راتلونکي کې به زموږ پر هېواد یا بدې او یا هم ښې اغېزې وکړي.

له دې واراخوا، په افغانستان کې د ناامنیو زیاتېدنه، د جګړو ماهیت بدلېدل [په ښارونو کې پراخېدونکې جګړې او شمالي ولایتونو ته د جګړو او ډلو – په تېره بیا د دولت اسلامي یا داعش ډلې – انتقال]، د سولې پروسې پېچلي کېدل، د داخلي منابعو کمبود او پر بهرنیو مرستو د هېواد تکیه، د قوي رهبرۍ تشه، د پراخو ملي سیاسي ډلو او ټولمنلیو مشرانو نه شتون، او د افغانستان د سولې پر پروسې او امنیت د سیمه‌ییزو هېوادونو د خپل منځیو اړیکو اغېزې یو له هغو څو مواردو دي، چې افغانستان به یې له کبله ونه شي کولای په دې اوسنیو او راتلونکو سیاسي جغرافیاوي لوبو کې روانه لوبه په خپله ګټه روانه کړي.

په داسې یو مهال کې، چې د سیمه‌ییزو او نړېوالو سیاستونو جغرافیه او لوري د بدلېدلو پر لور روان دي، افغانستان لا خپلو ناامنیو او بې ثباتیو ته کومه حل‌لاره نه ده موندلې او نه یې هم په سیاسي، اقتصادي،

حکومتولي او امنيتي برخو کې پراخې او شته ننګونې له منځه وړي؛ دغه حالت د تېنک ټانکونو يعنې د فکر مرکزونو او څېړنيزو مرکزونو ارزښت زياتوي، بلکې داسې وضعيت له دوی دا تقاضا هم کوي، چې د خپلو سپارښتنو او غوره حل‌لارو له لارې له پالیسی جوړوونکو سره مرستندوی واقع شي.

له بده مرغه په افغانستان کې تر ډېره پربکړې یوازې د بندو دروازو تر شا کېږي. د خلکو مشارکت او مشورې پکې ډېر کم ځای لري او په دغو کې د ستراتېژيکو مرکزونو ونډه هم له نشت سره برابره وي. د پربکړو په بهير کې د ستراتېژيکو مرکزونو صفر ونډه په عمده توګه د دوو لاملونو له کبله ده: لومړی، په اکاډميکو مرکزونو کې د تصميم نيوونکو کمه لېوالتيا. دويم؛ په خپله د اکاډميکو او ستراتېژيکو مرکزونو د نشراتو او خپرونو ضعف او نيمګړتياوې.

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز هم له همدې ځايه دا هڅه کوي، چې له يوې خوا د اکاډميکو، فکر مرکزونو او د پربکړو نيوونکو ترمنځ دغه واټن راکم کړي او له بلې خوا د دغو مرکزونو نشرات، تحليلونه او سپارښتنې د معياري کېدو او پیاوړي کېدو پر لور بوځي، څو پربکړه نيوونکي او پر پربکړو اغېزه لرونکي ترې ګټه واخلي. په همدې تړاو دغه شپږ مياشتينی ژورنال يا مجله د مرکز د هڅو يوه بېلګه ده.

په مجموعي توګه د تحليل ژورنال په اوسنۍ ګڼه کې له بهرني سياست څخه نيولې تر اقتصادي ننګونو، سيمه‌ييزو اړيکو، ښاري پراختيا، سولې، امنيت او اسلامېزم يا اسلامپالنې تر موضوعاتو پورې ليکنې/مقالې راغلي دي. خو په مشخصه توګه دا ژورنال درې برخې لري:

په لومړۍ برخه کې د افغانستان‌پېژندنې په تړاو موضوعات راغلي، چې د هېواد د سياسي، اقتصادي، او اجتماعي برخو په تړاو پکې د څېړونکو او متخصصينو مقالې خپرې شوي دي. دويمه برخه بيا سيمې، او سيمه‌ييزو او نړېوالو قضيو ته ځانګړې شوې، چې په دې برخه کې هم، هغه مقالې خپرې شوي، چې ارزښت يې تر ټولو ډېر او پر افغانستان يې اغېزې جوتې وي. په وروستۍ برخه کې فکري بحثونه شوي، چې په دې کې بيا د اسلامي ثقافت مضمون، د سياسي اسلام د ناکامۍ او د منځلاري اسلام په تړاو بحثونه شامل دي.

په پای کې موږ له ټولو هغو ليکوالانو او څېړونکو د زړه له کومې مننه کوو، چې د تحليل ژورنال اوسنۍ ګڼه يې په خپلو ارزښتناکو ليکنو ونازوله، او وخت ناوخت يې زموږ پوښتنو کروېږنو ته په سړه سينه ځوابونه وويل. دغه راز هيله لرو، چې دوی به له تحليل ژورنال سره خپله قلمي همکاري تلپاتې وساتي او داسې به د هېواد په دولت-جوړونه کې مرستندويه واقع شي.

د دې ترڅنګ، د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز پټېلې، چې د تحلیل ژورنال راتلونکې ګڼه د خپلواکۍ د بېرته اخیستلو سلمې کالیزې ته ځانګړې کړي. له همدې ځایه موږ د ټولو هغو اکاډمیکو، څېړونکو او متخصصینو څېړنیزو مقالو ته سترګې په لاره یو، چې په دې درېیو برخو – افغانستان پېژندنه، سیمه او نړۍ، فکري بحثونه – کې مقالې لیکي او ترڅنګ یې د کتابونو مخکتنې هم ترسره کوي. که څه هم موږ په دې ګڼه کې ونه شوای کولای، چې د کتابونو مخکتنې وکړو خو په راروانو ګڼو کې د څېړونکو او تحلیلګرانو له داسې لیکنو هرکلی کوو. موږ به د تحلیل ژورنال په راتلونکې ځانګړې ګڼه کې د پورته درېیو برخو په ګډون د لاندې مشخصو موضوعاتو په تړاو د څېړونکو له مقالو هرکلی وکړو، چې د ۱۹۱۹-۲۰۱۹ دورې په تړاو وي:

- امنیت او سوله؛
- د افغانستان تاریخ؛
- د افغانستان اقتصاد؛ سیمه‌ییز نښلون؛ ترانزیټ او سوداګري؛ او حکومتولي...
- د افغانستان سیاسي ډلې؛ یا بېلابېل نظامونه لکه اسلامپالي، دېموکراسي، کمونېزم؛
- د افغانستان بهرنی سیاست؛ له بهرنی نړۍ – په تېره بیا له سیمه‌ییزو او اسلامي نړۍ – سره اړیکې؛
- افغان-انګلیس درېیمه جګړه؛ افغان-شوروي جګړه؛ افغان-امریکا جګړه؛
- کلتور او ټولنه؛ کډوالي؛
- ادبیات او رسنۍ؛
- نړېوال قانون او نور....

موږ هیله لرو، چې د تحلیل دغه ژورنال به د هېواد په علمي ډګر کې تشې ډکې، د لوستونکو تنده ماته، د دولت-جوړونې په بهیر او په اوسني بد وضعیت کې د ستونزو د اواري او حل‌لارو په موندلو کې مرستندوی واقع شي.

په درناوي

**احمد بلال خلیل**

د تحلیل ژورنال مسؤل مدیر

# افغانستان پیژندنه

# د سودګرای په نړیوال سازمان کې د افغانستان غړیتوب: یوه حقوقي ارزونه

## اکرام الدین کامل[1]

***لنډیز***

*افغانستان په ۲۰۱۵ز کال کې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړیتوب په اخیستلو د نوموړي سازمان ۱۶۴م غړی شو.*

*د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق تر نورو سازمانونو توپیر لري. هېوادونه مکلف دي چې په دې سازمان کې د غړیتوب د ترلاسه کولو لپاره اوږده مذاکرات وکړي او د اصلي غړو په پرتله اضافه او سخت اصول قبول کړي. دغه اضافي اصول د هر هېواد د الحاق په پروتوکول کې ذکر شوي او د سازمان د هوکړه لیک بشپړوونکې برخې ګرځي. البته د الحاق د پروتوکول حقوقي وضعیت لا هم څرګند نه دی. مذاکرات عموماً دوه اړخیز، څو اړخیز او ګڼ اړخیز کېږي. افغانستان له دې سازمان سره ۱۲ کلونه مذاکرات وکړل چې په دې لړ کې یې ډېر اضافي او سخت اصول هم پر ځان ومنل او هم یې ډېرې ژمنې وکړې چې د کاري ډلې په راپور کې یې په تفصیل سره یادونه شوې ده.*

*دا مقاله په عمده توګه درې پوښتنې ځوابوي: لومړی دا چې هېوادونه څه ډول سازمان ته الحاق کوي؟ دویم، د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړیتوب له ترلاسه کولو سره افغانستان څه ډول حقوق و وجایب لري؟ درېیم دا چې سازمان ته له الحاق سره افغانستان تر اوسه په خپلو قوانینو او پالیسیو کې کوم بدلونونه راوستي دي؟*

***کیلي: افغانستان، سوداګري، د نړیوال سوداګرۍ سازمان، په نړیوال سوداګرۍ سازمان کې الحاق***

---

[1] اکرام الدین کامل د جنوبي اسیا پوهنتون (South Asian University) – دهلي کې د حقوقو په برخه کې دکتورا کوي. تر دې وړاندې یې له همدې پوهنتون څخه په نړیوالو حقوقو کې ماستري کړې. ښاغلی کامل د سوداګرۍ په نړیوالو قوانینو کې تخصص لري.

## سریزه

د دویمې نړېوالې جګړې وروسته پر دې فکر کېده چې د «برېټن ووډز» سېستم د دوو سازمانونو یعنې نړېوال بانک (International Bank for Reconstruction and Development) او د پېسو نړېوال صندوق (International Monitory Fund) سره یوځای درېیم داسې سازمان تأسیس کړي چې نړېوال تجارت او اقتصاد اداره کړي.

د نړېوال بانک او د پېسو نړېوال صندوق تر تأسیس وروسته، له پنځوسو زیاتو هېوادونو پر دې خبرې اترې پیل کړې، څو د ملګرو ملتونو د یوې څانګې او متخصصې ادارې په توګه د سوداګرۍ نړېوال سازمان (International Trade Organization) تأسیس کړي. خو دا مذاکرات د څو لاملونو له کبله بریالي نه شول. لومړی لامل یې دا و، چې د سازمان د منشور په مسوده کې د نړېوالې سوداګرۍ د اصولو او سېستم څخه ډېر لرې اصول ځای پر ځای شوي وو، چې دا بیا هېوادونو ته د منلو وړ نه وو[2]. دویم اساسي لامل یې د امریکا د متحده ایالتونو د کانګرس لخوا د دغه منشور عدم تایید و. که څه هم نورو هېوادونو د امریکا پرته دغه مذکرات پر مخ وړای شول، خو هغه مهال امریکا په نړۍ کې تر ټولو ځواکمن اقتصادي هېواد و، د دویمې نړېوالې جګړې څخه روغ رمټ وتی و او له همدې کبله هېڅ یو هېواد نه غوښتل چې له امریکا پرته په دغه سازمان کې غړیتوب واخلي.[3]

دویمې نړېوالې جګړې د ډېرې هېوادونو اقتصاد له پښو وغورځاوه، له همدې امله ۱۵ هېوادونو په دې موخه چې خپل اقتصاد یو ځل بیا پر خپلو پښو ودروي، د ۱۹۴۵ز کال په دسمبر کې د تعرفو د کمولو لپاره مذاکرات پیل کړل. دغو مذاکراتو نېږدې دوو کلونو وخت ونیوه او په پای کې ۲۳ هېوادونو په جنیوا کې د سوداګرۍ او تعرفو اړوند عمومي هوکړه لیک[4] (General Agreement on Tariffs and Trade) یا ګاټ لاسلیک کړ. د

---

[2] World Trade Organization, *Understanding the WTO* (World Trade Organization Information and External Relations Division 2015) 15.

[3] John Howard Jackson, *The World Trading System: Law and Policy of International Economic Relations* (Massachusetts: Massachusetts Institute of Technology Press 1997) 38.

[4] د لوستونکو د وضاحت او د معاهدې او هوکړه لیک تر منځ د توپیر روښانه کولو په تړاو یادونه کوو، چې نړېوال هوکړه لیک دوه اړخیز یا څو اړخیز توافق دی، چې په لیکلې توګه په اقتصادي، کلتوري او علمي برخو کې د دولتونو تر منځ منعقد کېږي. په بل اړخ

۱۹۴۷ز کال گاټ هوکړه لیک تر ۱۹۹۴ز کال پورې دوام وکړ او وروسته یې ځای د سوداګرۍ نړیوال سازمان او د ۱۹۹۴ز کال ګاټ ونیوه.

د ۱۹۴۷ز کال څخه تر ۱۹۹۴ز کال پورې د ګاټ غړو څو ځله د تعرفو د کمولو او د سوداګرۍ اړوندو مسایلو په اړه خبرو اترو ته کښېناستل. مثلاً د کینډي په خبرو اترو کې چې د ۱۹٦۴-۱۹٦۷ز کلونو تر منځ وشوې، د ګاټ غړو هېوادونو پکې د ډمپینګ ضد پر هوکړې موافقه وکړه او د ټوکیو په مذاکراتو کې چې د ۱۹۷۳-۱۹۷۹ز کلونو ترمنځ وشول، په دې تړاو یې هڅې وکړې چې پر یو شمېر توکو (Goods) تعرفې نورې هم کمې کړي. د ټوکیو په خبرو اترو کې غړو هېوادونو د (Agreement on Implementation of the General Agreement on Tariffs and Trade) په نوم هوکړه لیک هم تصویب کړ. دغه هوکړه لیک د ډمپینګ ضد مقررې (Anti-Dumping Regulations 1979) په نامه هم یادېږي.[5]

ورپسې د اوروګوای [د ځای نوم دی] خبرې اترې په ۱۹۸٦ز کال کې پیل شوې. که څه هم دغو خبرو اترو کابو اته (۸) کلونه وخت ونیوه؛ خو د سوداګرۍ اړوند یې د نړیوالو قوانینو په جوړولو کې یو انقلابي بدلون راووست. د سوداګرۍ نړیوال سازمان World Trade Organization (وروسته: سازمان یا سوداګرۍ نړیوال سازمان) اړوند نېږدې ۸۰ سلنه سوداګریز نړیوال هوکړه لیکونه د دغو خبرو اترو په پایله کې منځ ته راغلل.[6]

افغانستان بیا نه د ګاټ پر هوکړه‌لیک لاسلیک کړی و او نه هم د اوروګوای د خبرو اترو برخه و. د سازمان د تأسیس ۹ کلونه وروسته، افغانستان د غړیتوب لپاره رسمي غوښتنه وکړه او د ۱۲ کلونو له سختو مذاکراتو وروسته، او د سوداګرۍ اړوند په پالیسیو او قوانینو کې د سازمان له غوښتنو سره سم تر بدلونونو راوستلو وروسته، د ۲۰۱۵ز کال په دسمبر کې د سازمان غړی شو.

## د څېړنې پوښتنې

دا څېړنه درېیو پوښتنو ته ځواب ورکوي. لومړۍ دا چې هېوادونه څه ډول د سوداګرۍ نړیوال سازمان ته الحاق کوي؟ دویم، د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړیتوب له ترلاسه کولو سره افغانستان کوم حقوق و

---

کې معاهده بیا هغه توافق دی چې د دولتونو ترمنځ په سیاسي او نظامي برخو کې په لیکلې توګه منعقدیږي. د سوداګرۍ نړیوال سازمان چې یو اقتصادي او تجارتي سازمان دی له همدې کبله یې ټول تړونونه د هوکړه لیکونو په نامه یادېږي.

[5] Terence P Stewart, *The GATT Uruguay Round: A Negotiating History (1986-1992)* (Vol. 2 Kluwer law and taxation Publishers 1993) 84.

[6] WTO (n 1) 9.

وجایب لري؟ درېیم دا چې سازمان ته د الحاق پرمهال او له الحاق وروسته، افغانستان تر اوسه په خپلو قوانینو او پالیسیو کې څه بدلونونه راوړي دي؟

د همدې پوښتنو د ځوابولو لپاره دغه مقاله په لومړۍ برخه کې د سوداگرۍ نړېوال سازمان ته د هېوادونو الحاق، د الحاق د پروتوکولونو حقوقي ماهیت، WTO-Plus او WTO-Minus وجایب او سوداگرۍ نړېوال سازمان ته د الحاق لپاره د افغانستان تجربه په لنډه توگه تحلیلوي. په وروستېو برخو کې بیا په دغه سازمان کې د افغانستان له غړیتوب سره د هېواد حقوق و وجایب او د افغانستان په قوانینو کې د بدلونونو په اړه بحث شوی دی.

## 1. د سوداگرۍ نړېوال سازمان ته الحاق[7]

هېوادونه د سوداگرۍ نړېوال سازمان غړیتوب له دوو لارو ترلاسه کوي. لومړۍ؛ اصلي غړیتوب دی. دا هېوادونه د گاټ د تړون غړیتوب درلودونکي دي، چې د اوروگوای په خبرو اترو کې یې گډون کړی وو او په پایله کې د سازمان د تأسیس پر هوکړه لیک سره سلا شوي وو. دویم؛ غړیتوب د الحاق یا (Accession) له لارې اخیستل کېږي. هېوادونه یا ځانگړي گمرکي سیمې (Customs territories) بیا د سازمان د تأسیس اړوند د مراکش هوکړه لیک Marrakesh Agreement Establishing the World Trade Organization (وروسته: مراکش هوکړه لیک) د ۱۲مې مادې له مخې غړیتوب اخیستلای شي.

د مراکش هوکړه لیک ۱۲مه ماده د الحاق په اړه داسې صراحت کوي، چې هېوادونه یا ځانگړي گمرکي سیمې کولای شي چې دې موافقې ته په هغو شرایطو چې د غړیتوب غوښتونکي هېواد او د سازمان ترمنځ به پرې هوکړه کېږي، الحاق وکړي[8]. ۱۲مه ماده د سازمان غړو ته پراخ واکونه ورکړي او د نویو غړو هېوادونو برخلیک یې هم د برحاله یا اصلي غړو سره پر مذاکراتو تړلی دی. ځکه د سوداگرۍ نړېوال سازمان ته الحاق د خبرو اترو پروسه ده او له همدې کبله یوه پېچلې، ستونزمنه او ډېره وخت نیونکې ده[9]. غړیتوب غوښتونکی

[7] الحاق د accession مترادفه کلمه ده او په نړېوالو قوانینو کې accession هغه حالت ته وایي چې یو هېواد د یوې معاهدې یا سازمان له اصلي غړو څخه نه وي او غواړي چې د یادې معاهدې یا سازمان غړیتوب واخلي. دغه غړیتوب اخیستلو ته accession یا الحاق وایي.

[8] Marrakesh Agreement Establishing the World Trade Organization (15 April 1994) art. XII < https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%201867/volume-1867-A-31874-English.pdf >

[9] د بېلگې په توگه، افغانستان وروسته له ۱۲ کلونو مذاکراتو په دغه سازمان کې غړیتوب ترلاسه کړ. ځینې نور هېوادونه لکه ایران، عراق او نور له څو کلونو راهیسې پر مذاکراتو بوخت دي او تر اوسه یې غړیتوب نه دی ترلاسه کړی.

هېواد باید د خبرو اترو پر مهال د سازمان ټول اصول ومني او هم خپل ملي قوانین او پالیسۍ د سازمان له اصولو او هوکړه لیکونو سره سمې عیارې کړي. پر دې سربېره، نوی غړی هېواد مکلف دی چې ټولې هغه ژمنې پلي کړي چې د مذاکراتو پر مهال یې له سازمان سره کړې وي، هغه که د تعرفو کمول او یا د سوداګرۍ سازمان د نورو قوانینو پلي کول وي.

د سوداګرۍ نړېوال سازمان ته الحاق تر نورو نړېوالو سازمانونو بالکل جلا ده. نوموړی سازمان د نورو سازمانونو په پرتله بیلې ځانګړتیاوې لري چې یوه یې همدا ده چې نوي یوځای کېدونکي هېوادونه باید د اصلي غړو په پرتله اضافي او سخت اصول پر ځان ومني. دغه اضافي او سخت اصول بیا تر هر هېواد پورې ځانګړي وي. یعنې هر هېواد چې له دې سازمان سره یوځای کېږي او په دې لړ کې له غړو هېوادونو سره مذاکرات کوي، د دغو مذاکراتو پایلې یوازې پر همدې هېواد تطبیقېږي او نور ترې مستثناء دي[10]. تر دغه هېواد پورې ځانګړي شوي اصول بیا د هر هېواد د الحاق په پروتوکول کې ذکر کېږي. د الحاق پروتوکول د یوځای کېدونکي هېواد او د سوداګرۍ نړېوال سازمان ترمنځ دوه اړخیزه هوکړه لیک وي.[11]

## a. د سوداګرۍ نړېوال سازمان هوکړه لیکونه پر ټولو هېوادونو یو ډول اصول وضع کړي

دا یو منل شوی حقیقت دی چې کله یو هېواد د سوداګرۍ نړېوال سازمان ته الحاق کوي، د اصلي غړو په پرتله باید ډېرې ستونزې وګالي او یو څه اضافي شرایط هم پر ځان ومني. دوی مجبور دي چې په موټر کې د کنښناستو اضافه کرایه هم ورکړي. د سوداګرۍ نړېوال سازمان بیا تر نورو عامو سازمانونو بېخي جلا ځانګړتیاوې لري، او ورته الحاق یو ستونزمن کار دی، خورا صبر، اوږده مذاکرات او ډېر وخت غواړي.[12]

---

[10] د بېلګې په توګه کومې ژمنې چې افغانستان له دې سازمان سره د مذاکراتو پر مهال کوي، یوازې افغانستان یې پر تطبیقولو مکلف دی. ځکه دا ژمنې یا تعهدات ټول تر یوه هېواد پورې ځانګړې وي. افغانستان شاید پر خدماتو خپلې تعرفې په اوسط ډول ۴۰ سلنې ته ښکته کړي خو یو بل لږ پرمختللی هېواد لکه نیپال یې شاید د مذاکراتو پر مهال یواځې ۷۰ سلنه ته ښکته کړي او سازمان ورسره پرې موافقه هم وکړي. په پایله کې به پر خدماتو د نیپال تعرفې ۷۰ سلنه وي او د افغانستان ۴۰ سلنه. دا په داسې حال کې ده، چې دواړو هېوادونو دغه سازمان ته الحاق کړی او دواړه لږ پرمختللي هېوادونه دي.

[11] Julia Ya Qin, 'Conundrum of WTO Accession Protocols: In Search of Legality and Legitimacy' (2014) 55 Virginia Journal of International Law 369, 372.

[12] Antonio Parenti, 'Accession to the World Trade Organization: A Legal Analysis' (2000) 27 Legal Issues of Economic Integration 141, 155.

د ۱۹۹۴ز کال د اوروګوای د خبرو اترو په پای کې، اصلي غړو د سوداګرۍ نړېوال سازمان پر تاسیس موافقه وکړه چې د معاهدې له تصویبېدو سره به غړي هېوادونه د ګاټ «غیر عادي حالت» ته د پای ټکی کېږدي.[13] د لومړي ځل لپاره د نړېوالې سوداګرۍ رژیم د یوه رسمي نړېوال سازمان بڼه خپله کړه. د مراکش موافقې؛ سازمان ته حقوقي شخصیت ورکړ او د سازمان د چارو د ترسره کولو لپاره غړیتوب درلودونکي هېواد ته حقوقي صلاحیت ورکړلای شو.[14] د ګاټ غړي هېوادونه د مراکش د موافقې له مخې د  سازمان اصلي غړي شول او د مراکش هوکړه لیک د سوداګرۍ نړېوال سازمان تأسیسوونکې معاهده شوه چې د غړو هېوادونو تر منځ یې د سوداګریزو اړیکو د تنظیم لپاره یو ګډ بنسټیز چوکاټ برابر کړ.[15]

د مراکش موافقې له مخې هېوادونه اړ دي چې د سازمان اړوندې ټولې معاهدې په یوځایي ومني.[16] دې اصل د ګاټ مات شوی جوړښت ته هم د پای ټکی کېښود، او یو ډول اصول یې پر ټولو اصلي غړو هېوادونو وضع کړل. یعنې د سازمان غړي مکلف دي چې ټول هوکړه لیکونه په یوځایي تصویب او تطبیق کړي، داسې نه شي کېدای چې هېوادونه د سازمان ځینې هوکړه لیکونه تصویب کړي او د ځینو نورو له تصویبه تېر شي یا هم د ځینو اصولو له منلو انکار وکړي. هېوادونه اړ دي چې د سازمان ټولې موافقې؛ د یوه پېکیج [بستې] په توګه ومني او تصویب یې کړي.

د مراکش هوکړه لیک همدا راز د نورو ټولو هغو معاهدو لپاره چې د اوروګوای د خبرو اترو په ترڅ کې پرې غړو هېوادونو هوکړه کړې وه، د یوې چترۍ ارزښت لري. یاد هوکړه لیک څلور ضمیمې لري چې له منځه یې لومړۍ، دویمه او درېیمه ضمیمه د سوداګرۍ نړېوال سازمان د موافقې نه بېلیدونکې موافقې دي او پر ټولو

---

[13] ګاټ یوه معاهده  [هوکړه لیک] وه چې د نړېوالې سوداګرۍ لپاره یې اصول وضع کړل، دې معاهدې کوم ځانګړی سازمان نه دی تاسیس کړی. البته هېوادونو د ګاټ معاهدې پر اړوندو مسایلو بحث او پر ځینو سوداګریزو چارو د مذاکراتو لپاره یو دایمي سکرتریت ته اړتیا درلوده، څو هلته همېشه راټول شي او د معاهدې اړوندې چارې پر مخ یوسي چې وروسته یو موقت سازمان چې حقوقي وضعیت یې تر پایه پورې مبهم و تاسیس شو. دغه موقت سازمان تقریباً پنځه لسیزې دوام وکړ چې وروسته یې ځای د سوداګرۍ نړېوال سازمان ونیوه. د ګاټ هوکړه لیک د سوداګرۍ نړېوال سازمان تر ۲۰ زیاتو هوکړه لیکونو برخه شوه چې تر دې دمه نافذ دي.

[14] Marrakesh Agreement Establishing the World Trade Organization (15 April 1994) art. VIII < https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%201867/volume-1867-A-31874-English.pdf >

[15] ibid art. II.

[16] د سوداګرۍ نړېوال سازمان اصول دا دي چې باید ټول هېوادونه د دغه سازمان ټولې معاهدې  [هوکړه لیکونه] په یو وار ومني. د مراکش موافقې ۱۶مې مادې؛ ان پر دغو معاهدو [هوکړه لیکونو] تحفظات یا ملاحظات هم منع کړي او غړي هېوادونه پرته له هغه چې معاهدې اجازه ورکړې وي، نه شي کولای چې د سازمان اړوندو معاهدو پر ځینو مادو کې خپل تحفظات وړاندې کړي. هېوادونه اړ دي چې ټولې معاهدې او ټول اصول په یو وار ومني.

هېوادونو تطبيقېږي. هېوادونه بايد دا معاهدې ټولې په يوځاى تصويب او د معاهدې له اصولو سره سم تطبيق کړي. په څلورمه ضميمه کې بيا داسې موافقې دي چې يوازې پر هغو هېوادونو يې پلي کول اړين دي چې دا موافقې تصويب کړي؛ او نورو هېوادونو چې دا موافقې يې منلي نه وي، هغوی ته کوم وجايب نه ايجادوي.[17]

سازمان د قوانينو د يو شان کولو او پر ټولو يې د يو ډول تطبيقولو په موخه په عمومي ډول تحفظاتو (Reservations) ته اجازه نه ورکوي، پرته له هغه حالته چې په يوه ځانګړي هوکړه ليک کې ورته اجازه ورکړل شوې وي.

## b. د مراکش هوکړه ليک پر ۱۲مې مادې نېوکې

د سوداګرۍ نړېوال سازمان ته الحاق د مراکش هوکړه ليک د ۱۲مې مادې له مخې تنظيمېږي. ۱۲مه ماده له دې کبله چې برحاله غړو ته يې ډېر واک ورکړی په پراخه توګه نقد شوې ده. خو په عمومي توګه پر دې مادې درې نيوکې کېږي:

**لومړی:** د مراکش هوکړه ليک له اصلي غړو سره نرم او د هغوی په خوښه چلند کوي، او همدوی ته ډېر ګټور هم دی؛ خو له نويو الحاق کېدونکو هېوادونو سره بيا سخت چلند کوي؛ ځکه دا هېوادونه اړ دي چې سخت اصول او وجايب ومني. بېلګه يې موږ وړاندې (وګورئ: ۸ او ۹ لمنليکونه) ياده کړه چې د اصلي غړو bound

[17] Marrakesh Agreement Establishing the World Trade Organization (15 April 1994) art. II < https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%201867/volume-1867-A-31874-English.pdf >.

د مراکش موافقه څلور ضميمې لري او هرې ضميمې لاندې بيا مختلف معاهدات دي. لومړنۍ ضميمه يې بيا درې نور اقسام لري: ۱ الف يې ګڼ ملتيز معاهدې دي چې د توکو سوداګري تنظيموي. د توکو سوداګرۍ د تنظيم اړوند بيا ۱۳ هوکړه ليکونه دي چې په لاندې ډول دي:

۱. ګاټ هوکړه ليک؛ ۲. د کرنې هوکړه ليک؛ ۳. د حيواناتو او نباتاتو د روغتيا په اړه د تدابيرو هوکړه ليک؛ ۴. د نساجي او ټوکر هوکړه ليک؛ ۵. سوداګرۍ ته د تخنيکي خنډونو هوکړه ليک؛ ٦. د سوداګرۍ اړوند پانګونې تدابيرو هوکړه ليک؛ ۷. د ګاټ ۱۹۹۴ معاهدې د ٦مې مادې د اجرا هوکړه ليک؛ ۸. د ګاټ ۱۹۹۴ معاهدې د ۷مې مادې د اجرا کولو هوکړه ليک؛ ۹. د توکو د حمل څخه وړاندې د تفتيش هوکړه ليک؛ ۱۰. د منشاء مقرراتو هوکړه ليک؛ ۱۱. د توکو د واردولو د لايسنس پروسيجرونو هوکړه ليک؛ ۱۲. د سبسيډي او تعويضي تدابيرو هوکړه ليک او د ۱۳. حفاظت يا خونديتوب هوکړه ليک.

۱ ب يې د خدماتو اړوند سوداګرۍ هوکړه ليک ده؛ ۱ ج يې د معنوي ملکيت اړوند سوداګري هوکړه ليک ده چې د TRIPS په نوم هم يادېږي. دوهم ضميمه کې د شخړو د حل و فصل اصول او پروسيجرونه دي. دريمه ضميمه د سوداګرۍ اړوند پاليسۍ د بياکتنې ميکانيزم دی. څلورمه ضميمه يې څو اړخيزې سوداګريزې معاهدې دي (Plurilateral Trade Agreements) چې پر ټولو هېوادونو نه تطبيقېږي او يواځې هغه هېوادونه يې پر تطبيق مکلف دي چې د دغو معاهدو غړيتوب ولري. دا په لاندې ډول دي:

۱. د ملکي الوتکو د سوداګرۍ هوکړه ليک؛ ۲. د دولتي تدارکاتو هوکړه ليک؛ ۳. د لبنياتو نړېواله هوکړه ليک او ۴. د غوا د غوښې نړېواله هوکړه ليک.

tariff یا د تعرفو اعظمي حد په ډېرو مواردو کې تر الحاق کېدونکو هېوادونو دوه او درې ځله (چنده) زیات وي؛ خو الحاق کېدونکي هېوادونه تر هغه د سازمان غړيتوب نه شي اخيستلای، څو د برحاله غړو د خوښې تعرفې ونه مني.[18]

**دويم:** د الحاق کېدونکي هېواد اړوند ځانګړي اصول country specific rules د سوداګرۍ نړېوال سازمان په موافقې کې شته حقوق و وجایب تعدیلوي او دا بيا د ياد سازمان د يوه مهم اصل «له تبعيض څخه لېريتوب» او «د تر ټولو مطلوب ملت» Most Favored Nations (MFN) يا «دولة کامله الوداد» نقض دی[19]. د دغه اصل موخه دا ده چې د غړو هېوادونو ترمنځ يو ډول چلند وشي او له هېڅ سره په تجارتي راکړه-ورکړه کې تبعيض ونه شي. که فرضاً د الحاق په پروتوکول کې، د مراکش هوکړه ليک کې، له شته وجايبو څخه اضافه نور وجايب پر نوي يوځای کېدونکي هېواد ومنل شي، او د سازمان نور غړي يې پر منلو مکلف نه وي، دا د غړو هېوادونو ترمنځ تبعيض ته لاره هواره وي. مثلاً که لږ پرمختللي هېوادونه چې د سازمان اصلي غړي دي، تر ۲۰۳۱ز کال پورې د TRIPS هوکړه ليک د ځينو مادو پر رعايت مکلف نه دي، خو افغانستان چې لږ پرمختللی هېواد هم دی، مکلف دی چې تر ۲۰۱۹ز کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې ټول قوانين او پاليسۍ د TRIPS موافقې سره سمې عياري کړي او ياد هوکړه ليک پلي کړي. دلته د افغانستان اړوند ځانګړی اصول د سوداګرۍ نړېوال سازمان د عدم تبعيض اصل نقضوي.

**درېيم:** د سوداګرۍ نړېوال سازمان د ۱۲مې مادې لومړۍ پاراګراف، پرته له دې چې کوم محدوديت وضع کړي، پر دې ټينګار کوي چې د نويو غړو د الحاق اصول و شرايط به د اصلي غړو او الحاق کېدونکي هېواد ترمنځ فيصله کېږي. د دې مادې پراخه عبارت، برحاله غړو هېوادونو ته اجازه ورکوي چې پر نوي يوځای کېدونکي هېواد داسې اصول و وجايب ومني چې د ګاټ د معاهدې پر اصولو سخت او اضافه وي.[20]

## c. د WTO plus او WTO minus وجايب

د سوداګرۍ نړېوال سازمان د ۱۲مې مادې عبارت خورا پراخه دی او د الحاق واک ټول برحاله غړو ته ورکړل شوی دی. دوی له نوي يوځای کېدونکي هېواد سره مذاکرات کوي او کوښښ کوي چې اضافي شرايط پرې ومني. بل د ۱۲مې مادې عبارت دا نه ده ځانګړې کړې چې له نوي يوځای کېدونکي غړي څخه به تر کومه

---

[18]مثلاً: هند او پاکستان د اصلي غړو په توګه په ځينو توکو ان تر ۳۰۰ سلنه پورې تعرفوي اعظمي حد bound tariff لري خو د افغانستان بيا پر همدې توکو تر ۱۰۰ سلنه اضافه تعرفه نشته دی. دوی ټول د سازمان غړي دي؛ خو ان تر ۳۰۰ سلنو پورې پر يو توکي تعرفه وضع کولای شي او بل نوی يوځای کېدونکی هېواد بيا تر ۱۰۰ سلنو پورې اضافه تعرفه نشي وضع کولای.

[19] Qin (n 10) 401.

[20] ibid 389.

حده ژمنې اخیستل کېدای شي. یعنې د ژمنو لپاره کوم حد نه دی ټاکل شوی. دغه ابهام او پېچلتوب د الحاق ټوله پروسه د اصولو د رعایتولو پر ځای سخته مذاکراتي کړې ده.[21] هېوادونه باید د مذاکراتو پر مهال نه یوازې دا چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان ټول هوکړه لیکونه ومني، بلکې له برحاله غړو سره په ډېرو مواردو کې اوږدمهاله مذاکرات وکړي، څو اضافي وجایب قبول کړي او له ځینو حقونو چې برحاله غړي یې لري، څخه تېر شي. کله چې یو هېواد د سوداګرۍ نړیوال سازمان د هوکړه لیکونو سربېره اضافي وجایب مني، دې ته WTO plus obligations وايي. د بېلګې په توګه پر وارداتو تعرفې ښکته کول، د دولتي ادارو او شرکتونو شخصي کول او داسې نور. خو که نوی یوځای کېدونکی هېواد له یو حق څخه چې برحاله غړو ته ورکړل شوی وي او دی ترې د مذاکراتو پر مهال تېرېږي، دغه ته WTO minus obligations وايي. یعنې نوی یوځای کیدونکی هېواد د سازمان په هوکړه لیکونو کې ورکړل شوي شته حقونه له ځانه نفي کوي. مثلاً برحاله غړو ته په ډېرو مواردو کې د سازمان د هوکړه لیکونو سره د قوانینو او پالیسیو عیارولو لپاره انتقالي موده ورکول کېږي، دغه موده نوي یوځای کېدونکي هېواد ته نه ورکول کېږي. لږ پرمختللي برحاله هېوادونه د TRIPS موافقې سره د قوانینو د مطابقت لپاره تر ۲۰۳۳ز کال پورې وخت لري او شاید وروسته نور هم تمدید شي، خو افغانستان چې له سازمان سره نوی یوځای کېدونکی هېواد و، سره له دې چې لږ پرمختللی هېواد هم دی، انتقالي موده یې تر ۲۰۱۹ز کال د جنورۍ میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې ورکړل شوې ده. دلته افغانستان د لږ پرمختللي هېواد په توګه له خپل یوه حق څخه تېر شو او اضافه مسوولیت یې واخیست چې دې مسوولیت ته WTO minus obligations وايي.[22] همدا راز نوي یوځای کېدونکي هېوادونه د اصلي غړو هېوادونو په پرتله باید په توکو او خدماتو څو چنده اضافه تعرفې ښکته کړي. د WTO plus او WTO minus وجایبو ناقدین وايي چې یاد وجایب پرمختللي هېوادونه د نویو یوځای کېدونکو هېوادونو پر ضد د آلې په توګه کاروي، څو د نوي یوځای کېدونکو هېوادونو په مقابل کې خپلې ګټې خوندي کړي.[23]

[21] Jolita Butkeviciene, Michiko Hayashi, Victor Ognivtsev & Tokio Yamaoka, *Terms of WTO Accession, in WTO Accession and Development Policies* (THE PUBLISHER, UNCTD 2001) 155.

[22] دویم مثال: د کرنې هوکړه لیک Agreement on Agriculture برحاله یا اصلي اعضاو ته د سبسېډۍ د کمولو لپاره یو حد ټاکلی و. مثلاً لږ پرمختللي هېوادونه مجبور نه وو چې دهقانانو ته د کرنې په برخه کې موجوده سبسېډۍ ختمه کړي او همدا راز مخ پر ودې هېوادونو تر یوه حده د سبسېډۍ د کمولو تعهد کړی و او د دې لپاره لس کلونه وخت هم ورکړای شو. خو نوي یوځای کېدونکي هېوادونه بیا مجبور دي چې صادراتي سبسېډۍ صفر او نوره سبسېډۍ هم تر ډېره راښکته کړي. همدا راز دغه انتقالي موده چې لس کلونه ده، نه ورکول کېږي، دوی مجبور دي چې له الحاق سره هر څه یوځایي ومني.

[23] Nhan Nguyen, 'WTO Accession at Any Cost-Examining the Use of WTO-Plus and WTO-Minus Obligations for Least Developed Country Applicants' (2008) 22 Temple International and Comparative Law Journal 243, 259; Julia Ya Qin 'WTO-Plus obligations and Their Implications for the World Trade Organization Legal System' (2003) 37 (3) Journal of World Trade 483, 510-511.

### a. په لنډه توګه د الحاق پروسه

د سوداګرۍ نړېوال سازمان ته الحاق د یوه رسمي غوښتنلیک په وړاندې کولو سره پیلېږي، کله چې دغه غوښتنلیک سازمان ومني، نو ورسره کاري ګروپ (Working Party) د سازمان لخوا تأسیسېږي. په دغه ګروپ کې د سازمان هر غړی هېواد کولای شي ګډون وکړي. د کاري ګروپ کارونه بیا پر درېیو پړاوونو وېشل شوي. لومړی پړاو یې حقیقت موندنه (Fact-Finding) ده. په دې پړاو کې کاري ګروپ له عارض هېواد څخه د سوداګریز رژیم په اړه معلومات غواړي. د دې موخه دا ده چې کاري ګروپ د عارض هېواد له پالیسیو او قوانینو خبر شي او د نورو مذاکراتو لپاره ورته لاره هواره شي. عارض هېواد کاري ګروپ ته د بهرنۍ سوداګرۍ د رژیم په اړه یادښت (Memorandum of the Foreign Trade Regime)، ملاتړي اسناد او د سازمان د غړو پوښتنو ته ځوابونه ورکوي.

دویم پړاو د خبرو اترو دی، چې هم په ګڼ اړخیزه (Multi-lateral)، څو اړخیزه (Plurilateral) او دوه اړخیزه (Bilateral) کچه ترسره کېږي. عارض هېواد په دې پړاو کې له سازمان سره د کرنې ملاتړ، صادراتي سبسېډي او د توکو او خدماتو لپاره بازار ته پر لاسرسي بحث کوي. د سوداګرۍ نړېوال سازمان هر غړی د زراعت په ملاتړ، د صادراتو سبسېډي، تعرفو او خدماتو په اړه ژمنې کوي، او دغه راز دغه هېوادونه له عارض هېواده دا هم غواړي چې ورته ژمنې وکړي او خپل ملي قوانین او پالیسۍ د دغه سازمان له قوانینو سره سمې عیارې کړي. د معنوي ملکیت پر حقوقو، د توکو او خدماتو په اړه پر عمومي اصولو ګڼ اړخیز مذاکرات کېږي. د زراعت پر ملاتړ او صادراتو سبسېډي بیا په څو اړخیزو مذاکراتو کې کېږي، یعنې له کاري ګروپ څخه یوازې هغه هېوادونه چې په دغو مذاکراتو کې لېوالتیا لري، برخه ګرځي، او بازار ته د لاسرسي مذاکرات بیا په دوه اړخیزه کچه ترسره کېږي. کله چې ګڼ اړخیز، څو اړخیز او دوه اړخیز مذاکرات پای ته ورسېږي، بیا وروستی پړاو پیل کېږي. کاري ګروپ خپل کارونه خلاصه کوي او راپور تهیه کوي. په راپور کې د ټولو هغو ژمنو لنډیز لیکل کېږي چې عارض هېواد د مذاکراتو پر مهال منلې وي او هم ورسره د الحاق پروتوکول ضمیمه کېږي.[24] د سوداګرۍ نړېوال سازمان غړي د خپلې پریکړې د تصویب پر مهال عارض هېواد ته د الحاق شروط وړاندې

[24] د الحاق په اړه نور تفصیل دلته لوستلای شئ:
Peter John Williams, *A Handbook on Accession to the WTO*, (Cambridge University Press 2008)

کوي، عارض هېواد دغه شروط د پروتوکول په لاسلیکولو سره تړول مني. د الحاق پروتوکول ۳۰ ورځې تر هغې وروسته نافذېږي چې د عارض هېواد پارلمان یا بله باصلاحیته اداره یې تصویب او توشیح کړي.[25]

## d. د سوداګرۍ له نړیوال سازمان سره د افغانستان الحاق

د ۲۰۱۵ز کال د دسمبر د میاشتې پر ۱۷مه د سوداګرۍ نړیوال سازمان د وزیرانو کنفرانس د رایو په اتفاق سره د افغانستان الحاق ومانه او په دا ډول د سازمان ۱٦۴م غړی شو. افغانستان دغه سفر تقریبا ۱۲ کلونه وړاندې د ۲۰۰۳ز کال د اپرېل په میاشت کې پېل کړی و. د افغانستان اسلامي انتقالي دولت په ۲۰۰۳ز کال کې د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې د غړیتوب ترلاسه کولو غوښتنه وکړه[26] خو هغه مهال یې غوښته رد یا له پامه وغورځول شوه. وروسته د ۲۰۰۴ز کال د نومبر د میاشتې پر ۲۱مه افغانستان یو ځل بیا له نوي غوښتنلیک سره عارض شو. افغانستان په خپل غوښتنلیک کې غوښتنه کړې وه چې سازمان دې د سوداګریزې ودې په ډګر کې له دوی سره مرسته وکړي او د دوی غوښتنې ته چې څومره ژر امکان لري رسیدګي وکړي.[27] د افغانستان د دولت له خوا د قېط او شرط پرته د غړیتوب له غوښتنې معلومېږي چې شاید هغه مهال افغان پلاوي په سازمان کې د غړیتوب په تړاو هر اړخیزه معلومات نه درلودل؛ ځکه یې له یوې مخې د سازمان له عمومي شورا او د وزیرانو له کنفرانس څخه د بلا قید غړیتوب غوښتنه وکړه.[28]

وروسته عمومي شورا د کاري ډلې (working party) د جوړلو لپاره هوکړه وکړه. د سازمان د کاري ډلې مسوولیت دا و، څو د سازمان د موافقې د ۱۲مې مادې سره سم، د افغانستان الحاق ارزیابي او په دې تړاو خپل پیشنهادونه عمومي شورا ته وړاندې کړي. عمومي شورا په همدې ورځ افغانستان په سازمان کې د ناظر په توګه ومانه. د کاري ډلې له جوړېدو سره سم، افغان حکومت د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو وزارت تر نظارت لاندې بین الوزارتي مذاکراتي او کاري ګروپ تاسیس کړ او همدا راز لس مسلکي کسان یې پر دنده وګمارل، څو په سازمان کې د افغانستان غړیتوب تعقیب کړي.

---

[25] د نورو جزئیاتو لپاره پورته مرجع 24-47 مخونه وګورئ.

[26] The Transitional Islamic State of Afghanistan Request for Accession Pursuant to Article XII (5 April 2003) WT/ACC/AFG/1

[27] The Islamic Republic of Afghanistan Request for Accession Pursuant to Article XII (2 December 2004) WT/ACC/AFG/2.

[28] Fazal Rahman Katawazai, 'Policy of Afghanistan towards WTO' (trs by author) (2008) Center for Strategic Studies, Ministry of Foreign Affairs of Afghanistan. (on file with author)

افغانستان تقریباً څلور کلونه مسلسل پر دې کار وکړ، څو د بهرنۍ سوداګرۍ رژیم جوړ او په ۲۰۰۹ز کال کې یې سازمان ته وړاندې کړي. د افغانستان د الحاق اړوندې کاري ډلې د سازمان له ټولو غړو وغوښتل چې د یوې میاشتې دننه دې، د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ رژیم اړوندې پوښتنې دې دوی ته وړاندې کړي. افغانستان د سازمان د غړو هېوادونو له خوا لومړنۍ پوښتنې ترلاسه کړې چې ډېری یې د اقتصادي پالیسیو، بهرنۍ سوداګرۍ، د هغو پالیسیو د جوړونې او اجرا لپاره چارچوکاټ یا فریمورک چې د توکو او خدماتو پر بهرنۍ سوداګرۍ یې اغېز درلود، د TRIPS، سوداګریزو هوکړه لیکونو او شفافیت په اړه وې چې افغانستان د ۲۰۱۰ز کال د جولای په میاشت کې د خپل سوداګریز رژیم په اړه لومړنیو پوښتنو ته په لیکلې بڼه ځوابونه ورکړل. د ۲۰۱۰ز کال د اکتوبر له میاشتې څخه د ۲۰۱۳ز کال تر اکتوبر میاشت پورې د سازمان غړو هېوادونو اته ځله بېلابېلې پوښتنې د افغانستان د سوداګریز رژیم په اړه وکړې او افغانستان ځواب کړې.[29]

دا پوښتنې عموماً د دې لپاره کېږي، څو هېوادونه د مقابل هېواد پر سوداګریزو قوانینو پوه شي، او هم یې د سازمان له هوکړه لیکونو سره تطابق او عدم تطابق معلوم کړي. او د عدم تطابق پر مهال له نوي یوځای کېدونکي هېواد څخه وغواړي چې په خپلو قوانینو او پالیسیو کې لازم بدلونونه راوړي. افغانستان د ۲۰۱۱-۲۰۱۵ز کلونو ترمنځ له کاري ډلې سره په جنیوا کې پنځه ځله ګڼ اړخیزه مذاکرات وکړل. د بازار موندنې لپاره یې د کاناډا، امریکا، اروپايي ټولنې، ترکیې، ناروې، جاپان، تایلېنډ، تایوان او جنوبي کوریا سره دوه اړخیزه مذاکرات وکړل.افغانستان د سازمان له غوښتنو سره سم، د سوداګریزو قوانینو جامع پلان له سازمان سره شریک کړ. د پلان له مخې افغانستان د سازمان د هوکړه لیکونو اړوند ۲۲ قوانین تصویب کړل او ۳۸ نورې مسودې (نوي قوانین او تعدیلات) یې پارلمان ته د تصویب لپاره وړاندې کړل (اوسمهال تقریباً دغه ټول قوانین تصویب او توشیح شوي دي او په هېواد کې نافذ دي).[30]

افغانستان همدا راز د مذاکراتو پر مهال ۱٦ توافقنامې بازار ته د لاسرسي په اړه وکړې چې ۹ یې د توکو[31] او ۷ یې د خدماتو[32] په اړه وې. همدا راز یې د تعرفو د کمولو په لړ کې پر ټولو تجارتي محصولاتو ۱۳٫۵سلنه اوسطه

[29] د سازمان د غړو سوالونه او د افغانستان ځوابونه ټول په لاندې لینک کې موجود دي:
<https://www.wto.org/english/thewto_e/acc_e/a1_afghanistan_e.htm> accessed 1 July 2019.

[30] هغه قوانین چې افغانستان تصویب کړي یا یې مسودې تیارې کړي د سازمان په لاندې نمبرونو اسنادو کې لوستلای شئ:
WT/ACC/AFG/5/Add.1 (27 July 2010); WT/ACC/AFG/9 (28 October 2011); WT/ACC/AFG/30 (15 July 2013).

[31] د توکو اړوند بازار ته د لاسرسي دوه اړخیزه هوکړه لیکونه د کاناډا، اروپايي اتحادیې، جاپان، کوریا، ناروې، چینایي تایپې، تایلنډ، ترکیې او د امریکا متحده ایالتونو سره وې.

تعرفه، پر زراعتي محصولاتو يې په اوسط ډول ۳۳،٦ سلنه او په غير-زراعتي محصولاتو يې په اوسط ډول ۱۰،۳سلنه تعرفه وضع کړه. پر دې سربېره، افغانستان ژمنه وکړه چې سازمان ته له الحاق سره به د معلوماتي ټکنالوژۍ هوکړه ليک ته هم الحاق کوي. د ياد هوکړه ليک له مخې هېوادونه د معلوماتي ټکنالوژۍ پر اړوندو محصولاتو تعرفې صفر ته ښکته کوي. افغانستان همداراز يوازې پر ۲۴۳ اقلامو صادراتي تعرفې وضع کړې دي چې له دې جملې څخه په ۲۹،٦ سلنه اقلامو يوازې ۱۰سلنه او پر ۲۴،۲ سلنه اقلامو ۲،۵ سلنه تعرفې دي. د خدماتو په برخه کې افغانستان په ۱۱ سکتورونو او په ۱۰۴ عضوي سکتورونو کې بېلابېلې ژمنې وکړې. د بېلګې په توګه، د افغانستان يوه ژمنه دا هم وه چې بهرني اتباعو يا حقوقي اشخاصو ته به د دې حق ورکول کېږي چې په افغانستان کې له دولت څخه تر ۹۰ کلونو پورې ځمکه په اجاره واخلي او دوی دا اجاره نوره هم تمديدولای شي.[33]

افغانستان همدا راز پر حساسو توکو له ۲۰ څخه تر ۷۰ سلنو پورې تعرفې هم ښکته کړې. په ۳۰۰ اقلامو يې هېڅ ډول تعهد ونه کړ، لکه سيمنټ، شامپو، مالګه، صابون، فرنېچر، لاسي صنايع او داسې نور. يعنې افغانستان کولای شي له خپلې خوښې سره سم پر دغو اقلامو تعرفه وضع کړي. سربېره پر دې، د ګاټ د ۲۰مې مادې له مخې يې د ٦۵ توکو پر واردولو هم بنديز ولګاوه، لکه الکولي مشروبات، د خنځير غوښه، ناقانونه درمل او کيمياوي مواد چې په چاودونکو بمونو کې ترې ګټه اخيستل کېږي.[34]

## 2.  سازمان سره د الحاق تر پروتوکول لاندې د افغانستان حقوق او وجايب

په تېره برخه کې مو يادونه وکړه چې د سوداګرۍ نړېوال سازمان له ځانګړتياوو څخه يوه دا هم ده چې هېوادونه به يې ټول هوکړه ليکونه په يوځايي ډول مني او تصويبوي به يې. همدا راز عمومي اصل دا دی چې پر دغو هوکړه ليکونو Reservations يا تحفظات، معنی دا چې د يو هوکړه ليک/معاهدې ځينې برخې يو هېواد په خپله خوښه تفسير کړي يا ووايي چې د هوکړه ليک لسمه ماده دوی نه تطبيقوي يا د مادې د تطبيق لپاره وخت غواړي، هم نه کېږي؛ مګر که هوکړه ليک اجازه ورکړې وي. سازمان ته له الحاق سره افغانستان دا منلې چې په سوداګريزو چارو کې به د سازمان ټولو اصولو ته غاړه ږدي او تطبيقوي به يې. همدا راز هغه

---

[32] د خدماتو هوکړه ليکونه يې له کاناډا، اروپايي ټولنې، کوريا، ناروې، چينايي تايپې او د امريکا متحده اياالتونو سره وکړلې.

[33] وګورئ د افغانستان د تعهداتو لنډيز د نړېوالې سوداګرۍ سازمان په دغه لينک کې:
<https://www.wto.org/english/news_e/news15_e/afgancommitmentsmc10_e.pdf> accessed 1 July 2019.

[34] < http://moci.gov.af/fa/news/wto> accessed 1 July 2019.

تعهدات به هم عملي كوي چې د سازمان په هوکړه لیکونو کې عموماً نشته خو افغانستان پر ځان اضافي منلي دي.
سازمان څلور عمومي او شپږ عضوي اصول لري چې د ګاټ په تړون کې ترې یادونه شوې، او وروسته په نورو هوکړه لیکونو کې هم په تفصیل سره تشریح شوي دي. دا اصول د افغانستان په شمول د سازمان د ټولو غړو هېوادونو حقونه او وجایب هم دي چې دلته به په تفصیل سره ذکر شي.
د سازمان عمومي اصول په لاندې ډول دي:

۱. له تبعیض څخه لېرېتوب او د تر ټولو مطلوب ملت یا دولة کامله الوداد Most Favored Nations (MFN)؛

۲. ملي چلند National Treatment؛

۳. د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډونو کمول Reduction of Barriers to Trade؛ او

۴. د کمیت محدودیتونو منع کول[35] او پر غیر تعرفوي خنډونو تعرفه وضع کول[36] The Prohibition of Quantitative Restrictions and the Tariffication of Non-Tariff Barriers to Trade.

د سازمان شپږ نور عضوي اصول په لاندې ډول دي:

۱. شفافیت؛
۲. مشوره/مذاکرت
۳. د شخړو حل و فصل
۴. د مخ پر ودې هېوادونو ځانګړو اړتیاوو ته پاملرنه کول
۵. سالم رقابت
٦. د حفاظتونو موجودیت، څو هېوادونه خپلې مهمې ګټې خوندي کړي

د دې مقالې دا برخه به د پورته ټولو اصولو له منځه مهم چې لومړني څلور، شخړو حل و فصل او سالم رقابت په تفصیل سره ذکر کړي او هم به تر دغو اصولونو لاندې د افغانستان حقوق و وجایب تشریح کړي.

---

[35] یعنی یو هېواد باید د توکو په وارداتو کې د کمیت له مخې محدودیت منع کړي. مثلاً افغانستان یو قانون تصویب کړي او له مخې یې له ۳۰ زره ټنو څخه اضافه غنمو پر وارداتو محدودیت ولګېږي، د سازمان عمومي اصول دا دي چې افغانستان نه شي کولای د غنمو یا نورو توکو پر وارداتو کمیتي محدودیتونه وضع کړي، یعنې دا د ۳۰زره ټنو محدودیت نه شي وضع کولای. دا اصل ځینې استثناءات هم لري چې وروسته به په تفصیل سره ذکر شي.

[36] Tarrification د غیر تعرفوي تدابیرو پر تعرفو باندې د تبدیلولو پروسه ده. مثلاً ځینې وخت هېوادونه د داخلي بازار د ساتنې یا ملاتړ لپاره ځینې غیرتعرفوي تدابیر پورته کوي، د مثال په توګه، د ځینو زراعتي توکو پر وارداتو بندیز لګوي یا یې واردات محدودوي. د زراعتي وارداتو محدودول یا پرې بندیز لګول غیرتعرفوي موانع دي. د سازمان اصل دا دی چې دغه غیرتعرفوي موانع باید لرې او پر ځای یې تعرفه ولګول شي. د تعرفې د وضع لپاره عمومي فارموله دا ده چې د داخلي بازار نرخ او د نړېوال بازار نرخ ترمنځ تفاوت به د تعرفې په بڼه وضع کېږي. یعنی د تعرفې په بڼه به داخلي بازار ساتنه یا ملاتړ کېږي.

### a. د عدم تبعیض اصل

د عدم تبعیض اصل دوه مهم فرعي اصول لري: لومړی یې Most Favored Nation ( وروسته MFN) او دویم یې ملي چلند یا National Treatment دی. دغه دواړه اصول د توکو او خدماتو په تجارت کې موجود دي او هېوادنو یې په رعایت کولو مکلف دي. په لاندې برخه کې د MFN او National Treatment اصول، استثناءات او په اړه یې د افغانستان پر ژمنو بحث شوی دی.

#### i. له تبعیض څخه لیرې توب او د ترټولو مطلوب ملت اصل (Most Favored Nation)

د ګاټ د لومړۍ مادې د لومړنۍ فقرې له مخې که د سازمان یو غړی هېواد د یو بل هېواد صادراتو یا وارداتو ته کومه ګټه، برتري، امتیاز یا مصوونیت ورکوي، دغه هېواد مکلف دی چې ورته چلند د سازمان د ټولو غړو هېوادونو د شبیهو توکو (Like Products) سره هم وکړي.[37] د ګاټ د لومړنۍ مادې له مخې که د MFN حیثیت د یو هېواد توکو ته ورکول کېږي باید له درېیو ټیسټونو تېره شي، یا باید درې پوښتنې ځواب کړي:

لومړی دا چې د سازمان غړی هېواد چې کوم ګام پورته کوي یا یې کوم تدابیر نیولي، آیا هغه د سازمان د نورو غړو هېوادونو توکو ته هم «فایده/ګټه» رسوي؟ مثلاً که له یوه ځانګړي هېواد څخه د توکو پر وارداتو تعرفه ښکته کړای شي، یا د دغه هېواد د وارداتو اړوند اصول و قوانین تغییر کړای شي چې اغېز یې بیا پر خرڅلاو پریوځي؛ یا د تعرفې وضعې کولو مېتود د یو هېواد او بل هېواد لپاره متفاوت استعمال شي. دلته که پورته یاد شوي تدابیر د یوه ځانګړي هېواد توکو ته ګټه یا فایده ورکوي، په دې صورت کې غړی هېواد مکلف دی چې د سازمان د ټولو غړو هېوادونو د شبیهو یا ورته توکو ته همدا ډول ګټه/فایده ورکړي او ورسره ورته چلند وکړي.

دویمه پوښتنه دا ده چې آیا دغه فایده «شبیهو توکو» ته ورکول کېږي؟ یعنې تبعیض په هغه صورت کې منع دی چې ګټه شبیهو/یا ورته توکو ته ورکول کېږي. د بېلګې په توګه «الف» هېواد پر منو ۳۰ سلنه تعرفه وضع کړې، اوس منې که له «ب» هېواد څخه واردېږي، او که له «ج» هېواد څخه؛ تعرفه باید پرې یو ډول وضع شي؛ ځکه د «ب» او «ج» هېوادونو واردات منې دي (او دا شبیه توکي دي). البته که دواړه توکي توپیر ولري، د

---

[37] General Agreement on Trade and Tariffs (15 April 1994) art I (1) <https://www.wto.org/english/docs_e/legal_e/gatt47.pdf> accessed 1 July 2019.

بېلګې په توګه منې او مالټې. «الف» هېواد ته له «ب» هېواد څخه منې او له «ج» هېواد څخه مالټې واردېږي. په دې صورت کې «الف» هېواد کولای شي چې هر ډول متفاوته تعرفه (البته تر هغې لوړه نه چې د الحاق په پروتوکول کې ذکر شوې) وضع کړي، ځکه منې او مالټې شبیه توکي نه دي.

دریېمه پوښتنه دا ده چې آیا د سازمان غړو هېوادونو «شبیهو توکو» ته دغه فایده په «مستقیم او غېر مشروطه» ډول ورکړي او که نه؟ یعنې یو هېواد چې کله بل ته «فایده» ورکوي، مجبور و مکلف دی چې په مستقیم او غېر مشروط ډول همدا فایده د سازمان نورو غړو هېوادونو ته هم ورکړي. د بېلګې په توګه، «الف» هېواد له «ب» هېواد څخه په هر ډول مالټو تعرفه ۲۰ سلنې ته راښکته کړه. «الف» هېواد مکلف دی چې د سازمان ټولو غړو هېوادونو پر مالټو تعرفه ۲۰ سلنې ته مستقیماً او پرته له کوم قېد و شرطه راښکته کړي.[38] د MFN د تطبیق اړوند د سازمان ډېرې قضیې شته دي. یو یې هم د Canada-Autos قضیه ده. کاناډا هغه موټر له مالیې څخه معاف کړي وو چې په بهر کې تولیدېدل؛ خو هغه شروط یې پوره کاوه چې په کاناډا کې د موټرو د تولید لپاره کارول کېدل. د سازمان استیناف رکن Appellate Body په دې قضیه کې د ګاټ د لومړۍ مادې د لومړۍ فقرې تفسیر داسې وکړ چې کاناډا نشي کولای ځینو موټرو ته ګټه/فایده ورکړي او له مالیې یې معاف او پر ځینو نورو بیا مالیه وضع کړي. د استیناف رکن استدلال دا و چې د ګاټ د لومړۍ مادې لومړۍ فقره د کومې ځانګړې ګټې یادونه نه ده کړې، بلکې هره ګټه او فایده یې یاده کړې؛ همدا راز یادې مادې کوم ځانګړي توکي نه دي یاد کړي، بلکي پر هرو توکو دغه ماده عملي کېږي. همدا راز دا یادونه یې هم نه ده کړې چې د یوه ځانګړي هېواد شبیهو توکو ته به فایده ورکول کېږي بلکې د ټولو غړو هېوادونو شبیهو توکو ته به یو ډول فایده ورکول کېږي.[39] له همدې کبله د استیناف رکن وویل چې کاناډا ځینو موټرو ته فایده ورکوي خو د ځینو نورو غړو هېوادونو شبیهو موټرو ته یې بیا نه ورکوي او د کاناډا دغه اقدام د ګاټ د لومړۍ مادې د لومړۍ فقرې نقض دی.[40]

---

[38] په دې اړه نور تفصیل دلته ولولئ:
Peter Van Den Bossche and Warner Zdouc, *The Law and Policy of the World Trade Organization: Text, Cases and Materials* (Cambridge University Press 2008) 315; Simon Laster, Bryan Mercurio, and Arwel Davies, *World Trade Law: Text, Materials and Commentary* (Hart Publishing 2012).

[39] *Canada – Certain Measures Affecting the Automotive Industry- Report of the Appellate Body* (19 June 2000) WT/DS139/AB/R and WT/DS142/AB/R, para. 79.

[40] ibid, para 85.

د MFN ماده د خدماتو په برخه کې هم باید تطبیق شي. مثلاً که افغانستان د پاکستان هېواد پوستي شرکت ته په افغانستان کې د فعالیت اجازه ورکوي، افغانستان مکلف دی چې د هند یا د سازمان د کوم بل غړي هېواد یو شرکت ته چې ورته خدمات (پوستي خدمات) وړاندې کوي د فعالیت اجازه ورکړي.

د ګاټ د لومړۍ مادې لومړۍ فقره نه یوازې دا چې de Jure یا په قانون کې تبعیض منع کوي، بلکې de facto یا هغه تبعیض چې په قانون کې نه وي، خو په واقعیت کې تبعیض وي، هم منع کوي. د بېلګې په توګه افغانستان د سازمان د یو غړي په توګه یو نوی قانون تصویب کړي چې له مخې یې هندي لاریو ته د ترانزیت حق ورکړای شي یا هندي لارۍ د ترانزیت له هر ډول فیس څخه معاف کړای شي یا پر هندي زراعتي توکو تعرفه ختمه کړای شي، خو د نورو هېوادونو له لاریو څخه بیا د ترانزیت حق واخیستلای شي یا پرې فیس وضع شي یا یې پر زراعتي توکو تعرفه وضع کړای شي. د افغانستان دغه اقدام د سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ تبعیض کوي او هند ته د نورو هېوادونو په پرتله فایده ورکوي، دا de jure تبعیض ګڼل کېږي. همدا راز که د یوه هېواد د قانون یا پالیسۍ له متن څخه په څرګنده توګه داسې څه نه ښکاري چې تبعیض کوي؛ خو په حقیقت کې د قانون یا پالیسۍ د تطبیق پر مهال یې نتیجه تبعیض وي، دغه تبعیض هم منع دی. د بېلګې په توګه هند پر هغو مڼو چې رنګ یې زېړ وي ۱۰ سلنه تعرفه وضع کړي، دغه مڼې په پاکستان کې تولیدېږي او یوازې یې پاکستان صادروي؛ او دغه راز هند د مڼو نور ټول ډولونه له تعرفې معاف کړي. دلته هند په قانون کې تبعیض نه کوي، او نه هم د قانون له متن څخه تبعیض ښکاري؛ ځکه هند پر زېړو مڼو تعرفه وضع کړې او سرې مڼې یې له تعرفې معاف کړې دي. خو په واقعیت کې د هند دا قانون تبعیض کوي ځکه زېړې مڼې چې له سرو مڼو سره شبیه دي یوازې په پاکستان کې تولیدېږي او پاکستان یې صادروي او د مڼو ترمنځ تفکیک هم یوازې په رنګ کېږي، دا ډول تبعیض de facto ګڼل کېږي او داسې د MFN وجیبې نقض ګڼل کېږي.

## 1. د MFN اصل استثناءات

د ګاټ معاهده په ځینو ځانګړو حالاتو کې غړي هېوادونو ته د دې اجازه ورکوي چې د MFN اصل له تطبیق څخه صرف نظر وکړي. دا ځانګړي حالات د ګاټ د معاهدې په ۱۲مه، ۱۸مه ب فقره (Balance of Payments)، ۲۰مه (عمومي استثناءات)، ۲۱مه (امنیت) او ۲۴مه (منطقوي تړونونه) مادو کې ذکر شوي دي. پر دې سربېره له مخ پر ودې هېوادونو سره ترجیحي او مطلوب چلند کولو پرېکړه پر Enabling Clause

هم مشهوره ده.[41] د دې پرېکړې له مخې پرمختللي هېوادونه د MFN اصل نقضوي او د مخ پر ودې هېوادونو له وارداتو سره ځانګړې او ترجيحي چلند کوي.[42]

هېوادونه مخکې له دې چې د ګاټ معاهدې پر استثناءاتو تکيه وکړي، لومړی دا څېړي چې هغه تدابير چې يوه هېواد اخيستي د ګاټ د معاهدې له نورو اصولو سره مطابقت لري او که نه. که يې مطابقت درلود بيا دې ته اړتيا نشته چې خپل اقدام د استثناءاتو له مخې توجيه کړي. همدا راز که څه هم د عدم تبعيض اصل ډېر نور استثناءات هم لري؛ خو تر ټولو مهم يې عمومي استثناءات، امنيتي استثناءات او منطقوي معاهدې دي. په عمومي استثناءاتو کې هغه تدابير شامل دي چې د عامه اخلاقو، د انسانانو، ځناورو، د نباتاتو ژوند يا روغتيا، ملي او تاريخي شتمنيو، طبيعي منابعو او داسې نورو شيانو چې په ۲۰مه ماده کې يې يادونه شوې، د ساتنې لپاره ضروري وي.[43] امنيتي استثناءات چې د ګاټ په ۲۱مه معاهده کې ذکر شوي، هېوادونو ته د دې واک ورکوي چې د عدم تبعيض اصل نقض کړي. د دې مادې له مخې هېوادونو ته پراخ صلاحيت ورکړل شوی چې د هغو معلوماتو له افشا کولو ډډه وکړي چې له کبله يې د نومړي هېواد ملي امنيت له ګواښ سره مخ کېږي. همدا راز ځينې داسې تدابير واخلي چې د نومړي هېواد د ملي امنيتي منافعو لپاره مهم وي، د بېلګې په توګه د وسلو يا جنګي سامان الاتو ورل راوړل، يا د جنګ په حالت يا د نړېوالو اړيکو په بېړنيو حالاتو کې، يا د نړېوالې سولې او امنيت په خاطر.[44] د MFN اصل بله استثناء د منطقوي سوداګرۍ معاهدې يا ګمرکي اتحاديې دي. که څه هم د ګاټ معاهده د هېوادونو ترمنځ تبعيض منع کوي؛ خو د ګاټ ۲۴مه ماده بيا د سيمه‌ييزو سوداګريزو معاهدو ته چې له مخې يې هېوادونه يو بل ته ځينې اصول نرموي يا تعرفې ښکته کوي اجازه ورکړې ده. يعنې هېوادونه کولای شي چې د سوداګريزې معاهدې په تصويبولو سره، د ګاټ معاهدې د MFN اصل نقض کړي. د بېلګې په توګه دغه هېوادونه په خپلو منځونو کې پر ځينو توکو تعرفې ښکته کړي،

---

[41] Decision on Differential and More Favourable Treatment, Reciprocity and Fuller Participation of Developing Countries (12 April 1979).

[42] Bossche and Zdouc, (n 37) 330-334

[43] د عمومي استثناءاتو په اړه نور جزئيات دلته ولولئ:
<https://www.wto.org/english/res_e/booksp_e/gatt_ai_e/art20_e.pdf> accessed 2 July 2019.

[44] Roger P. Alford, 'The Self-Judging WO Security Exception' (2011) UTAH LAW REVIEW 697; Dapo Akande & Sope Williams, 'International Adjudication on the National Security Issue: What Role for the WTO?' (2003) 43 Virginia Journal of International Law 381.

خو د سازمان نورو غړو پر شبیهو توکو بیا لوړې تعرفې وضع کړي. د منطقوي سوداګریزې معاهدو مثالونه ډېر دي لکه د نافټا NAFTA معاهده چې د امریکا، کاناډا، مېکسیکو او ځینو نورو هېوادونو ترمنځ ده. همدا راز SAFTA چې د سویلي اسیا د هېوادونو ترمنځ د منطقوي سوداګرۍ معاهده ده، او د ګمرکي اتحادیې مثال بیا اروپایي ټولنه ده.

## ii. ملي چلند National Treatment

د ګاټ دریيمه ماده د ملي چلند د وجیبې په اړه ده.[45] د دې مادې له مخې هېوادونه مکلف دي چې په داخلي مارکېټ کې د داخلي او وارداتي توکو (کله چې وارداتي توکي تعرفه ورکړي او بازار ته داخل شي) ترمنځ تبعیض ونه کړي. د بېلګې په توګه کله چې د «الف» یا «ب» هېواد وارداتي توکي د «ج» هېواد بازار ته داخل شي، په دې صورت کې «ج» هېواد باید د وارداتي توکو او د خپلو داخلي شبهیو توکو ترمنځ تبعیض ونه کړي او له وادراتي توکو سره باید تر داخلي توکو کم ګټور چلند ونه کړي. د دریيمې مادې موخه دا ده چې داخلي تدابیر (مثلاً داخلي مالیې، قوانین، مقررې او شرایط چې پر خرڅلاو، اخیستنې، توزیع، استعمال او پر داسې نورو اغیز وغورځوي) باید د دې موجب نه شي چې د وارداتي توکو په مقابل کې د داخلي توکو ملاتړ وشي.[46] د Japan-Alcoholic Beverages II په قضیه کې استیناف رکن پر دې ټینګار وکړ چې د دریيمې مادې موخه دا ده څو د protectionism مخه ونیول شي او د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره د ګاټ دریيمې مادې د سازمان غړي پر دې مکلف کړل چې وارداتي او داخلي توکو ته مساوي رقابتي شرایط برابر کړي.[47]

---

[45] همدا راز د MFN او National Treatment فرق دادی چې لومړني اصل تر سرحدي تدابیرو پورې محدود دی لکه د تعرفې اخیستل یا د وارداتو د کمیت محدودیت او داسې نور. خو کله چې له وارداتو تعرفه واخیستل شي او داخلي بازار ته واردات داخل شي په دغه صورت کې بیا د National Treatment اصل عملي کېږي.

[46] General Agreement on Trade and Tariffs (15 April 1994) art III (1)*; United States - Section 337 of the Tariff Act of 1930 - Report by the Panel (7 November 1989) L/6439-36S/345, para. 5.10.*

[47] *Japan - Taxes on Alcoholic Beverages- Report of the Appellate Body* (4 October 1996) WTDS8/A/R, WT/DS10/AB/R and WT/DS11/AB/R, para 16*;* See also: *Taxes on Alcoholic Beverages - Appellate Body Report, Korea* (17 February 1999) WT/DS75/AB/R and WT/DS84/ AB/R, para. 119; *Chile – Taxes on Alcoholic Beverages - Appellate Body Report* (12 January 2000) WT/DS87/AB/R and WT/DS110/AB/R*,* para. 67*; European Communities – Measures Affecting Asbestos and Asbestos-Containing Products - Appellate Body Report* (5 April 2001) WT/DS135/AB/R, para 97.

د National Treatment اصل د تطبیق پر مهال د نورو پوښتنو سربېره باید درې پوښتنې هم ځواب کړي. لومړی دا چې وارداتي او داخلي توکي «شبیهه توکي»، یا مستقیم رقابتي او که د یو بل ځای نیوونکي دي؟ که شبیهه توکي یا مستقیم رقابتي توکي نه وي، د بېلګې په توګه واردات خټکي وي او داخلي توکي بیا موټر، په دې صورت کې د National Treatment اصل نه تطبیقېږي، ځکه خټکي او موټر شبیهه توکي نه دي. البته که دواړه خټکي وو، نو په دې صورت کې بیا یاد اصل تطبیقېدای شو. دویم دا چې آیا په وارداتي توکو تر داخلي شبیهو توکو زیاته داخلي مالیه وضع شوې او که نه؟ او آیا دغه داخلي مالیه د دې لپاره وضع شوې څو داخلي تولیدات د وارداتي تولیداتو مقابل کې خوندي کړي او یا یې ملاتړ وکړي؟ که یې ځواب هو وي، نو تبعیض ګڼل کېږي او که تر ټولو ورته توکو څخه یو ډول مالیه اخیستل کېږي نو بیا تبعیض نه ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه هند پر داخلي زعفرانو ۱۰سلنه sales tax وضع کړی؛ خو پر هغو زعفرانو چې له افغانستان څخه وارد شوي وي ۲۰ سلنه sales tax وضع کړی. پر افغاني زعفرانو اضافي تعرفې وضع کول، چې د هندي زعفرانو شبیهه توکی دي، تبعیض دی او د ګاټ د درېیمې مادې نقض دی.

اوس پوښتنه دا ده چې شبیهه توکي یا like products څه شی دي؟ کوم توکي د نورو توکو شبیهه ګڼل کېږي؟ د «شبیهه توکي» اصطلاح د سازمان په هېڅ یو هوکړه لیک کې نه ده تعریف شوې؛ خو د سازمان د شخړو حل و فصل رکن یاده اصطلاح په ډېرو راپورونو کې تحلیل کړې ده. د Japan – Alcoholic Beverages په قضیه کې پېنل (د ابتدایي محکمې مترادفه ده) د یادې اصطلاح معنا د ګاټ د ۳مې مادې د متن او کانټکسټ سره سم په ډېر تفصیل سره تحلیل کړې. په دې قضیه کې پوښتنه دا وه چې Shochu او Vodka (دواړه الکولي مشروبات دي) د ګاټ د درېیمې مادې له دویمې فقرې سره سم شبیهه توکي دي؟ د سازمان هیئت یا پینل د like product لپاره درې معیارونه وضع کړل: لومړی؛ د توکو فزیکي خاصیت باید یو شی وي. دویم؛ د استعمال موخه یې یوشان وي، او درېیم؛ د تعرفو په لېست( Harmonized System) کې تر یوې کټګورۍ یا عنوان لاندې راشي.[48] ځینې حقوقپوهان څلورم معیار هم ورزیاتوي، هغه د استهلاک کوونکي ځکه او عادت دی.[49] که دغه څلور معیارونه په دوو توکو کې یو ډول وي نو شبیهه توکي ګڼل کېږي.

---

[48] *Japan - Taxes on Alcoholic Beverages - Report of the Panel* (11 July1996) WT/DS8/R, para. 6.23.

[49] Kawan E Choi, and Hartigan C James, *Handbook of International Trade: Economic and Legal Analyses of Trade Policy and Institutions* (Blackwell Publishing Ltd 2004) 186-187.

لکه مخکې مو چې د MFN په بحث کې یادونه وکړه چې د ګاټ معاهده نه یوازې دا چې de Jure یا په قانون کې تبعیض منع کوي، بلکې de facto یا هغه تبعیض، چې په قانون کې نه وي؛ خو په واقعیت کې تبعیض وي، هم منع کوي. د National Treatment اصل هم همدا راز دغه دوه ډوله تبعیض منع کوي. De Jure تبعیض هغه دی کله چې یو قانون یا پالیسي په داسې بڼه تصویب شي چې متن یې په وضاحت سره د داخلي او وارداتي توکو ترمنځ تبعیض کوي.[50] د مثال په توګه افغانستان یو نوی قانون تصویب کړی، چې له مخې یې ځینې داخلي تولیدات لکه هغه بوټان چې د غوا له څرمنې جوړ وي له sales tax څخه معاف کړي؛ خو پر وارداتي شبیهو توکو (د څرمنو بوټان) بیا ۲۰ سلنه تعرفه وضع کړي. همدا راز د ګاټ د درېیمې مادې له مخې د یو قانون یا مقررې له متن څخه په ښکاره داسې څه نه ښکاري چې تبعیض دې کوي؛ خو په واقعیت کې دغه قانون د وراداتي توکو په مقابل کې داخلي توکو ته ګټه/فایده ورکوي.[51] د مثال په توګه، افغانستان یو نیم ټنه آیرکنډیشنونه له sales tax څخه معاف کړي. دغه آیرکنډیشنونه عموماً د افغانستان د داخلي شرکتونو له خوا تولیدېږي. خو په مقابل کې له ۲ تر ۵ ټنو آیرکنډیشنونو باندې باید ۲۰ سلنه تعرفه وضع کړي چې له بهر څخه افغانستان ته واردېږي. اوس که څه هم د قانون یا مقررې له متن څخه څرګنده دا نه ښکاري چې افغانستان دې تبعیض کړی وي او د وارداتي توکو مقابل کې دې له داخلي توکو سره مرسته کړې وي خو په عمل کې بیا دا تبعیض دی او د ګاټ د درېیمې مادې له مخې منع دی.

## 1. د National Treatment اصل استثناءات

پورته مو د MFN استثناءات ذکر کړل چې هغه ټول د National Treatment استثناءات هم دي. البته د National Treatment اصل بیا ځینې نور ځانګړي استثناءات هم لري چې د درېیمې مادې د ۸ مې فقرې لومړنی بند (دولتي تداراکات)، دویم بند (سبسیډي)، ۹ فقره (داخلي تر ټولو لوړ نرخ د کنترول تدابیر) او د درېیمې مادې ۱۰مه فقره او په څلورمه ماده (سینمایي فلمونه) کې ذکر شوي دي. د مثال په توګه، افغانستان کولای شي چې په دولتي تدارکاتو کې د داخلي تولیداتو پر اخیستلو ټینګار وکړي، یا په ځینو ځانګړو حالاتو کې چې د سازمان هوکړه لیکونو ورته اجازه ورکړې وي، داخلي تولیداتو ته اعانه یا سبسېډي ورکړي. دا که څه

[50] Trade in Goods: Non-Discrimination Principle: Most Favored Nation (MFN) and National Treatment in the General Agreement on Tariffs and Trade (GATT) 1994, <https://ecampus.wto.org/admin/files/Course_179/Module_531/ModuleDocuments/eWTO-M2-R1-E.pdf> accessed 2 July 2019.

[51] Laster, Mercurio, and Davies (n 37) 265.

هم داخلي توليداتو ته ګټه ورکول دي؛ خو د دريېمې مادې له مخې دا ډول ګټه ورکول د National Treatment د اصل څخه استثناء دي.

## iii. افغانستان او له تعبيض څخه د لېرې توب اصل

له تبعيض څخه د لېرې توب اصل د سازمان يو له مهمو اصولو څخه دی. هېوادونه تر هر څه وړاندې د عدم تبعيض په اړه ژمنه کوي. د افغانستان په کاري راپور کې هم د وارداتو او خدماتو سره پر عدم تبعيض ټينګار شوی دی. د مثال په توګه د پانګونې د رژيم تر عنوان لاندې په ۲۰م پارګراف کې افغان استازي ويلي چې د افغانستان د ۲۰۰۵ز کال د خصوصي پانګونې قانون بهرنيو پانګوالو سره پر ملي چلند ټينګار کړی دی. همدا راز د سوداګری پر وړاندې د تخنيکي خنډونو اړوندو قوانينو کې افغانستان د سازمان څخه د ۲۰۱۷ز کال د دسمبر تر ۳۱مې پورې انتقالي وخت غوښت او ژمنه يې وکړه چې تخنيکي مقررې، ستاندرد او نور پروسېجرونه به پرته له کوم تبعيضه يو ډول تطبيقېږي او له ټولو وارداتو ته سره به د تر ټولو مطلوب چلند MFN او ملی چلند National Treatment کېږي.[52] د حيواناتو او نباتاتو د روغتيا په اړه د تدابيرو هوکړه ليک اړوند افغانستان ژمنه وکړه چې په هغو مواردو کې چې انتقالي موده ورته نه ده ټاکل شوې د MFN او National Treatment اصول پر ټولو وارداتو عملي کېږي.[53] د ترانزيت په برخه کې هم افغانستان ژمنه وکړه چې د ترانزيتي معاهداتو باوجود چې افغانستان يې د نورو هېوادنو سره لري، افغانستان به د ګاټ د پنځمې مادې او د MFN اصل پر اساس ټولو هېوادونو ته د ترانزيت شرايط برابر کړي.[54] همدا راز د معنوي ملکيت د قوانينو په برخه کې افغانستان جدي تغيرات راوستل او په ټولو قوانينو کې يې ملي چلند او تر ټولو مطلوب چلند د اصولو د عملي کولو ژمنه وکړ.[55]

## b. د سوداګری پر وړاندې د خنډونو کمول

د ګاټ د معاهدې د لاسليک يو مهم لامل پر وارداتو د تعرفو کمول او د سوداګری پر وړاندې د خنډونو کمول وو. د سازمان يو مهم اصل هم د سوداګری پر وړاندې د خنډونو کمول او ختمول دي. د سازمان هر غړی د

[52] Report of the Working Party on the Accession of the Islamic Republic of Afghanistan (13 November 2015) WT/ACC/AFG/36 and WT/MIN(15)/6, para 170.

[53] ibid, para 186.

[54] ibid, para 206.

[55] ibid, para 222-223, 253.

مذاکراتو پر مهال د تعرفو اړوند ژمنې کوي چې له مخې یې غړی هېواد پر توکو او خدماتو تر ژمنو شویو تعرفو زیاتې تعرفې نه شي وضع کولای. د هر توکي اړوند تعرفې د هر هېواد په Schedule of Concession کې ذکر شوي وي. په دې لېست کې هر هېواد هر توکي ته چې یو ځانګړی نمبر هم لري تعرفه وضع کړې وي. هر هېواد خپل لېست لري او دا لېستونه هېواد تر هېواده توپیر لري. د بېلګې په توګه د افغانستان د schedule of concession لېست تر پاکستانه متفاوت دی، افغانستان پر ټولو تجارتي محصولاتو په اوسط ډول ۳۳,٦ سلنه تعرفه لري چې په دې کې په ځینو توکو تعرفه ۱۰۰ سلنه ده او پر ځینو نورو توکو ۵ سلنه ده، خو بالعکس بیا پاکستان په اوسط ډول د ټولو زراعتي وارداتو ۱۰۲سلنه تعرفه لري چې په دې کې پر ځینو توکو ۲۰۰ سلنه تعرفه هم شته دی.[56]

د ګاټ دویمه ماده د تعرفو په اړه صراحت کوي. د یادې مادې له مخې ټول غړي هېوادونه پر دې مکلف دي چې د تعرفو د لېست سره سم ټولو غړو هېوادونو سره یو ډول چلند وکړي او تر هغې زیاتې تعرفې وضع نه کړي چې د تعرفو په لېست کې یې ژمنه کړې ده. افغانستان خپل د تعرفو په لېست کې د مثال په توګه د حلال شوي حیوان پر غوښه تر ټولو لوړه ٦۰ سلنه تعرفه وضع کړې ده. افغانستان اوس دوه وجیبې لري: لومړی دا چې پر یاده غوښه تر ٦۰ سلنه زیاته تعرفه نه شي وضع کولای، او دویم دا چې له ټولو غړو هېوادونو څخه د ورته غوښې پر وارداتو باید یو ډول تعرفه وضع کړي یعنې که تر ٦۰ سلنه کمه تعرفه وضع کوي، نو د ټولو هېوادونو لپاره به یې یو ډول کموي.

*لاندې د افغانستان د تعرفو د لست Schedule of Concession یوه برخه ده:*

**Schedule CLXX- Afghanistan**

**PART 1 – MOST-FAVOURD-NATION TARIFF**

**SECTION 1- Agricultural Products**

| HS | Description | Bound rate at date of accession | Final Bound rate | Implementation | Present concession established | INR | Concession first incorporated in a GATT Schedule | Earlier INRs | ODCs |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 01.01 | Live horses, asses, mules and hinnies. | | | | | | | | |
| | - Horses: | | | | | | | | |
| 0101.2100 | -- Pure-bred breeding animals | 10 | | | | | | | 0.2 |
| 0101.2900 | -- Other | 10 | | | | | | | 0.2 |
| 0101.3000 | - Asses | 10 | | | | | | | 0.2 |
| 0101.9000 | - Other | 10 | | | | | | | 0.2 |

[56] Naeem Ullah Khan and Muhammad Ashfaq, 'WTO's Implications on Agriculture Sector in Pakistan: Threats, Opportunities and Possible Strategies' (2018) 5 (2) Journal of Advancements in Life Sciences 30.

د دویمې مادې لومړنۍ فقره «ب» بند له غړو هېوادونو غواړي چې عام گمرکي مالیات هم باید د تعرفو په لېست کې تر یادوو شوو تعرفو څخه زیات نه شي. یعنې که عملي تعرفې کمې وي؛ خو نور اضافي گمرکي مالیات هم یو هېواد اخلي، دا مالیات باید تر هغه زیات نه شي څومره چې د تعرفو په لېست کې ذکر شوي دي. د دې مادې موخه دا ده چې هېوادونه له دې منع کړي څو د عامو گمرکي مالیاتو تر نوم لاندې خپلې تعرفې تر هغې لوړې کړي چې د تعرفو په لېست کې یې پرې ژمنه کړې ده.[57]

## i. د تعرفو اړوند د افغانستان ژمنې

افغانستان هم د سوداگرۍ پر وړاندې خنډونه تر ډېره کم کړي دي. افغانستان په ټولو توکو تعرفې په اوسط ډول ۱۳,۵ سلنې ته ښکته کړي دي. په زراعتي توکو یې تعرفې ۳۳,٦ سلنه دي. افغانستان د WTO Plus وجایبو په لړ کې د tariff rate quota او special safeguards اسانتیاوې هم نه دي ورکړي.[58] پر دې سربېره د کرنې هوکړه لیک په هغه صورت کې صادراتي سبسېډي یا اعانه ته اجازه ورکوي چې د اساس کلونو based period کې یاد هېواد زراعتي توکو ته صادراتي تعرفې ورکړې وي. د افغانستان لپاره د اساس کلونه ۲۰۰۹-۲۰۱۱ز پورې وو او په دغه موده کې افغانستان زراعتي توکو ته صادراتي سبسېډي نه وه ورکړې، له همدې کبله افغانستان د کرنې د موافقې له مخې د دې حق نه لري چې زراعتي توکو ته صادراتي سبسېډي ورکړي. البته افغانستان د یوه لږ پرمختللي هېواد په توگه د کرنې د موافقې د نهمې مادې لومړنۍ فقرې له مخې بازار موندنې او داخلي ترانسپورت لپاره سبسېډي ورکولای شي. په غېر زراعتي توکو یې اوسط تعرفې ۱۰,۳سلنه دي. د ۳۰۰ توکو اړوند یې هېڅ ډول ژمنه نه ده کړې او د ٦۵ ډوله توکو پر وارداتو یې بندیز لگولی دی. همدا راز یوازې پر ۲۴۳ اقلامو یې صادراتي تعرفه وضع کړې ده.[59] افغانستان همدا راز د معلوماتي ټکنالوژۍ موافقې سره د الحاق ژمنه وکړه. د یادې موافقې له مخې افغانستان باید د معلوماتي ټکنالوژۍ اړوند پر ټولو توکو تعرفې صفر ته ښکته کړي. افغانستان همدا راز یوازې پر ۲۴۳ اقلامو صادراتي تعرفې وضع کړي دي چې

---

[57] Laster, Mercurio, and Davies (n 37) 226.

[58] د tariff rate quota نه مانا داده چې یو هېواد د وارداتو لپاره حد وټاکي او تر هغه حد پورې پرې کمه تعرفه وضع کړي خو کله چې واردات حد څخه زیات شي نو تعرفه هم زیاتیږي. د مثلا پر ډول افغانستان هر کال د غنمو واردات سل زره ټنو ته محدود کړي او هر هېواد چې تر دوه زره ټنو څخه کم غنم افغانستان ته صادروي تعرفه پرې یواځې ۱۰٪ وضع کړي خو که ترې دې زیات شي نو په هر اضافه ټن باندې ۲۰٪ اضافه تعرفه وضع کړي. وگوره:

Working Party Report (n 51) para 86.

[59] Overview of Afghanistan's Commitments (n 31).

له دې جملې په ۲۹،٦ سلنه اقلامو یوازې ۱۰ سلنه او پر ۲۴،۲ سلنو باندې ۲،۵ سلنه تعرفې وې. افغانستان همدا راز تعهد وکړ چې له الحاق وروسته به د ۱۵ کلونو دننه د سرې میاشتې ۰،۲سلنه مالیه هم ختمه کړي او د تعرفو د معافیت اړوند اصول به د سازمان له اصولو سره سم تطبیق کړي.[60]

د خدماتو په برخه کې افغانستان په ۱۱ سکتورونو او په ۱۰۴ عضوي سکتورونو کې بېلابېلې ژمنې وکړې. د بېلګې په توګه یوه ژمنه دا وه چې بهرني اتباعو یا حقوقي اشخاصو ته به د دې حق ورکول کېږي چې په افغانستان کې له دولت څخه تر ۹۰ کلونو پورې ځمکه په اجاره واخلي او دا اجاره نوره هم تمدید کړي. [61]

## c. د غېر تعرفوي خنډونو ختمول

د ازاد بازار پر وړاندې خنډونه یوازې د تعرفو په وضع کولو نه ایجادېږي، بلکې ډېر وخت غېر تعرفوي خنډونه Non-Tariff Barriers تر تعرفوي خنډونو د واردتو لپاره زیاتې ستونزې جوړوي. تر اوسه د غېر تعرفوي خنډونو ځانګړې تعریف نشته دی؛ خو په پرنسیپ کې په دې کې ټول هغه تدابیر شامل دي چې تعرفوي نه وي او په دې موخه استعمالېږي څو داخلي صنایع د وارداتو په مقابل کې خوندي کړي، لکه د وارداتو لپاره سهم وضع کول، په سوداګریزو مقررو کې عدم شفافیت، د سوداګریزو مقررو یو اړخیز یا استبدادي تطبیق او داسې نور.[62] تر ټولو مشهور غېر تعرفوي خنډ مقداري یا کمیتي محدودیت یا Quantitative Restrictions دي چې له مخې یې یو هېواد ته پر صادراتو د مقدار یا کمیت له نګاه محدودیت وضع کېږي او په عمومي توګه د ګاټ د ۱۱مې مادې له مخې منع دی. خو Tariff-Rate Quotas بیا په ځینو حالاتو کې جواز لري. د دې معنا دا ده چې یو هېواد تر یوې اندازې پر وارداتو یو ډول تعرفه وضع کړي او که واردات تر هغه زیات شول، نو تعرفه هم ورسره زیاتېږي. د مقداري یا کمیتي محدودیت سره یې توپیر دا دی چې مقداري محدودیت د وارداتو کمیت ته حد ټاکي؛ خو Tariff-Rate Quotas بیا د وارداتو حجم ته په کتو هغسې دوه

---

[60] Working Party Report (n 51) para 85.

[61] Overview of Afghanistan's Commitments (n 31).

[62] WTO, *Introduction to Market Access in Trade in Goods in the WTO* <https://ecampus.wto.org/admin/files/Course_385/Module_1578/ModuleDocuments/MA-L1-R1-E.pdf> accessed 2 July 2019.

د مثال په ډول پاکستان نوی قانون تصویب کړي چې له مخې یې په کال کې هر هېواد پاکستان ته یواځې تر ۱۰زره ټنو پورې انګور صادرولای شي. دغه کمیتي محدودیت Quantitative Restrictions په عمومي ډول د ګاټ د ۱۱مې مادې له مخې منع دی او له همدې کبله هېوادونه مکلف دي چې دغه غېرتعرفوي تدابیرو پر ځای تعرفه وضع کړي.

ډوله تعرفه ټاکي (پر کمو وارداتو لږه یا ترجیحي تعرفه او پر زیاتو بیا غېر ترجیحي او زیاته تعرفه) او پر وارداتو کوم مقداري محدودیت نه وضع کوي. البته د ۱۳مې مادې سره سم د کمیت محدودیت او Tariff-Rate Quotas باید له تبعیض پرته اداره شي. ۱۱مه ماده همدا راز د تبعیض دواړه ډولونه de jure (په قانون کې) او de facto (په واقعیت کې) منع کوي.

د سازمان د ډېری هوکړه لیکونو مادې د غېر تعرفوي خنډونو د ختمولو یا کمولو په اړه صراحت کوي. په هغو مواردو کې چې غېر تعرفوي تدابیر د مشروع هدف لپاره وي لکه د خوراک، نباتاتو او حیواناتو د مصوونیت لپاره یا تخنیکي ستاندردونه، هلته هېوادونه بیا مکلف دي چې د سازمان د هوکړه لیکونو سره سم غېر تعرفوي تدابیر واخلي.[63]

د مقداري یا کمیتي محدودیت اصل یو څو عمومي او ځانګړي استثناءات هم لري. عمومي استثناءات د ګاټ په ۲۰مه (عام استثناءات)، ۲۱مه (امنیتي استثناءات)، ۱۹مه (حفاظتي تدابیر) ۱۲مه (Balance of Payments)، ۲۵مه (ابرا یا waivers)، او ۲۴مه ماده (منطقوي تړونونه) کې ذکر شوي دي. ځانګړي استثناءات بیا د ۱۱مې مادې په دویمه فقره او ۱۳مه ماده کې ذکر شوي دي. د ۱۱مې مادې استثناءات په ځانګړو حالاتو کې استفاده کېدلای شي لکه د خوراکي توکو یا نورو اړینو توکو د کمښت پر مهال، د ماهیانو پر وارداتو بندیز حمایه کول او داسې نور.

## i. د غېر تعرفوي تدابیرو اړوند د افغانستان ژمنې

افغانستان هېڅ ډول Tariff Quotas سېستم نه لري[64] یعنې افغانستان ته هر څومره توکي واردېږي تعرفه پرې یو ډول وضع کېږي. همدا راز د غېر تعرفوي تدابیرو په لړ کې افغانستان د درملو، طبي الاتو، دسینګار شیانو، درملتون الاتو، د وترنرۍ اړوند طبي الاتو، وترنري درملونو او بیولوژیکي توکو، چاپ شوي کتابونو، بروشرونو، رسالې او نور چاپ شوي توکو، فلمونو، مخابراتي سامان الاتو، وسله‌والو موټرو، وسلو، مرمۍ، نظامي سامان الاتو او داسې نورو توکو د واردولو لپاره جواز یا اجازه یا موافقه غواړي. همدار راز د ګمرکونو قانون (۱۳۹۵ هـ

[63] د حیواناتو او نباتاتو د روغتیا په اړه د تدابیرو موافقه، سوداګرۍ ته د تخنیکي موانعو موافقه د ګمرکي ارزښت موندنې موافقه او د ګاټ ۷مه ماده؛ د توکو د واردولو د لایسنس پروسیجرونو موافقه؛ د منشاء مقرراتو موافقه او د ګاټ ۸مه ماده د غیرتعرفوي موانعو په اړه اصول وضع کړي دي. د یادو هوکړه لیکونو له مخې په ځینو ځانګړو مشروعو حالاتو کې غیرتعرفوي تدابیر مشروع دي البته دغه تدابیر بیا د سازمان د هوکړه لیکونو د اصولو سره سم وي.

[64] Working Party Report (n 51) para 86.

ش) د ٦٦مې مادې له مخې د گمرک مامورين کولای شي پر هغو توکو چې «د ټولنيزو اخلاقو، عامه امنيت، د ژوند چاپېريال ساتنې، د انسانانو، حيواناتو او نباتاتو د روغتيا او ژوند د هنري ارزښت لرونکو ملي ثروتونو، تاريخي او فرهنگي آثارو، يا د سوداگريز او صنعتي شتمنيو او د دولت د نورو پاليسيو په منظور له اړندو تقنيني سندونو سره سم ممنوعيتونو او محدوديتونه وضع کړي».[65]

## ii. د افغانستان وارداتي رژيم (تعرفوي او غېر تعرفوي تدابير)

افغانستان همدا راز د وارداتو رژيم په اړه په قوانينو کې ډېرى بدلونونه راوستي دي. د گمرکونو قانون چې واردات هم تنظيموي، لومړى په ۱۳۸۴هـ ش کال کې په ١٦ فصلونو او ۱۹۴ مادو کې تصويب شو. دغه قانون وروسته تعديل او د مادو شمېر يې ۲۰۷ ته پورته شو. د گمرکونو قانون د وارداتو، تعرفو او ماليو اړوند ټول احکام په تفصيل سره ذکر کړي دي. ياد قانون د گمرکونو اداره،[66] گمرکي تعرفه او د مالونو د بيې ټاکل،[67] ترجيحي تعرفه په هغه صورت کې چې وارداتي مالونه د ټاکلي حجم حد ته محدودوي،[68] د منشاء اصول،[69] پر وارداتو محدوديت يا ممنوعيت وضع کول،[70] گمرکي اظهارليک،[71] گمرکي پړاوونه،[72] آزادې حوزې او گودامونه،[73] گمرکي موقفونه،[74] او گمرکي سرغړونو (تخلفات) په اړه په تفصيل سره احکام ذکر کړي دي.[75]

د سوداگرۍ پر وړاندې د خنډونو کمولو په لړ کې د گمرکونو قانون د ۴۰مې مادې له مخې ۱۹ ډوله اموال (توکي) له گمرکي محصول څخه معاف کړي دي چې په دې کې د تحصيل او تعليم په نيت د کتابونو، جرايدو، مجلو او اخبارونو واردول هم شامل دي. همدا راز ۴۱مه ماده د ترجيحي تعرفو په اړه صراحت کوي چې اظهار کوونکى کولای شي د دې لاسته راوړلو لپاره غوښتنليک وړاندې کړي. البته که ترجيحي تعرفه د

[65] گمرکونو قانون (۱۳۹۵).
[66] پورته مرجع، ۸-۲۳ مادې.
[67] پورته مرجع، ٢٦-۴۰ مادې.
[68] پورته مرجع، ۴۱ ماده.
[69] پورته مرجع، ۴۲-۴٦ مادې.
[70] پورته مرجع، ٦٥-٦٦ مادې.
[71] پورته مرجع، ٦٧-۸۱ مادې.
[72] پورته مرجع، ۸۲-۱۳۸ مادې.
[73] پورته مرجع، ۱۳۹-۱۴۸ مادې.
[74] پورته مرجع، ۱۵۲-۱۷۵ مادې.
[75] پورته مرجع، ۱۸۲-۱۹۹ مادې.

وارداتي مالونو د ټاکلي حجم حد ته محدودوي، نو په دوو حالتونو کې خپل اعتبار له لاسه ورکوي. لومړی د تعرفوي مجاز کمیت؛ دا چې توریدي (وارد شوي) مالونو حجم له ټاکلي حد څخه زیات وي.[76] دویم تعرفوي اعظمي حد دی، چې په اړوندو کړنلارو کې اټکل شوې وي.

د مالونو د منشاء اصل غېر تعرفوي اقدام ګڼل کېږي. د دې اصل اهمیت دا دی چې په ځینو حالاتو کې تعرفې او محدودیتونه د اموالو منشاء ته په کتلو اخیستل کېږي.[77] د ګمرک قانون دغه اصل ته یو فصل ځانګړی کړی دی. ۴۲مه ماده د مالونو منشاء داسې تعریفوي: «هغه مالونه چې په یوه هېواد کې په بشپړه توګه استحصال یا تولید شوي وي، هغه هېواد د مالونو د تولید د منشاء په توګه پېژندل کېږي». یاد فصل د منشاء اصل تصدیق، ترجیحي اسانتیاوو څخه ګټه اخیستنه او که مالونه له یو هېواد څخه په زیاتو هېوادونو کې تولید شوي وي په اړه هم احکام لري چې د منشاء اصل له موافقې سره مطابقت لري.

د غېر تعرفوي تدابیرو په لړ کې افغانستان نور هم ډېری قوانین تصویب کړي دي. موږ مخکې یادونه وکړه چې افغانستان په ځینو حالاتو کې د مالونو واردولو لپاره جواز یا اجازه غواړي. د مثال په توګه د درمل، طبي الاتو، د سینګار شیانو، درملتون الاتو د توريد په اړه د عامې روغتیا قانون( ۱۳۸٦ هـ ش)، د درملو قانون (۱۳۸۷ هـ ش) ، د درملتون مقرره (۱۳۸۵ هـ ش)، د درملو او طبي لوازمو د تولید او توريد مقرره (۱۳۸۵ هـ ش) تصویب شوي دي چې تر دې دمه نافذ دي او د یادو قوانینو له مخې اشخاص باید د نوموړو اموالو تر وارداتو وړاندې باید جواز ولري او د جواز نه درلودلو په صورت کې نه شي کولای چې یاد توکي وارد کړي. همدا راز، د وترنرۍ اړوند طبي الاتو، وترنري درملونه او بیولوژیکي توکو اړوند یې د حیواني روغتیا (وترنرۍ) قانون (۱۳۹۵ هـ ش) تصویب کړی دی. سربېره پر دې د کتابونو د توريد اړوند د ولسمشر تقنیني فرمان دی چې (۱۳۸۵ هـ ش) کې یې صادر کړی دی. د فلمونو واردولو په اړه د ۱۹۸۹ز کال مقرره شته ده. د وسلو او اړوندو توکو د واردلو په اړه د کورنېو چارو وزارت لایحه ده چې په ۲۰۱۱ز کال یې صادره کړې ده. افغانستان همدا راز د تخنیکي خنډونو د موافقې د تطبیق لپاره د ملي ستاندرد قانون په ۲۰۱۰ز کال کې په ۳۴ مادو کې تصویب کړ چې د تخنیکي استندردونو په اړه په کې په تفصیل سره احکام ذکر شوي دي. د یاد قانون د تطبیق لپاره افغانستان د ستندرد ملي اداره تاسیس کړه. د حیواناتو او نباتاتو د روغتیا اړوندو تدابیرو موافقې د تطبیق مرجع د کرنې،

---

[76] خو افغان استازي د سازمان کاري ډلې ته (وګوره: کاري ډلې ریپورټ: ۸٦ پارګراف) ویلي وو چې دوی هېڅ ډول تعرفوي مجاز کمیت یا د وارداتو لپاره سهمیې سستم نه استعمالوي.

[77] <https://www.wto.org/english/tratop_e/roi_e/roi_info_e.htm> accessed 2 July 2019.

آبیارۍ او مالدارۍ او د عامې روغتیا وزارتونه دي. د سازمان د اصولو سره د مطابقت لپاره افغانستان د نباتي ورایټیو د حفاظت (ساتنې) قانون (۱۳۹۵ هـ ش)، د حیواني روغتیا (وترنري) قانون (۱۳۹۵ هـ ش)، د کرنیزو آفت وژونکو قانون (۱۳۹۵ هـ ش)، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین قانون (۱۳۹٦ هـ ش) او د خوراکي توکو د خوندیتوب (مصئونیت) قانون (۱۳۹۵ هـ ش) تصویب کړل. د یادو قوانینو تر انفاذ وروسته پخواني قوانین چې د وترنرۍ د خدماتو د او نباتاتو د قرنطین په اړه نافذ وو ملغی شول. د نویو قوانینو تصویبولو موخه یوازې د افغانستان په داخلي قوانینو کې د سازمان پېشنهادنو او معیارونو تطبیقول وو. د یادونې وړ ده چې افغانستان تر دې دمه د هغو توکو په اړه چې د بایوټکنالوژۍ پر مټ تولید شوي وي هېڅ قانون او مقرره نه لري او نه یې واردات تر دې دمه د افغانستان د کوم قانون له خوا تنظیمېږي.[78]

## d. شفافیت

د سازمان یو بل مهم اصل شفافیت دی. د ګاټ ۱۰مه ماده، د ګاټ ۳مه ماده او د TRIPS ٦۳مه ماده د شفافیت په اړه احکام ذکر کړي دي. د ګاټ لسمې مادې له مخې غړي هېوادونه د افغانستان په شمول مکلف دي چې ټول قوانین، مقررې، قضایي پریکړې، اداري احکام په داسې ډول نشر کړي چې حکومتونه او سوداګر ورسره اشنا شي. همدا راز هر هېواد مکلف دی چې د توکو اصناف او د هغې اټکل شوې بیې د ګمرکي موخو لپاره؛ ګمرکي مالیو او محصولاتو اندازاه؛ په وارداتو او صادراتو باندې وضع شوي شرایط، محدودیتونه او ممنوعیتونه؛ هغه موافقې چې پر نړېوال تجارت اغېزه کوي او د سازمان د غړو هېوادونو تر منځ یا د یو غړي او بل هېواد ترمنځ ترسره شوي وي نشر کړي.

د ګاټ ۱۰مه ماده پر دې سربېره د غړو هېوادونو څخه غواړي چې د سوداګرۍ اړوند ټول مقررات یو ډول، بې پرې او په معقول ډول اداره کړي. همدا راز دغه ماده له غړو هېوادونو غواړي چې پر وارداتو د اضافه مالیې له وضع کولو وړاندې باید نوې تعرفې نشر کړي او تر نشر وړاندې د اضافه تعرفو وضع کولو او د نورو تدابیرو له اخیستلو ډډه وکړي.

[78] Working Party Report, (n 51) para 182.

## i. افغانستان او د شفافیت اصل

سازمان ته تر الحاق وړاندې افغانستان په دې مکلف نه و چې ملکي قوانین او نور مقررات نشر کړي. البته سازمان ته له الحاق وروسته بیا د ګاټ د لسمې مادې سره سم باید ټول قوانین او مقررات نشر کړي. له سازمان سره د مذاکراتو پر مهال افغان استازو ژمنه وکړه چې تر الحاق وروسته به د ګاټ ۱۰مه ماده په بشپړه توګه تطبیق کړي او د سازمان د هوکړه لیکونو سره سم به ټول معلومات سازمان ته ورکوي. افغانستان همدا راز پر دې توافق وکړ چې افغانستان به د سازمان له اصولو سره سم سازمان ته پر خپل وخت او د سازمان له خوا د وضع شوو شرایطو سره سم اطلاع ورکوي.[79]

افغان استازي همدا راز څرګنده کړه چې عمومي عادت یا رواج دا دی چې افغانستان د قوانینو مسودې د عامه خلکو د تبصرو لپاره نه نشروي. مسودې یوازې د هغو اشخاصو، ډلو او ارګانونو سره شریکېږي چې په یاد قانون کې علاقه ولري یا ترې اغېزمن کېږي. هغه وویل چې افغانستان تازه اوس پر یوې نوې مسودې کار کوي چې د شفافیت اصل اړوند شرایط چې د سازمان د هوکړه لیکونو سره به مطابقت ولري ځای پر ځای کړي.[80]

د تقنیني سندونو د خپرولو او انفاذ د ډول قانون لومړی په ۱۴۲۰ هـق (۱۹۹۹ز کال) کال کې تصویب شو. د دغه قانون پنځمه ماده د یو شمېر سندونو د خپرولو په اړه صراحت کوي. د پنځمې مادې له مخې په رسمي جریده کې د «اسلامي امارت رسمي اعلامیې چې عامو خلکو ته یې خبرتیا لازمه وي، قوانین، مصوبې، او نور پارلماني تقنیني سندونه» خپرېږي؛ پر دې سربېره فرمانونه، مقررې، اساسنامې او د وزیرانو د شورا مصوبې چې تقنیني ماهیت ولري؛ همدا راز نړېوال تړونونه، موافقتنامې او نړېوالې مقاولې چې د افغانستان له خوا لاسلیک کېږي او د هغو د تصویب په هکله فرمانونه؛ هغه تقنیني سندونه چې د قانون له حکم سره سم یې ستره محکمه د تصویب واک ولري او تجارتي علایم او د سندونو د ثبت اعلانونه په رسمي جریده کې خپرېږي. افغانستان وروسته په ۱۳۹۵هـ ش کال کې د تقنیني سندونو د خپرولو او انفاذ ډول قانون په ٦٨ مادو کې تصویب کړ. دا قانون تر پخواني قانون ډېر جامع دی. یاد قانون د تسوید، تدقیق او تایید، تصویب، توشیح، نشر او داسې نورو په اړه په تفصیل سره احکام لري. البته د عدلیې وزارت د رسمي جریدې رسمي ډیتابېس

[79] ibid, para 285-291.

[80] ibid, para 285.

اوس نښيي چې پورته دواړه قوانين اوس ملغی دي او اوس څرګنده نه ده چې د تقنيني سندونو نشر د کوم قانون له مخې تنظمېږي.

## e. د شخړو حل و فصل

د سازمان د شخړو د حل و فصل سېستم پر ټولو هغو شخړو تطبيقېږي چې د سازمان تر هوکړه ليکونو لاندې راوړل شوي وي او د شخړو د حل و فصل د پوهاوي Dispute Settlement Understanding (DSU) په ضميمه کې ذکر شوي وي. دغو هوکړه ليکونو ته په DSU کې Covered Agreements وايي[81] او دواړه څو اړخيز او ګڼ اړخيز هوکړه ليکونه پکې شامل دي.[82] د سازمان هر هوکړه ليک يوه يا دوه مادې د شخړو د حل و فصل په اړه لري چې له مخې يې هر غړی هېواد کولای شي خپله شخړه د سازمان د شخړو د حل و فصل د رکن له خوا حل کړي.[83] د ګاټ ۲۲مه او ۲۳مه مادې هم د شخړو د حل و فصل په اړه احکام لري. همدا راز د شخړو د حل و فصل په پروسيجرونو کې د لږو پرمختلليو هېوادونو لپاره ځانګړي امتيازونه ورکول شوي دي او د دوی لپاره ځانګړي اصول وضع شوي دي.[84] د DSU ۲۴مه ماده له غړو هېوادونو غواړي چې د لږو پرمختلليو هېوادونو ځانګړي حالتونه د شخړو د حل په ټولو پړاوونو کې په نظر کې ونيسي. همدا راز له غړو هېوادونو څخه غوښتل شوي چې د لږو پرمختلليو هېوادنو خلاف دې د قضيو راوړلو څخه حدالامکان ځان وساتي او که لږ پرمختللی هېواد قضيه بايلي يا د لږ پرمختللي هېواد له خوا اخيستل شوي تدابير د سازمان د موافقو خلاف وي، نو شکايت کوونکی هېواد دې د تاوان غوښتلو، يا د تعرفو ښکته کولو يا بلې وجيبې له وضع کولو څخه تر حدالامکان ځان وساتي، يعنی نه دې ترې غواړي.

## i. افغانستان او د شخړو د حل و فصل سيستم

افغانستان ته د سوداګرۍ نړېوال سازمان غړيتوب د اخېستلو يوه احتمالي ګټه د هغې د «شخړو د حل و فصل» سېستم څخه کار اخېستل ښودل کېده. افغانستان هيله من دی چې د ګاونډيو او نورو تجارتي شراکت دارو هېوادونو له خوا د سازمان د اصولو و قوانينو د نقض په صورت کې به د شخړو د حل و فصل سېستم څخه

[81] Understanding on Rules and Procedures Governing the Settlement of Disputes (15 April 1994) art 1 (1).

[82] Substantive scope of the dispute settlement system <https://www.wto.org/english/tratop_e/dispu_e/disp_settlement_cbt_e/c1s5p1_e.htm> accessed 2 July 2019.

[83] Bossche and Zdouc (n 37) 172.

[84] ibid, 300.

استفاده وکړي او هغوی به دې ته مجبور کړي چې د سازمان له اصولو سره سم عمل وکړي.[85] د سازمان د شخړو د حل و فصل سېستم د نړۍ تر بل هر نړېوال سازمان څخه بریالی ګڼل کېږي. د کامیابۍ ډېر لاملونه يې دي چې یو يې هم په ټاکلي وخت کې د شخړو حلېدل دي، او دویم يې دا چې هېوادونه د سازمان پرېکړې عملي کوي او د نه عمل په صورت کې بل هېواد ته د دې اجازه ورکوي چې متقابل عمل وکړي.

د شخړو د حل و فصل سېستم په تیورۍ کې د ټولو غړو هېوادنو لپاره خورا ښه ښکاري، خو واقعیت بیا بل ډول دی چې دغه سېستم یوازې د پرمختللیو او مخ پر ودې هېوادونو لپاره اغیزمن ثابت شوی دی؛ خو د لږو پرمختللیو هېوادونو لپاره ځانګړې څه نه لري.[86] تر دې دمه په ۵۸۴ قضیو کې یوازې یو ځل لږ پرمختللي هېواد د نړېوال سوداګرۍ سازمان د شخړو د حل و فصل سېستم کارولی دی.[87] هغه هم بنګلادیش د هند خلاف په ۲۰۰۴ز کال کې د ډمپینګ په یوه قضیه کې کارولی و چې د پینل تر جوړېدو وړاندې بیا دغه ستونزه حل شوه.[88] د لږو پرمختللیو هېوادونو لخوا د شخړو د حل و فصل سېستم د نه کارولو لاملونه خورا ډېر دي، خو تر ټولو مهم يې دا دي چې په سازمان کې پر دعوو مصارف زیات راځي؛ بل لږ پرمختللي هېوادونه تخنیکي ظرفیت نه لري چې خپلې قضیې په خپله پر مخ یوسي؛ دریيم دا چې د نړېوالې سوداګرۍ په برخه کې پوهان يې له نشت سره برابر دي؛ او څلورم دا چې پرمختللي هېوادونه د افغانستان په ګډون تل د نورو تر سیاسي فشار لاندې وي او له همدې کبله نشي کولای چې په نړېوالو فورمونو کې له خپلو حقونو دفاع وکړي.[89]

## f. سالم رقابت/سوداګري

د سازمان غړي که له یوې مخې دا مکلفیت لري چې تعرفې او نور د سازمان اصول د تبعیض پرته تطبیق کړي او هغه لوړې تعرفې وضع نه کړي چې له سازمان سره يې پرې ژمنه کړې ده خو؛ د بلې مخې غړي هېوادونو ته د دې حق هم ورکړل شوی چې د «نا سالمه رقابت/سوداګرۍ» پر مهال اضافي تعرفې وضع کړي. سازمان په

---

[85] < http://moci.gov.af/en/page/the-wto> accessed 2 July 2019.

[86] Mary Kirkbride, 'Getting the Fundamental Rights: The Early Stages of Afghanistan's WTO Accession Process' (2007) 92 Oxfam Briefing Paper 1, 17-18.

[87] ټول لست دلته کتلای شئ:

https://www.wto.org/english/tratop_e/dispu_e/dispu_status_e.htm

[88] *India — Anti-Dumping Measure on Batteries from Bangladesh*, (28 January 2004) WTO DSU Reports.

[89] Sharmin J Tania, 'Least Developed Countries in the WTO Dispute Settlement System' (2013) 60 (3) Netherlands International Law Review 375, 381-384.

ځانګړي ډول د «نا سالمې سوداګرۍ» اصطلاح نه ده تعریف کړې او نه هم دا تر دې دمه ځانګړې شوې چې «سالمه سوداګري» څه معنا لري او «ناسالمه سوداګریز اعمال» څه دي؟ البته سازمان د ډمپېنګ (Dumping) او سبسېډي (Subsidy) په اړه په تفصیل سره اصول ذکر کړي چې په عام ډول دغه دواړه اعمال «غېر سالم» ګڼل کېږي او له همدې کبله سازمان د دواړو اعمالو اړوند دوه بېلابېل هوکړه لیکونه لري چې لاندې به په تفصیل سره ذکر شي.[90]

## i. ډمپېنګ Dumping

د ګاټ ۴مه او د ډمپېنګ ضد هوکړه لیک د ۲مې مادې لومړۍ فقره ډمپېنګ تعریف کړی دی. د ډمپېنګ عمومي مانا دا ده چې یو هېواد خپل صادراتي توکي د بل هېواد مارکېټ ته تر هغه په کم ارزښت وړاندې کړي چې په خپل داخلي مارکیټ کې یې پلوري. د ډمپېنګ د حقوقي تعریف له مخې هېوادونه په هغه صورت کې د ډمپینګ خلاف اقدام کولای شي چې د ډمپېنګ له کبله داخلي ورته یا شبیهه یا مستقیم رقابتي صنعت ته جدي تاوان یا تهدید پېښ کړي. حکومتونه باید مخکې تر دې چې د ډمپېنګ ضد تدابیر واخلي باید لومړۍ دا ثابته کړي چې ایا ډمپېنګ شوی؟ که شوی نو څومره شوی؟ او ایا ډمپېنګ داخلي صنعت ته زیان رسوي یا جدي تهدید ورته پېښوي؟ له همدې کبله ډمپېنک په خپل ذات کې بد نه دی، بلکې هغه مهال ښه نه ګڼل کېږي کله چې د ډمپېنګ له کبله داخلي صنعت ته د وارداتو له کبله زیان ورسېږي. د مثال په توګه پاکستاني زراعتي شرکتونه په پاکستاني بازار کې یو ټن امونه په ۴۰ زره کلدارې خرڅوي؛ خو د افغانستان په بازار کې ورته امونه د ۳۰ زرو کلدارو معادلو افغانیو باندې خرڅوي، سره له دې چې پر دې د حمل و نقل مصارف هم راغلي او تعرفه هم پرې وضع شوې خو د دې باوجود یې نرخ د پاکستان تر داخلي مارکیټ ارزانه دی. دلته په ساده عبارت تر ۱۰ زره روپۍ زیات ډمپېنګ شوی دی او افغانستان په هغه صورت کې چې د امونو کم نرخ د افغانستان داخلي صنعت ته زیان رسوي یا داخلي صنعت تهدیدوي کولای شي د ډمپېنګ ضد هومره مالیه واخلي څو خپل داخلي صنعت د وارداتو له اغېزو وساتي.

د ګاټ ٦مه ماده هېوادونو ته د دې اجازه ورکوي چې د ډمپېنګ خلاف اقدام وکړي. د ډمپېنګ ضد هوکړه لیک د ګاټ شپږمې مادې په اړه نور تفصیل ورکړی دی. د ډمپېنګ ضد هوکړه لیک هېوادونو ته د دې جواز ورکړی چې د ډمپېنګ په صورت کې پر وارداتو اضافي تعرفې وضع کړي، څو د ډمپ شوي توکي نرخ «نورمال ارزښت» ته نېږدې کړي یا داخلي صنعت ته چې کوم زیان رسېږي هغه زیان نفي کړي.

[90] Bossche and Zdouc (n 37) 674.

## ii. سبسېډي Subsidies

د «غیرې سالمې سوداګرۍ» دویم ډول صادراتو یا داخلي توکو ته سبسېډي ورکول دي. د ګاټ ۱٦مه ماده او د سبسېډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک په دې اړه احکام لري چې تر کومه حده د سبسېډي ورکول جواز لري او کومه سبسېډي ممنوع ده. د ګاټ ۱٦مه ماده سبسېډي نه ده تعریف کړې، بلکې یوازې یې غړي هېوادونه مکلف کړي چې د سبسېډي په اړه چې سوداګري اغېزمنوي باید سازمان ته خبر ورکړي او همدا راز که سبسېډي د بل غړي هېواد ګټو ته جدي تاوان رسوي، غړي هېوادونه باید خپله سبسېډي محدوده کړي. د اوروګوای د خبرو اترو پر مهال د سبسېډي او تعویضي تدابیرو په اړه ځانګړی هوکړه لیک تصویب شو. دغه هوکړه لیک سبسېډي داسې تعریف کړه: «سبسېډي هغه مالي مرستې دي چې د دولت له لوري ورکول کېږي او ګټه ترې ترلاسه کېږي». لومړۍ ماده دوه مهم شرایط لري. لومړی شرط دا دی چې له تولیداتو سره مالي مرسته شوې وي او دویم دا چې دغه مالي مرسته ګټه ورسوي. مالي مرسته په دې مانا چې دولت له تولیدونکو سره مستقیم نغدي مرستې وکړي، یا قرضونه ورکړي یا دولت له داخلي شرکتونو مالونه واخلي او داسې نور. د ګټې د ترلاسه کولو مانا دا ده چې که چېرې دولت له تولیدونکو سره مالي مرسته نه وي کړې، نو هغه ګټه چې اوس یې ترلاسه کړې، شاید نه وای ترلاسه کړې. د مثال په توګه دولت داخلي تولیدونکو ته په داسې شرایطو قرضونه ورکوي چې ډېر ګټور وي خو په همدې شرایطو قرضونه نورو ته نه ورکوي.

د سبسېډي او تعویضي تدابیرو هوکره لیک د لومړۍ مادې لومړۍ او دویمې فقرې له مخې د سبسېډي په اړه د سازمان اصول یوازې پر ځانګړو سبسېډي تطبیقېږي، که سبسېډي په عام ډول هر چاته ورکول کېږي هغه د یاد هوکړه لیک له مخې منع نه ده. د سبسېډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک څلور ډوله سبسېډي منع کړې: لومړی هغه سبسېډي چې ځانګړو شرکتونو ته ورکول کېږي او ټولو ته نه ورکول کېږي؛ دویم هغه سبسېډي ده چې ځانګړو صنعتونو ته ورکول کېږي؛ دربیم هغه سبسېډي ده چې د یوې ځانګړې جغرافیاوي سیمې ته ورکول کېږي؛ او څلورم؛ ممنوعه سبسیډي ده چې د سبسېډي او تعویضي تدابیرو په هوکړه لیک کې ذکر شوې دي.[91]

د سبسېډي او تعویضي تدابیرو هوکړه لیک له مخې سبسېډي پر دربیو صنفونو وېشل شوې. لومړۍ ممنوعه سبسېډي ده چې د صادراتو تر فعالیت پورې مشروط وي یا د وارداتو بدیل استعمالول وي، مانا دا چې

---

[91] <https://www.wto.org/english/thewto_e/whatis_e/tif_e/agrm8_e.htm> accessed 29 June 2019.

سبسبډي په هغه صورت کې يو صنعت ته ورکړل شي چې د وارداتو پر ځای داخلي توکي وکاروي.[92] دویم ډول يې تعقيبي سبسبډي ده او دا په ځانګړې ډول نه ده تعريف شوې، بلکې هر هغه څه چې د سبسبډي تر تعريف لاندې راځي هغه تعقيبي سبسبډي ګڼل کېږي. د سبسبډي او تعويضي تدابيرو هوکړه ليک د ۵مې مادې له مخې هر هغه اقدام چې د ياد هوکړه ليک د تعريف له مخې سبسبډي ګڼل کېږي او د سازمان غړي هېواد خلاف ناوړه اغېزه ولري هغه تعقيبي سبسبډي ګڼل کېږي. دریيم ډول غير تعقيبي سبسبډي ده لکه د تحقيق په موخه سبسبډي ورکول يا هغو سيمو ته سبسبډي ورکول چې وروسته پاتې وي.[93] البته دغه سبسبډي حکم په ۲۰۰۰ز کال کې لغوه شو او اوس هر هغه ډول سبسبډي چې ځانګړې وي هغه تعقيبي سبسبډي ده او که بل غړي ته زيان رسوي نو منع ده.

## iii. تعويضي تدابير Countervailing Measures

غړي هېوادونه کولای شي چې د منع شوو او تعقيبي سبسبډي پرضد تعويضي ماليه وضع کړي. د سبسبډي او تعويضي تدابيرو هوکړه ليک پنځم فصل د تعويضي تدابيرو د اخيستو لپاره شرايط وضع کړي دي. دغه فصل هر غړي هېواد ته د افغانستان په شمول د تعويضي ماليو د وضع کولو اجازه په هغه صورت کې ورکوي چې لاندې درې شرايط پوره کړي:

1. وارداتو ته سبسبډي ورکول شوي وي؛
2. وارداتو، داخلي صنعت ته زيان رسولی وي؛ او
3. وارداتو چې سبسبډي ورکول شوې وي او د زيان ترمنځ ربط وي (يعنې داخلي صنعت ته زيان د وارداتو له کبله رسېدلی وي).[94]

تعويضي تدابير هم لکه د ډمپېنګ ضد ماليه ده، خو دا بيا د ډمپېنګ خلاف په عمل کې ډېره نه استفاده کېږي او د دې ډېر لاملونه دي. يو لامل يې همدا دی چې ډمپېنګ د شخصي شرکتونو کار دی او سبسبډي ورکول د حکومتونو. په دې حالت کې کله چې د سبسبډي خلاف تحقيقات کېږي او معلومات تحليل کېږي،

[92] Agreement on Subsidies and Countervailing Measures (15 April 1994) art 3.

[93] ibid, art 8.

[94] ibid, art 11 (2).

نو هېوادونه مجبور دي چې د بل هېواد په چارو کې لاسوهنه وکړي او هېوادونه د مصلحتونو له مخې دا کار نه کوي. دويم دا چې د سبسډي ضد ماليې په اړه څېړنې نسبتاً د ډمپينګ ضد څېړنو ته ډېرې پېچلې دي. مثلاً د سبسډي معلومول او بيا دا هم معلومول چې يادې سبسډي دې داخلي صنعت ته زيان رسولی وي، دا هر څه ډېرو تحقيقاتو او د مقابل هېواد همکاريو ته اړتيا لري.

## iv. افغانستان او سالمه سوداګري/رقابت

افغانستان تر دې دمه د ډمپينګ، سبسډي او تعويضي تدابيرو په اړه کوم قانون تصويب کړی نه دی. البته افغانستان په نظر کې لري چې د ډمپينګ او تعويضي تدابيرو په اړه قوانين تصويب کړي. د بهرنيو اموالو د سوداګرۍ قانون د مسودې ۱۷مې مادې د ډمپينګ ضد او تعويضي تدابيرو په اړه صراحت کړی دی چې له مخې به يې د يادو تدابيرو په اړه ځانګړي قوانين تصويبيږي چې د سازمان له هوکړه ليکونو سره به مطابقت ولري.[95]

## پايله

سازمان ته تر الحاق وروسته افغانستان په لسګونو قوانينو، مقرراتو او لايحو کې تغيرات راوستل. موږ په دې مقاله کې ځانګړې ځينې برخې چې زموږ په نظر مهمې وي تحليل کړې. دوه مهمې برخې (معنوي ملکيت او د پانګونې رژيم) چې اوسنی مقاله يې اوږدوله بلې ځانګړې مقالې ته پرېښودلې. په دغو دوو اړينو برخو کې افغانستان ډېر قوانين تصويب کړي دي او افغانستان په ځانګړي ډول د معنوي ملکيت د هوکړه ليک په برخه کې د سازمان پر اصولو نورې زياتې غوښتنې منلي دي.

---

[95] Working Party Report (n 51) para 134.

سازمان ته الحاق یوه اوږده، ستونزمنه، وخت نیونکې او پېچلې پروسه ده. افغانستان دغه پروسه په ۱۲ کلونو کې طی کړه، او په دې برخه کې یې د سازمان پر اصولو ډېرې نورې غوښتنې پر ځان ومنلې او هم له ډېرو حقونو څخه تېر شو. افغانستان د سازمان له حقونو څخه د برخمن کېدو او د وجایبو د پلي کولو په برخو کې په لسگونو قوانینو کې بدلونونه راوستل. په ځینو برخو کې یې انتقالي موده واخیستله چې تر ډېره دغه موده د ۲۰۱۹ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې وه.

د معنوي ملکیت قانون په برخه کې افغانستان اضافي وجایب واخیستل چې یو یې هم له انتقالي مودې څخه تېرېدل و. لږ پرمختللي هېوادونه د ۲۰۳۳ز کال پورې انتقالي موده لري، یعنې دوی ته دا حق ورکړل شوی چې د معنوي ملکیت اړوند د سازمان د هوکړه لیک ځینې مادې نقض کړي. البته افغانستان بیا دغه حق نه لري؛ ځکه افغانستان د مذاکراتو پر مهال ژمنه وکړه چې د جنورۍ تر لومړۍ نېټې پورې به د TRIPS هوکړه لیک د معنوي مالکیت په اړه په بشپړه توگه تطبیق کړي. همدا راز د کرنې هوکړه لیک، سبسېډي او تعویضي تدابیرو او نورو هوکړه لیکونو کې له ډېرو حقونو څخه تېر شو چې په ابتدا کې اصلي غړو ته ورکړل شوي وو.

افغانستان که څه هم د سازمان د ستونزو حل و فصل سېستم ته خوښ برېښي؛ خو په عمل کې له دې سېستم څخه د افغانستان په څېر د یو اقتصادي او تخنیکي پلوه کمزوري هېواد په توگه استفاده ستونزمنه ده. دغه سېستم یوازې د پرمختللیو او مخ پر ودې هېوادونو لپاره اغېزمن ثابت شوی دی خو لږو پرمختللیو هېوادونو ترې د ډېرو لاملونو له کبله تر اوسه په سمه توگه گټه نه ده اخیستې.

پای

# آموزه های پروسه های صلح برای افغانستان؛ قرارداد کلمبیا و فارک[1]

مارتینا فن بیلرت[2]

**چکیده**

*[این مقاله به توافقنامه صلح میان دولت کلمبیا و گروه بزرگ چریکی آن کشور (فارک) در سال ۱۳۹۵ خورشیدی را مرور نموده است. در این مقاله عمده ترین گزینه ها از قبیل گفتگو بدون آتش بس، ملاقات جانبین در خارج از کشور، اجندای محدود و قابل مطالبه و نیز در نظر گرفتن زمان لازم را بحث نموده و توضیح می کند که کارنامه ای صلح کلمبیا چگونه موارد امکان پذیر پروسه‌ی صلح و موارد چالش بر انگیز برای پایان دادن به یک جنگ پیچیده را مطرح می سازد.]*

---

[1]این تحقیق برای بار اول توسط خانم" مارتینا فن بیلرت" در نشریه شبکه‌ی تحلیلگران افغانستان به زبان انگلیسی به نشر رسیده و بعداً توسط محترم ضیاء مبلغ؛ به زبان دری ترجمه شده است. اینک ژورنال تحقیق ترجمه‌ی دری تحقیق را بخاطراستفاده‌ی اطراف درگیر و مراجع تصمیم گیر و پالیسی ساز کشور در رابطه به صلح، به نشر میرساند. منازعه‌ی کلمبیا مشابهت هایی با جنگ در افغانستان دارد که تا حد زیادی درین تحقیق بیان گردیده است. همچنان این منازعه، مفارقت هایی با منازعه‌ی جاری در کشور ما دارد که در مواردی به آن اشاره گردیده و مواردی هم مسکوت مانده است. به هرحال، منطقی نخواهد بود که ما بخاطر آوردن صلح در کشور، مودل صلح کلمبیا را به عنوان یک مودل کامل مورد استفاده قرار دهیم. ولی بدون شک، تجربه‌ی صلح کلمبیا بعد از نیم قرن جنگ و نزاع داخلی، می تواند درسهای زیادی برای صلح آوران در کشور ما نیز داشته باشد. شاید بزرگترین درسی که از مطالعه‌ی این تجربه گرفته می شود، عدم استعجال و دادن وقت کافی به پروسه‌ی صلح باشد. همچنان، اطراف درگیر در منازعه‌ی افغانستان می توانند ازین تجربه درسهای خوبی از صبر و استقامت در راستای آوردن صلح و دادن قربانی متقابل بخاطر پایان دادن به جنگ و خون ریزی در کشور، حاصل نموده به بعضی زاویای جدید پروسه‌ی صلح، متوجه گردند.
به همین خاطر، هیئت تحریر ژورنال تحلیل تصمیم گرفت که به جز تعدیل کلماتی محدود، تحقیق را بطور کامل و بدون تصرف به نشر برساند. موافقت اداره با تمام محتویات تحقیق شرط نیست، ولی بدون شک، تمام جهات ذیدخل در جنگ و صلح کشور، می توانند چیز های جدیدی در رابطه به جنگ و صلح، از این تحقیق بیاموزند. اداره

[2] مارتینا فن بیلرت یکی از بنیانگذاران شبکه تحلیلگران افغانستان است. او در ایران پیش از انقلاب اسلامی بزرگ شده، جامعه شناسی جامعه های غیر غربی را در دانشگاه لیدن در هالند (۱۹۹۴-۱۹۹۸م) مطالعه کرده و از آن زمان بیش از ۱۲ سال در افغانستان، ایران و پاکستان کار و زندگی کرده است.

***واژه های کلیدی:*** *صلح کلمبیا، فارک، افغانستان، صلح، طالبان*

## 1. منازعه‌ی کلمبیا؛ شباهت ها و تفاوت های آن با افغانستان

### افغانستان در جستجوی پروسه‌ی‌صلح

افغانستان در پی یک پروسه‌ی صلح است. حکومت افغانستان با هدف به دست آوردن ابتکار صلح، اخیراً یک برنامه‌ی صلح را ارایه کرده است.[3] ایالات متحده نیز به طور مرتب زیگنالهای خبری پیرامون امکان دستیابی به یک راه حل – یا از راه گفتگوهای مستقیم با طالبان و یا با حضور حکومت افغانستان می فرستد. طالبان نیز درمواضع خود انعطاف به وجود آورده اند تا امکان گفتگوهای آزمایشی را فراهم سازند اما تا به حال تعهد و یا خواستی جهت صلح از طریق گفتگوی دو جانبه ابراز نکرده اند. رابطه‌ی سه جانبه (حتی بدون احتساب دیگر زمینه های منطقه‌ای و یا بین المللی) پیچیده است و تا به حال منجر به شکل گیری یک پروسه‌ی‌هدف مند و یا به وجود آوردن تفاهم نگشته است، اگرچه، (این روند) فرصت هایی را فراهم می کند.با وجود مطرح شدن امکان یک پروسه‌ی‌صلح و تمایل به تسریع این پروسه، اغلب کمتر موضوعاتی مورد التفات قرار می گیرند که ناظر بر مدت زمان مذاکره، دشواری و نا استواری آن، میزان باور به صلح و شکیبایی و نیز نیاز به مهارت رسیدن و حفظ توافق صلح می باشند. بنابر این مطالعه‌ی دیگر پروسه های صلح می تواند به مباحث صلح عمق لازمه بخشیده و آنان را هم امیدوار سازد (که دو جانبی که احساس می کنند متضرر شده، به یکدیگر پشت کرده و قابل اعتماد نیستند، می توانند به صلح برسند) و نیز یادآور واقع گرایی باشند ( چرا که پروسه های صلح طولانی بوده و غالبا به ناکامی منجر میگردند و رهآورد آنها در کوتاه مدت نمی تواند منجر به امیدواری برای برقراری ثبات گردد.)

چندین دهه مطالعات افغانستان خاطر نشان می سازد که منازعات، زمانی که از درون بررسی می شوند، در مقایسه با مشاهده‌ی آن از خارج و یا از بالا، بسیار مغلق تر و وابسته به بافتار است. با این وجود، جهت امکان مقایسه‌ی دو کشور و برای ایجاد انگیزه و ارایه تجارب آن، این تحقیق با فشرده‌ی بازخوانی منازعه‌ی کلمبیا و

---

[3] Thomas Rutting, Getting to the Steering Wheel: President Ghani's new set of peace proposals, The Afghanistan Analysts Network, 4th December 2018, see it online:< https://www.afghanistan-analysts.org/getting-to-the-steering-wheel-president-ghanis-new-peace-proposals/>

ارتباط آن با افغانستان آغاز شده و سپس به طور مبسوط تر به گفتگوهای صلح و نیز بررسی اجمالی ارتباط آن گفتگوها با مورد افغانستان می پردازد.[4]

## درگیری در کلمبیا

درگیری کلمبیا ریشه در جنگ داخلی میان دو حزب اصلی کشور، محافظه کاران و لیبرال ها دارد که در سال ۱۳۲۸ هـ ش شروع شد. بعد از یک دهه خشونت که منجر به کشتار تقریبا دو صد هزار تن گردید، دو جانب تصمیم گرفتند که قدرت را بر اساس یک نظام دو حزبی تقسیم کنند که باعث حذف دیگر گروه ها گردید. زمانی که زمین داران کوچک و زارعان نسبت به مصادره‌ی مزارع شان جهت توسعه‌ی فارم های صنعتی اعتراض کردند، حکومت جدید با تکیه بر حمایت امریکا، کمپاین سرکوب‌گرانه‌ی ضد کمونیستی را آغاز کرد و این سرکوبها منجر به ظهور گروه های شورشی جدید به شمول فارک گردید که به کمونیستها وابستگی داشتند. تأسیس فارک (FARC)- نیروهای مسلح انقلابی کلمبیا [5] – بویژه محصول حملات وسیع ارتش طی سال ۱۳۴۲هـ ش بر "جوامع مدافع خود" (self-defense community) در جنوب کشور می باشد. با وجود آنکه فارک راهش را به سوی شهرها نیز باز نمود، اما وسیعاً به صورت یک جنبش روستایی باقی ماند. این جنبش بسیار منظم و متشکل از گروههای کوچک تاکتیکی بود که واحدهای بزرگ جنگی را شکل می دادند که می توانستند به صورت قطعه های منطقه ای تنظیم گردند.[6]

---

[4] جهت مطالعه‌ی‌بیشتر درمورد صلح کلمبیا: انستیتوت گذار فراگیر (IFIT) ، مذاکرات صلح کلمبیا، درسهایی کاربردی برای مذاکره کنندگان جهانی، میزان ۱۳۹۷ هـ ش؛ رنتا زگورا و دلفین میشولان، ساخت هاوانا: کلمبیا و فارک چگونه مصمم به پایان جنگ شدند، انستیتوت بین الملل صلح، دلو ۱۳۹۶ هـ ش؛ ویرجینیا م. بوییر، جنسیت و نقش زنان در پروسه‌ی‌صلح کلمبیا، یوان ومن UNwomen، ۱۴ حوت ۱۳۹۴ هـ ش ؛ سیلکه پفافیر، زیربنای صلح کلمبیا، بنیاد برگهوف، ۱۳۹۳ هـ ش؛ جیم ویس، برد، گفتگوهای پنهانی فراهم آورنده‌ی‌صلح کلمبیا، میامی هرالد، ۲ میزان ۱۳۹۵ هـ ش؛ مصاحبه با دگ نیلندر، رادیو سی بی سی، ۳۱ سنبله ۱۳۹۵

[5] فارک (FARC) مخفف اسم سازمان به زبان اسپانیایی و عبارت است از: *Fuerzas Armadas Revolucionarias de Colombia–Ejército del Pueblo*، به انگلیسی Revolutionary Armed Forces of Colombia – the People's Army. و به معنای نیروهای مسلح انقلابی کلمبیا- ارتش خلق می باشد. در این ترجمه از مخفف اسم اسپانیایی آن (فارک)، استفاده شده است.

[6] جهت مطالعه‌ی‌بیشتر پیشینه‌ی‌فارک این منابع را ملاحظه نمایید:

منازعه‌ی کلمبیا نیز هممانند افغانستان درگیر مشکلات فراوان از قبیل گروههای مختلف مسلح – نیروهای مسلح دولتی، گروههای شبه نظامی، چریک ها- و ارتباط قوی آنان با گروههای جنایت کار و کارتل های تجارت مواد مخدر است. هم چنین ابعاد بین المللی نیز دارد و طی چندین دهه، در زمان جنگ سرد به عنوان بخشی از مواجهه با کمونیسم و سپس تحت عنوان مبارزه‌ی منطقه ای با مواد مخدر، حکومت کلمبیا و نیروهای نظامی آن کمک های فراوانی از امریکا دریافت کردند تا شورشیان را سرکوب و نیز پالیسی های مبارزه با مواد مخدر را اجرا نمایند. گروههای شبه نظامی که برای مبارزه با چریک ها ایجاد شده بودند، اکنون خود به یک معضل تبدیل شده اند. در نتیجه، خشونت به شمول کشتار و ناپدید شدن اجباری افراد و تجارت مواد مخدر حتا بعد از اجرایی شدن پیمان صلح تداوم داشته است.[7]

طی پنج دهه منازعه نزدیک به ۲۶۷۰۰۰ تن کشته شده اند که به طور متوسط بالغ بر ۵۰۰۰ تن در سال می شود و اکثریت قاطع آنان (۸۲ در صد) غیر نظامیان بوده اند. اکثریت این افراد بر اثر ترور و جنگ و کشتار دسته جمعی به قتل رسیده اند ( و حملات تروریستی و ماین ها نسبت به دیگر عوامل کمتر در کشتار مردم دخیل بوده اند). تقریبا صد هزار فرد ملکی را گروههای شبه نظامی راستگرا به قتل رساندند، سی و پنج هزار نفر را گروه فارک، ELN و دیگر گروههای چریکی کشته اند. (به عنوان مقایسه، یوناما تأیید کرده است که ۳۵۰۰ غیر نظامی تنها در سال ۱۳۹۶ هـ ش بر اثر ماین ها، حملات انتحاری و جنگ در افغانستان کشته شده اند.)[8]

جنگ کلمبیا باعث بیجا شدن عظیم مردم (بیش از هفت ملیون از ۴۹ ملیون جمعیت) در داخل کشور گردید و همه جای کشور را در معرض خشونت دوام دار و نقض گسترده حقوق بشر قرار داد. در خلال این سالها،

---

James Bargent, The FARC 1964-2002: From Ragged Rebellion to Military Machine, Investigation and Analysis of Organized Crime (InSight Crime), 26th May 2014, see it online:< https://www.insightcrime.org/investigations/the-farc-1964-2002-from-ragged-rebellion-to-military-machine/> and BBC, Who are the Farc?, 24th November 2016, see it online:< https://www.bbc.com/news/world-latin-america-36605769>

[7] در این مورد بیشتر را در اینجا بخوانید:

Tobias Franz, The legacy of Plan Colombia, Oxford Research Group, 24th May 2017, see it online:< https://www.oxfordresearchgroup.org.uk/blog/the-legacy-of-plan-colombia>

[8] United Nations Assistance Mission in Afghanistan, Afghanistan: Protection of Civilians in Armed Conflict (Annual Report 2017), Feb 2018, Kabul, see it online:< https://unama.unmissions.org/sites/default/files/afghanistan_protection_of_civilians_annual_report_2017_final_6_march.pdf>

حداقل ۴۶۰۰۰ تن و احتمالا تا ۸۰۰۰۰ نفر به صورت اجباری ناپدید شده اند – و گفته می شود که اکثریت آنان به قتل رسیده اند- و بیش از ۳۲۰۰۰ تن نیز توسط گروههای مختلف سازمان یافته نظامی اختطاف شده اند.[9]

گروه فارک در اوج فعالیت خود (سال ۱۳۸۱ هـ ش) در نیمی از شهرک های کشور حضور داشت و برآورد می شود که بیش از ۲۰۰۰۰ جنگجوی فعال داشته است. در زمان امضای پیمان صلح، نظامیان حکومتی تخمین می زدند که فارک حدود شش الی هفت هزار جنگجو و ۸۵۰۰ تن پرسنل غیرنظامی که به صورت فعال از جنبش حمایت می کرد، تحت پوشش داشته است.[10]

از دههی۱۹۸۰ میلادی تقریبا همهیحکومت های کلمبیا تلاش کردند تا مصالحه کنند که این مساعی شامل سه دوره گفتگوهای پیشین با گروه فارک است و هربار شکست این مذاکرات وسعت یافتن درگیری ها را در پی داشته است.[11] به طور مثال آتش بس دههیهشتاد میلادی بر اثر حملات مداوم و شدید طرفین رفته رفته از بین رفت (و اتحادیهیوفاداران – شاخهیغیر نظامی فارک- بر اثر حملات شبه نظامیان راستگرا منحل شد). همچنین گفتگوها در اوایل دههی۱۹۹۰ میلادی بر اثر تداوم کشتارها، اختطاف ها و اختلافات در مورد جزییات آتش بس شکست خورد. سومین دور گفتگو از سال ۱۳۷۸ تا ۱۳۸۱ هـ ش در پاسخ به بسیج مردم در حمایت از صلح آغاز شد. این گفتگوها متمرکز بر اجندایی وسیع از جمله اصلاح ساختار دولت بود. یک منطقهیغیر نظامی شده در داخل کشور، قلمرو بی طرف جهت تداوم گفتگوها را تضمین می کرد اما این منطقه هم چنین به عنوان ساحه ای استراتژیک برای بازسازی تشکیلاتی فارک استفاده شد. بعد از شکست گفتگوها، آلوارو اوریبه، که با شعار شکست دادن چریک ها وارد رقابت انتخاباتی شده بود، به عنوان رییس

---

[9]منابع آمار را از منابع ذیل بیابید:

Adriaan Alsema, Colombia's war victims: the numbers, Colombia Reports, 9th April 2018, see it online: https://colombiareports.com/colombias-war-victims-the-numbers/> and Colombia Reports, Civilian Killings, 3rd August 2018, see it online:< https://data.colombiareports.com/civilian-killings/>

[10]جهت معلومات بیشتر به منابع ذیل رجوع نمایید:

Institute of Integrated Transitions, The Colombian Peace Talks: Practical Lessons for Negotiators Worldwide, September 2018, see it online:< https://www.ifit-transitions.org/resources/publications/major-publications-briefings/the-colombian-peace-talks-practical-lessons-for-negotiators-worldwide/colombia-peace-talks-final-web-25-sept-1.pdf/view> and Adriaan Alsema, Colombia's war victims: the numbers, Colombia Reports, 9th April 2018, see it online:< https://colombiareports.com/colombias-war-victims-the-numbers/>

[11]جهت معلومات بیشتر به اینجا رجوع کنید:

Camilo Gonzalez Posso, Alternatives to war: Colombia's peace process, Conciliation Resources, Accord Issue 14, 2004, see it online:< https://www.c-r.org/accord-article/negotiations-farc-1982-2002>

جمهور انتخاب شد وسیاست "امنیت دیموکراتیک" را مطرح کرد. این پالیسی منجر به تضعیف فارک شد. با این وجود این رویکرد با تخطی گسترده و مداوم حقوق بشر از قبیل کشتار فجیع و بدون محاکمه غیرنظامیان همراه بود.

جامعه مدنی افغانستان متشکل از سازمانهای مختلف، تشبثات و مردم است. برخی از آنان سازمان یافته تر و رسمی تراند و به عنوان نمونه تحت سازمانهای چتری و یا شبکه ها فعالیت می کنند و به این لحاظ حکومت و تمویل کننده ها می توانند به آسانی با آنان مشورت و یا همکاری نمایند. این شبکه ها شامل دیدبانهای انتخابات، فیفا و تیفا و سازمان های مختلف حقوق بشری، مبارزه با فساد و شبکه های فعالان حقوق زن می باشند. در نتیجه‌ی‌این روابط، فعالان جامعه‌ی‌مدنی همیشه در حال رقابت جهت کسب نمایندگی در کنفرانس های بین المللی، جلسات حکومتی و یا دوره های مشورتی رییس جمهور می باشند. این رویه نشانگر این موضوع است صدایی به نمایندگی از جامعه‌ی‌مدنی، حداقل در سطحی کاملا سمبولیک غالباً پذیرفته شده است. از سویی، تمایلی در راستای تأثیر واقعی حضور آنان جهت طرح مسایل و یا تدوین اجندا وجود ندارد.

تثبیت نقش سازمان های جامعه مدنی به عنوان همکاران اجتماعی و سیاسی، منجر به پدیدار شدن طبقه ای از نخبگان جدید شده است، اما دسته های دیگری از جامعه مدنی نیز هستند که صدایی به نمایندگی از مردم محلی محسوب می شوند. این دسته، در برگیرنده جنبش هایی است که با صراحت، مطالبات خود را طرح می کنند و بر اساس طرح مسایلی خاص شکل گرفته اند و برخی از آنها، مانند جنبش های روشنایی، تبسم و اخیرا راهپیمایی صلح از هلمند توانستند جمعیت زیادی را بسیج کنند.

به جز گروه های رسمی جامعه مدنی و بسیج بسیار چشمگیر معترضان، راهپیمایی و یا معترضان تحصن کننده، افغانستان همیشه سرشار از ابتکارات محلی بوده است. به عنوان نمونه: معلمان، پزشکان و رهبران محلی که برای فعالیت و دریافت مواد مورد نیاز مکاتب و شفاخانه ها در ساحه‌ی‌زندگی شان با طالبان و حکومت لابی کرده اند؛ کهن سالانی که جهت آتش بس در منطقه‌ی‌خود، میانجیگری کرده و یا قبل از آغاز نزاع، آن را خنثا ساخته اند. عمدتا از نقش زنان در این ابتکارات چشم پوشی می شود، چرا که هر موردی از نقش زنان در این نوع فعالیت ها، یک استثنا در مقابل قاعده‌ی‌وسیع انگاشته می شود، اما زنانی هستند که در نقش داکتر، معلم، رییس سازمان غیر دولتی، وکیل و یا عضو شورای ولایتی، ابتکارات عظیمی را با شجاعت طرح و اجرا کرده اند. بنا براین بسیار حیاتی است این مردم، که روزانه در خط مقدم گفتگو هستند، احساس کنند ، روند صلح واقعیت ها و نگرانی های آنان را در نظر می گیرد.

با وجود آنکه معلوم نیست گفتگوهای صلح بر چه متمرکز خواهد بود و تا چه اندازه متمایل به فرا رفتن از گفتگو های آزمایشی ساده ای است که جهت متقاعد کردن طالبان به ترک منازعه طرح می شوند؛ در صحبت های صاحب نظران اجتماعات افغانی بحث مدرنیزه، اصول مورد قبول جامعه بین الملل، مدل های توسعه‌ی‌اقتصادی و چارچوب حکومت همیشه مطرح است. اینها موضوعاتی اند که به وضوح فراتر از اجندای حکومت و طالبان می باشد.

هرچه روند مذاکرات صلح در زمینه‌ی‌شکل و ماهیت، اجندا و پیشرفت آن شفاف تر باشد، بیشتر حلقات مختلف مردم را قادر به ارایه‌ی‌دیدگاه شان، به شمول یک اجندای روشن صلح خواهند ساخت. گروه های مختلف – احزاب سیاسی، فعالان حقوق زنان و حقوق بشر، شوراهای قبایلی، نمایندگان اقلیت هایی مانند بلوچ ها، سیک ها، نهادهای رسانه ای، شوراهای علما، نهادهای پژوهشی، اجتماعات تجاری- می توانند برای حفظ و نمایندگی از منافع خود، مواضع خود را مطرح سازند. اما آنها هم چنان می توانند در ائتلاف سازی ها و جلسات مشورتی سهم گیرند و زوایای مختلف جنگ را برجسته سازند و اطمینان یابند که تجارب مختلف تأثیر جنگ در مناطق روستایی، شهرهایی که هدف حملات تروریستان بوده اند، مهاجران و جمعیت بیجا شدگان داخلی که نگران فراموش شدن منافع و حقوق شان هستند، شنیده و درک شده اند. چنین تعهدی، صرفا نه به خاطر پایبندی به اصل انصاف ، بلکه برای جلوگیری از یک الگوی دیگر حذف، حاشیه راندن و نادیده انگاشتن لازم است.

## "موضوعات دشوار": عدالت انتقالی و جنایت

گفتگو پیرامون چگونگی رسیدگی به حقوق قربانیان و میراث جنگ، در روند صلح کلمبیا، از پیچیده ترین و پرتنش ترین موضوعات و غالباً مستلزم چندین ماه گفتگوبوده است. آناماریا ابانز، محقق و استاد که آثار اقتصادی منازعه‌ی‌داخلی را پژوهش کرده است، مشکلات گفتگو را چنین خلاصه می کند: "فارک نمی خواست محاکمه شود و درصد بزرگی از مردم کلمبیا نمی خواستند که جنایاتی را که فارک طی ۵۰ سال گذشته مرتکب شده، ببخشند."[53]

[53] Ali Mohammad Sabawoon and Thomas Ruttig, The Eid ceasefire helped our efforts well: Helmand peace marchers keep up the pressure, Afghanistan Analysts Network, 2nd Aug 2018, see it online:< https://www.afghanistan-analysts.org/the-eid-ceasefire-helped-our-efforts-well-helmand-peace-marchers-keep-up-the-pressure/>

میکانیزمی که سرانجام بر اساس فیصله‌ی‌مذاکره حاصل شد، مبتنی بر مشخصات منازعه‌ی‌کلمبیا و آن چه که جانبین می توانستند برسر آن توافق کنند، پی ریزی شده است و به عنوان اولین پیمان صلح امریکای لاتین یادشده که مشتمل بر عفو تام و سفید، برمبنای یک قرارداد صلح، نیست و ”مشخصا بر تدابیری جهت اعاده‌ی‌حقوق و جبران خسارت تأکید می ورزد.“[54] تیم های مذاکره کننده استدلال می کردند که مکانیزم

---

[54]مکانیسم عدالت انتقالی کلمبیا، الزام می آورد مرتکبینی که با این روند همکاری کنند، می توانستند از جزاهای جایگزین، مانند محکومیت به کار داوطلبانه جهت اعاده‌ی‌حقوق تلف شده‌ی‌قربانیان چلندار شوند. شرایط خاصی برای چلنداری از تخفیف مجازات پیش بینی شده بود: مجرمین باید خود اذعان کرده و خواهان جبران حقوق تلف شده باشند؛ جرایمی که به خاطر کسب ثروت صورت گرفته بودند (و نیز کشتار سه هزار شهروند بی گناه، با این توجیه که آنان جنگجویان مزدور دولت تحت پالیسی ”پول در برابر کشتار“ بودند) از این اصل مستثنا شمرده میشد. جرایم مرتبط با تجارت مواد مخدر می بایست، به صورت جداگانه بررسی شوند تا روشن گردد که آیا به خاطر کسب ثروت صورت گرفته و یا به خاطر تمویل یک هدف دیگر.

مکانیسم عدالت انتقالی تحت نظارت یک حوزه‌ی‌قضایی صلح فعالیت می کرد، و مشتمل بر دیوان اصلی صلح و سه دفتر کوچک تر قضایی و یک واحد تحقیق بود. قضایای متهم هایی که همکاری کرده بودند، توسط هرسه دفتر طی مراحل می شدند: ابتدا دفتر حقیقت یابی و مصالحه که آنجا مرتکبین، به جنایت شان اذعان می کردند، سپس دفتر عفو و بخشش بود که قاضیان تصمیم می گرفتند کدام جنایت شرایط عفو را دارد و کدام جرایم می بایست محکوم شوند، و سرانجام دفتر قضاوت. در صورت عدم اعتراف، قضیه‌ی‌متهمان به دفتر تحقیق محکمه ارجاع داده می شد.

متهمانی که به جرایم شان اعتراف می نمودند،در صورت جدی بودن جرم، محکوم به پنج تا هشت سال جزاهای بدیل می شدند و اگر مرتکب جرم جدی نبودند، به دو تا پنج سال جزای بدیل محکوم می شدند. جزاهای بدیل، در صورت امکان همراه با جبران خسارت، می بایست در توافق با فرد قربانی تعیین شود و مشتمل بر حصر در خانه، و یا خدمات اجتماعی (مانند مین پاکی و خنثی ساختن مواد انفجاری، جستجو، شناسایی و بازگرداندن مردمی که در خلال جنگها ناپدید شده بودند؛ مکانیسم های قضایی جهت انحلال جرایم سازمان یافته؛ یا اعاده اراضی غصب شده) می باشد. متهمانی که گناهکار شناخته می شدند ولی مسئولیت جنایات خود را نمی پذیرفتند، به صورت عادی به ۱۵ الی ۲۰ سال زندان محکوم می شدند. کسانی که مرتکب جرایم سیاسی (شورش علیه دولت) و یا حمل غیر قانونی اسلحه بودند، شایسته‌ی‌عفو بودند.

چریکهای سابق عضو فارک بزرگترین گروه متهمان را تشکیل می دادند. شورشیان یک لیست شامل نام ۷۰۰۰ تن را در ماه قوس ۱۳۹۵ ارائه کردند و تا تابستان ۱۳۹۷، تقریبا ۵۰۰۰ نفر، متن اعترافات خود را جهت بررسی به دادگاه داده اند. هم چنین دادگاه صلاحیت رسیدگی به جرایم مرتبط با نبردهای مسلحانه با مشارکت اعضای گروه های شبه نظامیان راستگرا و نظامیان را نیز دارا می باشد. وزارت دفاع، لیستی مشتمل بر ۲۰۰۰ نام که ۹۰ در صد آنان مشمول ”قضایای کشتار غیر قانونی در جریان نبرد“ می شد،......... شهروندان و یا مأموران دولتی که از جنگ ها منفعتی کسب کرده و یا با چریک ها همکاری کرده بودند، می توانستند داوطلبانه خود را به این محکمه معرفی نمایند اما از تعقیب توسط دولت معاف بودند.

پیمان صلح الزامی میساخت که این محکمه تا ۱۵ سال – با امکان تمدید برای پنج سال دیگر – فعالیت نماید. رییس اجرایی دادگاه تخمین می زند که آنان تنها توانایی تحقیق درمورد ۱۰۰۰ قضیه را خواهند داشت. وی در ماه حوت ۱۳۹٦ گفت : ”

مورد توافق بر حقوق قربانیان متمرکز است، اما مخالفان این توافق نامه، طور دیگری به این موضوع نگاه می کردند. بسیاری از کسانی که در روز همه پرسی به پیمان صلح رأی مخالف دادند، مخالف بخشی از پیمان بودند که تأکید می کرد، حبس اعضای فارک، تنفیذی نه خواهد بود. دیدبان حقوق بشر نیز انتقاد کرد که بر اساس این بخش پیمان، جنایت کاران می توانند به آسانی از محکوم شدن به مجازات معنادار، با استدلال بر اینکه طبق "فرمان مافوق " عمل کرده اند، فرار کنند.[55] حتا رییس جمهور سنتوز در گفتگو با بی بی سی اظهار داشت که وی می خواست مدت حبس طولانی تری برای فرماندهان چریکی فارک در نظر گرفته شود، اما آن فرمان وی به مذاکره کننده ها به این صورت در پیمان آمده که "حداکثر عدالتی که صلح به ما اجازه می دهد." به این لحاظ وی می پندارد که پیمان صلح، تفاهم نامه‌ی‌خوبی است.[56]

کارنامه‌ی‌صلح کلمبیا خاطرنشان می سازد که حتا یک "قرارداد خوب" تا چه پایه می تواند شکننده باشد و چقدر ایجاد اطمینان نسبت به نمایندگی، درک خواسته ها، منافع و تضمین حقوق و عدالت برای کسانی که در مورد پیمان صلح خوشبین نیستند، حایز اهمیت است. ایجاد چنین اجماعی باید در برگیرنده نخبگان گویای سیاسی و جامعه مدنی و نیز جمع بزرگ قربانیانی باشد که خواهان صلح وعدالت هستند. در افغانستان نیز شبیه همین نگرانی ها موج می زند و بسیاریها بر این باورند که پیمان صلح با طالبان، بویژه پیمانی که با عجله تدوین شده باشد، تنها منتج به تقسیم قدرت با طالبان خواهد شد و بیش از پیش حاکمیت قانون، اصل مسئولیت پذیری و عدالت را تضعیف می نماید و حتا صلح را نیز در پی نخواهد داشت.

با توجه به اهمیت آن نکات، یکی از درسهای پیمان صلح کلمبیا این است که هر تفاهم نامه ای که قرار است مبنای صلح در افغانستان باشد، باید تا جایی که امکان دارد با حوصله، صبر، جدیت در اراده و باور به خیر مورد مذاکره قرار گیرد. مشکل بتوان تصور کرد که دستیابی به چنان روندی، بدون دخیل بودن یک جهت ثالث ( ویا جهت چهارم با توجه به حضور جناح های سه گانه‌ی‌جنگ در افغانستان در مذاکرات آزمایشی جاری) امکان پذیر باشد.

---

اصطلاح عدالت انتقالی تعریفی متواضعانه دارد، زیرا ما از ابتدا می دانیم که نمی توانیم به همه‌ی‌جرایم رسیدگی کنیم." برای اطلاعات بیشتر در این مورد اینجا رجوع کنید: https://www.as-coa.org/articles/explainer-colombias-special-jurisdiction-peace-jep

[55] Human Rights Watch, Colombia: Mend Transitional justice law, 5th June 2018, see it online:< https://www.hrw.org/news/2018/06/05/colombia-mend-transitional-justice-law>

[56] Lyse Doucet, The lessons of Colombia's extraordinary peace process, BBC News, 29th Sep 2016, see it online:< https://www.bbc.com/news/world-latin-america-37498940>

# د افغانستان په ښاري سيمو کې د عامه ځايونو وضعيت ته لنډه کتنه (۲۰۱۴-۲۰۱۵ز)[1]

## احمد بلال خليل[2]

***لنډيز***

*په يوويشتمه پېړۍ کې په تېره بيا په ښاري پلان جوړونه کې د عامه ځايونو ارزښت تر ټولو زيات څرګند دی. همدا لامل دی، چې عامه ځايونه د نوې ښاري اجنډا او د دوامداره پرمختيايي موخو يوه اړينه برخه جوړوي.*

*په افغانستان کې عامه ځايونه تاريخي ريښې لري. دا چې په ښاري ابادو سيمو کې د عامه ځايونو تناسب څرنګه معلومېږي، په دې تړاو نړېوال معيار او فورمول شته دی. د همدې فورمول له مخې، د افغانستان د ښاري ابادو سيمو ۱۳،۱۱ سلنه عامه ځايونه جوړوي، چې دا بيا د ۴۵ او ۵۰ سلنه نړېوال معيار په پرتله ډېره کمه برخه ده. په عامه ځايونو کې تر ټولو زياته برخه د سړکونو او جادو ده. زموږ د څېړنې له مخې سړکونه د ښاري ابادو سيمو ۱۰،۳ سلنه جوړوي او د ټولو عامه ځايونو ۷۹ سلنه جوړوي. د سړکونو ډېرې برخه (۵۸،۳ سلنه) د هېواد په پنځو لويو ښارونو کې ده.*

*د افغانستان په ښاري سيمو کې د عامه ځايونو د کمښت تر شا دوه عمده دلايل دي: لومړی، په هېواد کې ښاري پلان جوړونه يا د ښارونو پراختيا په غير پلاني بڼه پرمخ تللې. لومړی خلک په ښاري سيمو کې اباد شوي او بيا ورته ښاري پلان جوړونه شوې. دويم؛ ښاري پلان جوړونه يا د ښارونو ماستر پلانونه، چې يوازې د يو څو ښارونو په تېره بيا د کابل ښار لپاره چمتو شوي وو، په ډېره کمه توګه عملي شوې ده.*

*افغان حکومت او يو شمېر نړېوالو موسسو د عامه ځايونو د زياتولو او د شته عامه ځايونو د ابادولو په موخه يو شمېر پروژې پلي کړې؛ خو بيا هم د عامه ځايونو په تړاو*

---

[1] د دغې مقالې د بشپړولو پرمهال د افغانستان د مرکزي احصايې مرکز د جغرافياوي معلوماتي سيستم جوړونې له رييس ښاغلي محمود الله جامع څخه د زړه له کومې مننه کوم چې د (GIS) په تحليل کې يې راسره مرسته وکړه.

[2] احمد بلال خليل د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز علمي غړی، او د تحليل ژورنال مسؤل مدير دی. د دې ترڅنګ ښاغلی خليل د ملګرو ملتونو په سازمان کې د ښاري چارو څېړونکی هم دی.

*دغه هلې ځلې نیمګړې دي، او لا ډېره لاره پاتې چې په افغانستان کې د عامه ځایونو وضعیت د نړیوال معیار پر اصولو برابر شي.*

*د دې ترڅنګ، عامه ځایونه له یو شمېر ننګونو سره هم مخ دي، د بېلګې په توګه ترافیکي او امنیتي پېښې، د مېرمنو د عامه ځایونو اړوندې ستونزې، د ځایونو غصب او د کلتوري او تاریخي ځایونو لوټل.*

*په دغه مقاله کې هڅه شوې، چې د عامه ځایونو تعریف وړاندې شي، د افغانستان د عامه ځایونو مخینه بیان شي، د نړیوال معیار له مخې د افغانستان په ښاري سیمو کې د عامه ځایونو تناسب معلوم کړای شي او په دغو ښاري سیمو کې د عامه ځایونو اړوندې ستونزې او ننګونې بیان شي.*

***کیلي: عامه ځایونه، سړکونه او جادې، کلتوري او تاریخي ځایونه، شنې ساحې، لوبغالي، ښاري پراختیا، ښاري سیمې***

## 1. پېژندنه

د «عامه ځایونو منشور» عامه ځایونه په لاندې ټکو کې تعریفوي:

«ټول هغه ځایونه چې د عامه ملکیت درلودونکي او یا هم د عامه استعمال لپاره وي، ټول ورته لاسرسی ولري او په وړیا توګه ترې ګټه واخیستلای شي، د عامه ځایونو په توګه یادېږي.»[3]

له همدې ځایه په عامه ځایونو کې سړکونه، جادې، پلي‌لارې، څلورلارې، باغونه، پارکونه، لوبغالي او سټېډیمونه، عامه تاسیسات لکه عامه کتابتونونه او نور، او د ساتنې وړ ځایونه لکه کلتوري او تاریخي ځایونه شامل وي.

د عامه ځایونو ارزښت له دې کبله هم څرګندېږي، چې دا د ژوند د کچې په لوړولو، د ډېموکراسۍ په ترویج، د اقتصادي ودې په ښه کولو، او د ټرانسپورټ د اغېزمنتیا په زیاتولو کې اړین رول لوبوي. دغه راز عامه ځایونه نه دا چې له چاپېریال سره مرستندویه واقع کېږي، بلکې ښارونه په راتلونکي کې هم له جمود څخه ژغوري.[4]

---

[3] د عامه ځایونو منشور په لاندې لینک کې وګورئ: http://www.inu.it/wp-content/uploads/Inglese_CHARTER_OF_PUBLIC_SPACE.pdf

[4] Sangmoo Kim, Public Spaces-not a 'nice to have' but a basic need for cities, World Bank, see it online:< http://blogs.worldbank.org/endpovertyinsouthasia/public-spaces-not-nice-have-basic-need-cities> (Accessed on 7th Nov 2017)

همدا لامل دی، چې ښېرونکي او ښاري پلان‌جوړوونکي په ښارونو کې د عامه ځایونو شتون یوه اساسي اړتیا بولي[5].

له همدې ځایه، د نړۍ وتلي ښاري پلان جوړوونکي پر دې اند دي، چې د ښاري پلان جوړوونې په تړاو د تاریخي ځلورو لوستونو څخه دوه مهم لوستونه د عامه ځایونو په اړه کې دي. د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګرام (یو-این هبیتات) د یو راپور له مخې باید په ښاري سیمو کې د آبادو سیمو له ۴۵ سلنې څخه تر ۵۰ سلنه پورې عامه ځایونو – لکه سړکونو، جادو، واټونو، مارکیټونو او پارکونو – ته ځانګړې شي[6]، او که د عامه ځایونو برخه له دې سلنې څخه کمه وي، نو د یو-این هبیتات د پخواني مشر په وینا دا به په راتلونکي کې د جمود یوه لویه ستونزه رامنځته کړي.[7]

له دې وراخوا، نه یوازې دا چې عامه ځایونو ته په ښاري پلان جوړوونه کې لومړیتوب ورکړل شوی، بلکې د ملګرو ملتونو په دوامداره پرمختیایي موخو[8] (Sustainable Development Goals) او نوې ښاري اجنډا[9] (New Urban Agenda) کې هم مهم ځای لري. د دوامداره پرمختیایي موخو په یوولسمه موخه کې راغلي،

---

[5]تېر ماخذ

[6] UN-Habitat, Streets as Public Spaces and Drivers of Urban Prosperity, UN-Habitat:Nairobi, 2013. See it online:< http://mirror.unhabitat.org/pmss/listItemDetails.aspx?publicationID=3513>

[7] Gregory Scruggs, How much Public Space Does a City Need?, Next City, Jan 2015, see it online:< https://nextcity.org/daily/entry/how-much-public-space-does-a-city-need-UN-Habitat-joan-clos-50-percent>

[8] دوامداره پرمختیایي موخې یا Sustainable Development Goals چې مخفف یې SDGs دی، له ۲۰۱۵ زکال څخه تر ۲۰۳۰ ز کال پورې په نړۍ کې د اقتصادي پرمختګ، ټولنیز خوندیتوب (لکه په بشپړه توګه د فقر او لوږې ختمول) او د چاپېریال ساتنې په تړاو د ملګرو ملتونو پلان دی. دغه موخې په عمومي توګه ۱۶ لویې موخې او ۱۶۸ ټارګیټونه لري. د نظارت او د هرې موخې د اټکلونې په تړاو ۲۳۴ شاخصونه هم لري. د افغانستان په شمول د ملګرو ملتونو ټولو غړیو هېوادونو منلې ده او ژمنه یې کړې چې تر ۲۰۳۰ ز کال پورې به دغه موخې ترلاسه کوي. د دغو موخو په تړاو وګورئ:
http://www.acbar.org/upload/1541578761120.pdf، دا چې دغه موخې په افغانستان کې څنګه عملي کېږي او اوسنی وضعیت یې څه دی، په دې تړاو وګورئ د اقتصاد وزارت راپور: http://sdgs.gov.af/80/sdgs-forum

[9] نوې ښاري اجنډا د ملګرو ملتونو د کور جوړونې او دوام لرونکي ښاري پراختیا په کنفرانس (هبیتات) کې، چې د ۲۰۱۶ زکال د اکتوبر له ۱۷مې څخه تر ۲۰مې نېټې پورې په کویټو ښار کې ترسره شو، تصویب شوه. دغه اجنډا د افغانستان په شمول د نړۍ ۱۶۷ هېوادونو له خوا منل شوې ده. په عمومي توګه نوې ښاري اجنډا د ښارونو د علم پر اساس یو انقلابي بدلون وړاندې کوي؛ نوموړې اجنډا د ښارونو د پلان جوړونې، ودانولو، پرمختګ، مدیریت کولو، او د ښاري سیمو د ښه والي په تړاو مقررات او ستندردونه طرحه کوي. د دغې اجنډا د پلي کولو پنځه مهمې ستنې عبارت دي له: ملي ښاري پالیسي، ښاري قوانین او مقررات، ښاري پلان جوړونه او ډیزاین، محلي اقتصاد او د ښاروالۍ مالیات، او په محلي کچه پلي کوونه. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: یو-این هبیتات، نوې ښاري اجنډا (پښتو ژباړه)، یو-این هبیتات:کابل، ۲۰۱۹ کال. پرلیکه بڼه: http://habitat3.org/wp-content/uploads/NUA-Pashto.pdf

چې «ژمنه کوو» تر ۲۰۳۰ مېلادي کال پورې به د نړۍ وګړي په تېره بيا ميرمنې او ماشومان، زاړه کسان او معيوبين خوندي، ټولشموله او د لاسرسي وړ شنو او عامه ځايونو ته لاسرسی ولري. د دې موخې د معلومولو او څارنې لپاره دوه شاخصونه مشخص شوي دي:

لومړی؛ په ابادو سيمو کې د عامه ځايونو تناسب (۱۱,۷,۱)

دويم؛ په وروستيو دولسو مياشتو کې د وګړو پر وړاندې د فزيکي او جنسي آزار تناسب. (۱۱,۷,۲)

د دې ترڅنګ، په نوې ښاري اجنډا کې هم، د عامه ځايونو يادونه يوولس ځله راغلې، او دغه راز د عامه ځايونو په تړاو ۹ ژمنې هم پکې شوي دي.[10]

## څېړندود

د دغې مقالې د کښلو پرمهال موږ تر ډېره تکيه پر (Geographic Information System (GIS) Analysis) يا د جغرافياوي معلوماتي سېستم پر تحليل کړې ده. افغان حکومت د يو اين هبيتات په تخنيکي همکارۍ د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ ز کلونو پرمهال د هېواد د ټولو ښاري سيمو د ځمکو اندازه، ډولونه او د کورونو شمېره د سټلايټ انځورونو او د GIS سافټ وئير پر مټ معلومه کړه. موږ له دې سروې څخه يوازې د عامه ځايونو په تېره بيا مسجدونه، زيارتونه او د عامه ځايونو اړوند نور ځايونه له سرکونو سره يوځای جمع کړي، څو موږ د ښار په آبادو سيمو کې د عامه ځايونو تناسب معلوم کړای شو. دغه د عامه ځايونو تناسب معلومول د ملګرو ملتونو د مېتودولوژۍ سره همغږی دی، چې د يو-اين هبيتات په راپورونو او ملګرو ملتونو د تل پاتې پرمختيايي موخو په مېتودولوژۍ يا کړنلاره کې راغلې.

د دغه تحليل يوه بېلګه، چې څنګه مو د کابل په خېرخانه سيمه کې د عامه ځايونو تناسب معلوم کړی، په شکل ۱ کې وګورئ. موږ د ټول هېواد لپاره د عامه ځايونو تناسب په همدې طريقه کړی دی. خو دلته بيا يادونه کوو، چې دغه تناسب يوازې د هېواد د ښاري سيمو يا د ۳۴ ولايتي مراکزو لپاره ترسره شوی دی:

---

[10] د نوې ښاري اجنډا ۱۲مه، ۳۶مه، ۳۷مه، ۵۳مه، ۶۷مه، ۹۷مه، ۹۹مه، ۱۰۰مه، او ۱۰۹مه ماده د عامه ځايونو په تړاو دي.
وګورئ: يو-اين هبيتات، نوې ښاري اجنډا (پښتو ژباړه)، يو-اين هبيتات:کابل، ۲۰۱۹ کال. پرليکه بڼه: http://habitat3.org/wp-content/uploads/NUA-Pashto.pdf

**شکل ۱: د کابل په خیرخانه سیمه کې د عامه ځایونو تناسب معلومول**



*ماخذ: یو این هبیتات؛ د افغانستان د ښارونو وضعیت ۲۰۱۴*

د دې ترڅنګ مو د دې مقالې کښلو پرمهال یو شمېر مرکې هم ترسره کړې، او د مختلفو ادارو له راپورونو، مطبوعاتي اعلامیو، او ارقامو څخه مو هم ګټه اخیستې، چې تاسو به یې د دې مقالې د لوستلو پرمهال په یو شمېر لمنلیکونو کې هم ووینئ.

## 2. په افغانستان کې د عامه ځایونو مخینه

د افغانستان ډېری اوسني ښارونه له ۲۰ پېړیو څخه زیات تاریخي قدامت لري، د بېلګې په توګه د مزار شریف لرغونی ښار، هرات، کابل، کندهار او جلال آباد. له همدې ځایه ده، چې په هېواد کې د «عامه ځایونه» اصطلاح او یا شتون هم کومه نوې خبره نه ده او په تاریخي توګه په هېواد کې یو شمېر داسې ځایونه شته دي، چې موږ یې د عامه ځایونو په توګه یادولای شو لکه تاریخي مذهبي ودانۍ، پارکونه او سړکونه.

دلته په لنډه توګه د لرغونو عامه ځایونو نومونه مشخصوو:

**سړکونه او لارې:** زموږ هېواد چې د لرغوني چین سره یوځای د وریښمو لارې په جوړونه کې رول لوبولی و[11]، هغه مهال افغانستان د چین، سویلي اسیا، منځنۍ اسیا او منځني ختیځ او ان تر اروپا او شمالي افریقا پورې د یوه ځمکني پُل حیثیت درلود. همدا لامل دی، چې دوو مشهورو مورخینو لکه لویس ډوپري او ارنلډ ټواین

[11] په تفصیلي توګه د دغه بحث لپاره وګورئ: احمد بلال خلیل، افغانستان او چین؛ دوه اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵-۲۰۱۵)، د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز: کابل، ۲۰۱۸ کال

بي افغانستان د سوداګرۍ د تقاطع نقطې په توګه یاد کړی دی، چېرته چې د نړۍ نیمایي لارې یوازې باګرام ته سیخې وې. د افغانستان دغه حیثیت د څو عواملو له کبله وو:

لومړی؛ د افغانستان جغرافیاوي موقعیت؛

دویم؛ د افغانستان طبیعي منابع (د بېلګې په توګه او د څېړنو له مخې د ۲۵۰۰ او ۲۶۰۰ قبل میلاد څخه د سویلي عراق په «اور» سلطنتي قبرونو کې د بدخشان لاجورد استعمال شوي وو[12]. همدغه راز د مصر په فرعوني مقبرو کې هم، هغه مهال دغه قیمتي ډبرې کارول شوې وې. دا د سیمې په امپراتوریو کې د افغانستان طبیعي منابعو یا کانونو تقاضا ته اشاره کوي)؛

دریم؛ په سیمه او په هېواد کې د امنیت او ثبات ټینګښت؛

څلورم؛ په هېواد کې د سړکونو او پلي لارو جال.

**مذهبي او تاریخي ودانۍ:** زموږ په هېواد کې مذهبي او نامذهبي ودانۍ هم ډېر زوړ قدامت لري. دلته اوس هم بودايي او اسلامي لرغوني ودانۍ شته دي، چې تاریخ یې ان د قبل میلاد دورې ته ورګرځي (د اسلامي دورې له ودانیو پرته). د بېلګې په توګه په بامیانو، لوګر (مېس عینک) او جلال آباد (هډه) کې بودايي مجسمې، ستوپې او مذهبي ځایونه؛ د مزار شریف مذهبي زیارتونه او مساجد؛ د هرات جامع مسجد، د ګذرګاه زیارتونه او د مالان پُل؛ د غور منار او د غزني زیارتونه شامل دي.

که څه هم تر اوسه – زما د مطالعې له مخې – په افغانستان کې د لرغونو عامه ځایونو په تړاو کومه سروې یا څېړنه نه ده خپره شوې؛ خو بیا هم په مجموعي توګه په افغانستان کې د لرغونو تاریخي اثارو او ځایونو په تړاو یو شمېر څېړونکو او ادارو خپلې څېړنې او مېداني سروې ګانې ترسره کړې دي. د بېلګې په توګه د وارویک بال د افغانستان د لرغونپېژندنې جریدې له مخې په افغانستان کې تقریباً ۲۸۰۰ لرغوني ځایونه او تاریخي ودانۍ ثبت کړې وې[13]. د افغانستان د لرغونپېژندنې انستیتوت په وینا له دوی سره تر دې زیات لرغوني ځایونه ثبت دي. له دوی سره تر ۴۵۰۰ لرغوني ځایونو، چې د ځمکې د پاسه او یا لاندې دي، لېست شته

---

[12] د سینټکام تاریخي او کلتوري مشورتي ډلې لیکنه او د افغانستان کرونولوژي. وګورئ په لاندې لینک کې:
https://www.cemml.colostate.edu/cultural/09476/afgh02-01enl.html

[13] STATEMENT BY MR. ABDUL WASEY FEROOZI, DIRECTOR GENERAL OF THE NATIONAL INSTITUTE OF ARCHAEOLOGY, MINISTRY OF INFORMATION AND CULTURE OF AFGHANISTAN AT THE 105TH ANNUAL MEETING OF THE ARCHAEOLOGICAL INSTITUTE OF AMERICA IN SAN FRANCISCO, JANUARY 3, 2004. See it online:< https://www.cemml.colostate.edu/cultural/09476/afgh08-01enl.html>

دی. د دوی دغه مونډنې د ساحوي او مېداني څېړنو له کبله دي[14]. خو له بده مرغه په افغانستان کې د جګړو له کبله دغو اثارو ته ډېر زیات تاوانونه اوښتي. د نانسي ډوپري او د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت پخواني وزیر په وینا، یوازې د کورنۍ جګړې پرمهال د کابل موزیم ۷۰ سلنه توکي ورک شول[15]؛ او د غېر قانوني کېندنو له کبله د افغانستان د لرغونو ځایونو ۹۰ سلنه اثار لوټ/غلا کړای شول[16].

دا چې زموږ بحث یوازې د افغانستان په ښاري سیمو کې د عامه ځایونو د وضعیت په تړاو دی، نو له همدې کبله د افغانستان د لرغونو او تاریخي ځایونو له تفصیلي بحث څخه تېرېږو. پورته لنډکی بحث مو ځکه وکړ، چې دا – د افغانستان لرغوني ځایونه – د افغانستان د لرغونو عامه ځایونو سره تړاو لري.

### 3. په افغانستان کې د عامه ځایونو اټکلونه

په ښاري سیمو کې د عامه ځایونو د تناسب د معلومولو په تړاو د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګرام (یو-این هبیتات) او د ملګرو ملتونو د دوامداره پرمختیایي موخو فورمول په لاندې ډول دی:

د ښار په آبادو سیمو کې د عامه ځایونو تناسب = (د عامه ځایونو مجموعي ساحه + سړکونو ته ځانګړې شوې ساحه) / (د ښاري سیمو د مجموعي آبادو سیمو سطحه)

[14] د افغانستان د لرغونپېژندنې انستیتوت له رییس نور آغا نوري سره د لیکوال مرکه: دیسامبر ۲۰۱۷

[15] STATEMENT BY MR. ABDUL WASEY FEROOZI, DIRECTOR GENERAL OF THE NATIONAL INSTITUTE OF ARCHAEOLOGY, MINISTRY OF INFORMATION AND CULTURE OF AFGHANISTAN AT THE 105TH ANNUAL MEETING OF THE ARCHAEOLOGICAL INSTITUTE OF AMERICA IN SAN FRANCISCO, JANUARY 3, 2004. See it online:< https://www.cemml.colostate.edu/cultural/09476/afgh08-01enl.html> ; Nancy Hatch Dupree, Museum Under Siege, Archaeology.org, April 20, 1998, see it online:< https://archive.archaeology.org/online/features/afghan/>

[16] Brendan Cassar and Ana Rosa Rodriguez Garcia, "The Society for the Preservation of Afghanistan's Cultural Heritage: An Overview of Activities since 1994" in Art and Archaeology of Afghanistan: Its Fall and Survival, ed. Juliette van Kerieken-Pieters (Leiden: Brill, 2006), 15–38 cited in Laila Hussein Moustafa, From Peshawar to Kabul: Preserving Afghanistan's Cultural Heritage during Wartime, 2016, see it online:< https://www.ideals.illinois.edu/bitstream/handle/2142/95222/134.full%285%29.pdf?sequence=2&isAllowed=y>

د پورته فورمول په بنسټ، اوسمهال د افغانستان ښاري سیمې په ډېره کمه توګه عامه ځایونه لري. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګرام د څېړنې له مخې، د افغانستان د ښاري مېشتو آبادو سیمو ۱۳٫۱۱ سلنه برخه عامه ځایونه جوړوي، چې په دې کې سړکونه، جادې، واټونه، پارکونه، شنې ساحې، مذهبي او کلتوري ځایونه شامل دي. دغه راز د افغانستان په ښاري مېشته ابادو سیمو کې په ټولیزه توګه سړکونه، واټونه، څلورلارې او جادې ۱۰٫۳ سلنه جوړوي او پارکونه، لوبغالي، شنه ځایونه، مذهبي او کلتوري ځایونه بیا په ټولیزه توګه د ښاري مېشته ابادو سیمو ۲٫۷۴ سلنه جوړوي.

د افغانستان په ښاري مېشته ابادو سیمو کې د عامه ځایونو تناسب له نړېوال معیار څخه ډېر ټیټ دی. د نړېوال معیار له مخې، ښاري مېشته سیمې باید د ښاري مېشته ابادو سیمو ۴۵ سلنه عامه ځایونو ته ځانګړې کړي، چې ۳۰ سلنه برخه یې سړکونو، واټونو، څلور لارو او جادو ته ورکړل شي او پاتې ۱۵ سلنه بیا نورو عامه ځایونو لکه پارکونه، لوبغالي، شنه ځایونه او نورو ته.

په ښاري مېشته ابادو سیمو کې د عامه ځایونو د کم تناسب له کبله ده، چې اوسمهال په ښاري مېشته سیمو کې یو شمېر ستونزو سر راپورته کړې دی لکه د زیربناوو کمښت او د پرمختیا په لاره کې یې خنډونه، د افغان ښاریانو د ټولنیزې شمولتیا نه شتون او دغه راز د ښاریانو د ژوند ټیټه کچه، ترافیکي جمود او غېر صحي چاپېریال د یو څو بېلګو په توګه یادولای شو.

**جدول ۱ په افغانستان کې عامه ځایونه (ارقام په هکتار کې)**

| | | |
|---|---|---|
| د عامه ځایونو مجموعي سطحه (د سړکونو پرته) | شنې سیمې | 886.9 |
| | پارک | 1595.9 |
| | لوبغالي | 167.7 |
| | مذهبي ځایونه (مساجد او زیارتونه)/ او کلتوري ساحې | 670.3 |
| | مجموعه | 3320.76 |
| سړکونو/جادو او څلور لارو مجموعي سطحه | | 12563 |
| د عامه ځایونو مجموعي سطحه | | 15883.76 |
| د افغانستان ښاري آبادو سیمو مجموعي سطحه | | 121141 |
| د افغانستان د ښاري آبادو سیمو کې د عامه ځایونو تناسب | | ٪13.11 |

ماخذ: *د افغانستان د ښارونو وضعیت (۲۰۱۵)*

**د افغانستان په ښاري سیمو کې عامه ځایونو ته لنډه کتنه**

د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګروام د څېړنې له مخې، شنه ځایونه، پارکونه، لوبغالي، مساجد/کلتوري ځایونه، او سړکونه په ترتیب سره د افغانستان د ښاري مېشته سیمو د عامه ځایونو ٦ سلنه، ۱۰ سلنه، ۱ سلنه، ۴ سلنه او ۷۹ سلنه برخه جوړوي.

**شکل ۲: په افغانستان کې د عامه ځایونو سلنه**




*ماخذ: د افغانستان د ښارونو وضعیت (۲۰۱۵)؛*

دا چې په هېواد کې د پارکونو، لوبغالو، مساجد/کلتوري ځایونو او سړکونو وضعیت څرنګه دی، په لاندې توګه ورته اشاره شوې ده:

**پارکونه:** د افغانستان په ۳۴ ښاري مرکزونو کې د پارکونو مجموعي سطحه ۱۵۹۵٫۸۹ هکتاره ده. پارکونه د عامه ځایونو ۱۰ سلنه برخه جوړوي او د افغانستان تقریباً ۷۵ سلنه پارکونه په پنځو مرکزي ښارونو کې دي (یوازې کابل د افغانستان د ټولو پارکونو درېیمه برخه جوړوي). د یو شمېر ولایاتو مرکزونه یا بیخي پارکونه نه لري او یا یې هم ساحه له ۸ هکتارو څخه کمه ده. د بېلګې په توګه په ترینکوټ، قلعه نو، اسد اباد او پارون کې پارکونه نشته، او کندز (۵ هکتاره)، ګردېز (۲٫٦۷ هکتار)، سرپل (۲٫۳۷ هکتار)، محمود راقي (۱٫۸۵ هکتار)، قلات (۰٫۹۲ هکتار)، بامیان (۴٫۳۹ هکتار)، مهترلام (۷٫۲ هکتار)، چغچران (۵٫۰۴ هکتار)، بازارک

(۴٫۸۴ هکتار)، پُل علم (۴٫۰۱ هکتار)، نیلي (۳٫۹۸ هکتار) او ښرنه (۵٫۲٦ هکتار) له ۸ هکتارو څخه کم پارکونه لري.

**لوبغالي:** د افغانستان په ۳۴ ولایتي مرکزونو کې د لوبغالو وضعیت هم غوره نه دی. زموږ د موندنو له مخې، د افغانستان په ۳۴ ولایتي مرکزونو کې د لوبغالو مجموعي ساحه ۱٦۷٫٦٦۲ هکتاره ده. په مجموعي توگه په عامه ځایونو کې د لوبغالو برخه ۱ سلنه ده. د کابل (۳۹٫۸۱ هکتار)، مزار شریف (۱٦ هکتار)، کندهار (۱۱٫۸٦ هکتار)، کندز (۲۰٫۰۵ هکتار)، او شبرغان (۱۰٫۵۸ هکتار) پرته په نورو ولایتي مرکزونو کې د لوبغالو ساحه له ۱۰ هکتارو څخه کمه ده.

**شنې سیمې:** شنې سیمې هغه سیمې دي، چې په عمده توگه نه زراعتي وي او نه هم د انسان لهخوا ابادې شوې وي، بلکې دغه ساحې د بوټو/او ورو نباتاتو لهخوا پوښل شوې وي. زموږ د موندنو له مخې، د افغانستان په ۳۴ ولایتي مرکزونو کې د شنو سیمو ساحه ۸۸٦٫۹ هکتاره ده او د شنو ساحو له مخې لښکرگاه (۳۱۳٫۸ هکتاره)، کابل (۱۲۲٫۲ هکتاره)، او چاریکار (۱۱۷٫۹ هکتاره) د هېواد لوی مرکزي ولایتونه دي.

**مساجد/کلتوري ساحې:** موږ مساجد او کلتوري ساحې هم د عامه ځایونو برخې گرځولي؛ ځکه مساجد او کلتوري ساحات تر ډېره عامه ملکیتونه دي او دغه راز دغه سیمې د ټولو لپاره د لاسرسی وړ هم دي. هر هغه ساحې چې مساجد/زیارتونه او کلتوري ساحې دي او کم تر کمه یو هکتار وي د مساجدو او کلتوري ساحو برخه گرځول شوي. زموږ د موندنو له مخې، د افغانستان په ۳۴ ولایتي مرکزونو کې تقریباً ٦۷۰٫۳ هکتاره ځمکه مساجدو/زیارتونو او کلتوري ساحو پوښلې، چې دا بیا د مجموعي عامه ځایونو ۴ سلنه جوړوي. تقریباً د هېواد پنځه لوی ښارونه د مساجدو/زیارتونو او کلتوري ساحو ۴۳٫۴ سلنه لري. د مساجدو/زیارتونو/کلتوري ساحاتو له مخې کابل (۱۵۱٫۸۷ هکتار)، فراه (٦٦٫۱۲ هکتار)، کندز (۵۴٫۵ هکتار)، مزار شریف (۴۳٫۷ هکتار)، کندهار (۴۰٫۷ هکتار) او هرات (۳۴٫۲ هکتار) لوی ښارونه دي.

په بل اړخ کې سړکونه د ښاري ابادو سیمو ۱۰٫۳ سلنه جوړوي او د ټولو عامه ځایونو بیا ۷۹ سلنه جوړوي. د سړکونو ډېری برخه (۵۸٫۳) سلنه د هېواد په پنځو لویو ښارونو کې دي.

**شکل ۳:  د افغانستان په ښارونو کې د مساجدو او زیارتونو وضعیت (۲۰۱۵ کال)**




*ماخذ: د افغانستان د ښارونو وضعیت ۲۰۱۵*

## د عامه ځایونو له پلوه افغان ښارونه

د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګرام د موندنو له مخې، کابل د نورو ۳۳ ولایتي مرکزونو په پرتله تر ټولو زیات د عامه ځایونو ساحې لري، چې دا تقریباً ۳۸۰۰,۶۱ هکتاره کېږي. ورپسې کندهار (۱۶۳۸,۹ هکتار)، هرات (۱۴۳۱,۲ هکتار)، مزار شریف (۱۳۸۴,۲ هکتار)، لښکرګاه (۹۹۱,۶۵ هکتار) او جلال اباد (۸۶۲,۵۹ هکتاره) دي. په ټوله کې دغه شپږ ښارونه د هېواد د ښاري مېشته ابادو سیمو د عامه ځایونو ۶۳,۶ سلنه جوړوي.

د سړکونو، جادو او څلورلارو پرته، د نورو عامه ځایونو ساحه ۳۳۲۰,۷۶ هکتاره ده، چې له دې جملې څخه ۸۴۳,۸ هکتاره ساحه یوازې په کابل ښار کې ده.

خو په بل اړخ کې، که د ولایتي ښارونو په ابادو ساحو کې د عامه ځایونو تناسب ته وګورو، نو په کابل ښار کې د ابادې ساحې یوازې ۹،۴۷ سلنه عامه ځایونو ته ځانګړې شوې ده. د بازارک عامه ځایونه د دغه ښاري مېشته ابادې سیمې ۳۲ سلنه جوړوي، چاریکار، پارون په ترتیب سره ۲۹،۱۸ سلنه او ۲۳،۸۵ سلنه دي، او د پاتې نورو ولایتونو مرکزونه بیا له ۲۰ سلنه کم لري، چې دا بیا په ټوله کې د نړیوال معیار ۴۵ سلنه څخه زیات کم دي.

**شکل ۴: د افغانستان په ښاري سیمو کې عامه ځایونه (۲۰۱۵)**




*ماخذ: د افغانستان د ښارونو وضعیت (۲۰۱۵)*

جدول2 د افغانستان په ښاري سيمو کې د عامه ځايونو وضعيت (۲۰۱۵) (ارقام په هکتار کې)

| د ولايتونو مرکزونه | د ښاري ابادو سيمو ساحه | سړکونه | شني سيمي | پارکونه | لوبغالي | مذهبي ځايونه (مساجد او زيارتونه)/ او کلتوري ساحي | د عامه ځايونو مجموعه | په ښاري ابادو سيمو کې د عامه ځايونو تناسب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | 40142.6 | 2956.8 | 122.2 | 529.922511 | 39.812521 | 151.876005 | 3800.61 | 9.47% |
| هرات | 9476.5 | 1075.2 | 47.2 | 276.131949 | 3.219355 | 29.451706 | 1431.20 | 15.10% |
| مزار شريف | 7546.2 | 1273 | 0 | 51.533697 | 16.005082 | 43.730107 | 1384.26 | 18.34% |
| کندهار | 11291.2 | 1305.5 | 11.6 | 269.263249 | 11.862402 | 40.769814 | 1638.99 | 14.52% |
| جلال اباد | 5481 | 718.9 | 41.6 | 70.98659 | 6.330561 | 24.772908 | 862.59 | 15.74% |
| لښکر گاه | 6121.8 | 612.1 | 313.8 | 46.540259 | 6.245381 | 12.968603 | 991.65 | 16.20% |
| کندز | 3059.1 | 264.5 | 4.7 | 5.002071 | 20.051716 | 54.559038 | 348.81 | 11.40% |
| تالقان | 2780.5 | 232.5 | 0 | 19.584761 | 0 | 23.548271 | 275.63 | 9.91% |
| پلخمري | 4373.1 | 392.8 | 6.3 | 55.084402 | 6.355511 | 21.023893 | 481.56 | 11.01% |
| شبرغان | 3236.5 | 333.1 | 0 | 68.507059 | 10.581778 | 15.29102 | 427.47 | 13.21% |
| زرنج | 2158 | 286.8 | 0 | 8.931716 | 0 | 2.173048 | 297.9 | 13.80% |
| ميمنه | 1499.5 | 146.4 | 0 | 8.667137 | 2.479567 | 12.870226 | 170.41 | 11.36% |
| غزني | 3334.5 | 511.1 | 0 | 21.435379 | 5.753904 | 18.040072 | 556.32 | 16.68% |
| خوست | 1869.5 | 165.2 | 41.3 | 36.022147 | 4.54356 | 34.242797 | 281.30 | 15.05% |
| چاريکار | 1303.9 | 244.4 | 117.9 | 10.273486 | 1.285366 | 6.68254 | 380.54 | 29.18% |
| فيض اباد | 1485.3 | 213.2 | 25.2 | 13.157313 | 5.935454 | 9.866459 | 267.35 | 18.00% |
| ترينکوټ | 1254.9 | 91.5 | 10.6 | 0 | 1.737852 | 1.908503 | 105.74 | 8.43% |
| گرديز | 1795.5 | 204.3 | 19 | 2.672452 | 1.822103 | 10.456347 | 238.25 | 13.27% |
| قلعه نو | 776.5 | 59.6 | 0 | 0 | 1.306643 | 2.863988 | 63.77 | 8.21% |
| ايبک | 787.3 | 96 | 0.5 | 32.870603 | 3.270077 | 10.896212 | 143.53 | 18.23% |
| اسد اباد | 694.9 | 53.3 | 61.5 | 0 | 0 | 2.718063 | 117.51 | 16.91% |
| سرپل | 711.4 | 87.7 | 0 | 2.379575 | 1.195226 | 9.328402 | 100.60 | 14.14% |
| محمود راقي | 514.1 | 49.3 | 29.8 | 1.856139 | 1.760777 | 3.604186 | 86.32 | 16.79% |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قلات | 937 | 108 | 0 | 0.925824 | 0.967523 | 1.422192 | 111.31 | 11.88% |
| فراه | 2891.5 | 465.8 | 0 | 12.404478 | 1.809294 | 66.124423 | 546.2 | 18.89% |
| بامیان | 634.8 | 72.2 | 4.2 | 4.397608 | 1.414504 | 22.560743 | 104.77 | 16.50% |
| مهترلام | 710 | 78.7 | 2.6 | 7.299853 | 0 | 3.398397 | 91.99 | 12.96% |
| چغچران | 668.8 | 108 | 2.2 | 5.042691 | 0 | 0.764998 | 116 | 17.35% |
| بازارک | 168.3 | 20.7 | 22.2 | 4.84434 | 2.889153 | 3.749892 | 54.38 | 32.31% |
| پل علم | 710.3 | 88.3 | 0 | 4.012507 | 2.480494 | 3.01335 | 97.80 | 13.77% |
| نیلي | 238.6 | 30.6 | 0 | 3.987882 | 3.987889 | 1.516225 | 40.09 | 16.80% |
| ښرنه | 1472.2 | 109.4 | 0 | 5.264842 | 1.793702 | 22.844474 | 139.30 | 9.46% |
| میدان ښار | 990.7 | 102.5 | 2.5 | 16.889437 | 0.765297 | 1.106737 | 123.76 | 12.49% |
| پارون | 25 | 5.8 | 0 | 0 | 0 | 0.161764 | 5.961 | 23.85% |

*ماخذ: د افغانستان د ښارونو وضعیت (۲۰۱۵)؛*

## 4. ولې په ښاري سیمو کې عامه ځایونه کم دي؟

په عمده توګه په افغانستان کې عامه ځایونو ته په ښاري پلان جوړوونه کې لومړیتوب نه دی ورکړل شوی؛ ان که ځینې مهال یو څه ورکړل شوی هم وي (په ماستر پلانونو کې)، نو هغه هم په سمه توګه نه دی عملي شوی.

د بېلګې په توګه، په افغانستان کې رسمي او عنعنوي ښاري پلان جوړوونه تر ټولو وړاندې کورونو او ساختمانونو ته لومړیتوب ورکوي، بیا سړکونو ته، او په آخر کې بیا یو څه پاملرنه د عامه ځایونو پاتې ډولونو لکه پارکونه او لوبغالو ته ورکول کېږي. دغه انځور د سرې جګړې پرمهال د کابل په ماستر پلان کې هم منعکس شوی دی.

په بل اړخ کې د تېرو څلورو لسیزو شخړو او ناامنیو، او د ښاري مېشته کېدنې له زیاتېدنې سره، نارسمي ښاري پلان جوړوونه پیل شوه. خلک تر ډېره له ځانه جوړ کړې اصل باندې عمل کوي: لومړی ځمکه غصب کړه، هستوګنځی یا ځای جوړ کړه او بیا د عامه ځایونو پاتې ډولونو ته پاملرنه وکړه. همدا پروسه تر ډېره په کابل او په نورو ښارونو کې عملي شوه.

دغه راز د کابل د ۱۹۷۸ز کال په ماستر پلان کې که څه هم عامه ځایونو ته پاملرنه ورکړل شوې وه، د بېلګې په توګه هغه مهال سړکونو ته ۲۸۷۸ هکتاره، عامه جوړښتونو ته ۶۷۹ هکتاره او پارکونو او خلاصو ځایونو ته

۳۵۵۷ هکتاره زمکه ځانګړې شوې وه. خو دا پلان هم بیا د جګړو له کبله عملي نه شو او د یوې څېړنې له مخې په ۲۰۰۲ ز کال کې د دغه پلان یوازې ۲۰ سلنه عملي شوې وه[17].

دغه راز د کابل د ۱۹۷۸ز کال په ماسټر پلان کې پارکونو او نورو خلاصو ځایونو ته ۳۵۵۷ هکتاره ځمکه ځانګړې شوې وه؛ خو د ملګرو ملتونو د بشر د مېشته کېدنې پروګرام د افغانستان د ښارونو وضعیت (۲۰۱۵) موندنې ښيي، چې په کابل کې په ۲۰۱۵ز کال کې د پارکونو او خلاصو ځایونو ساحه ۸۴۳,۸ هکتاره وه. دا په خپله ښيي، چې د کابل د ښار جوړوونې په پلان کې پارکونو او خلاصو ځایونو ته ځانګړې شوې سیمې او یا پلان څومره عملي شوی دی؟! (وګورئ شکل ۵).

**شکل ۵: د کابل د ماسټر پلان له مخې، په کابل ښار کې عامه پارک ته ځانګړې شوې سیمه کې پارک نه جوړېدل**




*ماخذ: یو این هبیتات ۲۰۱۸ز کال*

## 5. د عامه ځایونو د رغولو او جوړولو په تړاو هلې ځلې

[17] Yamini Narayanan (ed), Religion and Urbanism: Reconceptualising sustainable cities for South Asia, Routledge: New York, 2016, page 57

دا چې موږ په خپله مقاله کې اشاره کړې، چې په عامه ځایونو کې سړکونه، جادې، پلې‌لارې، څلورلارې، باغونه، پارکونه، لوبغالي او سټېډیومونه، عامه تاسیسات لکه عامه کتابتونونه او نور، او د ساتنې وړ ځایونه لکه کلتوري او تاریخي ځایونه راځي، نو له همدې ځایه موږ وغوښتل چې دغه برخه په دوو برخو کې ولیکو: لومړی؛ سړکونه او ترانسپورتي زیربناوې. دویم؛ د عامه ځایونو پاتې انواع.

## لومړی؛ سړکونه او ترانسپورتي زیربناوې

د شلمې پېړۍ پرمهال د عامه ځایونو په تېره بیا د سړکونو جوړونه او رغونه پېل شوه. عمده لامل یې دا و، چې افغانستان ته هم هغه مهال د ترانسپورت مدرن وسایل راورسېدل. په همدې تړاو د هوایي ډګرونو او سړکونو رغونه پېل شوه. په بل اړخ کې په یوویشتمه پېړۍ کې په باقاعده توګه د رېل پټلیو غځولو کارونه هم پېل شول؛ خو لا هم اوږده لاره پرمخ لرو.

په افغانستان کې د سړکونو جوړونه د ۱۹۵۰مې، ۱۹۶۰مې او ۱۹۷۰مې لسیزې پرمهال په تدریجي توګه زیاته شوه. د ۱۹۵۶ او ۱۹۷۲ز کلونو پرمهال په افغانستان کې تقریباً ۲۵۰۰ کیلومتره پاخه سړکونه جوړ شوي وو، چې دې بیا د هېواد پر اقتصاد مثبتې اغېزې وکړې[18]. خو د شورویانو له یرغل سره او د کورنۍ جګړې له کبله د افغانستان ترانسپورتي زیربناوې تر ډېره اغېزمنې شوې. د یو اټکل له مخې د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۹ز کلونو پرمهال تقریباً د هېواد له ۷۰ څخه تر ۸۰ سلنه پورې سړکونه د روانې جګړې له کبله ویجاړ شول[19].

له ۲۰۰۱ز کال راهیسې، په هېواد کې افغان حکومت او نړېوالې ټولنې د زیربناوو جوړونې په تېره بیا سړکونو ته لومړیتوب ورکړ. په ملي، سیمه‌ییزه او محلي کچه سړکونه قیر او پاخه کړای شول. د ۲۰۰۸ز کال راهیسې تر ۲۰۱۶ز کال پورې، په افغانستان کې د موجوده سړکونو شرحه ۲۱۳،۵ سلنه او د قیر شوو سړکونو شرحه ۱۴۵سلنه زیات شول. دغه راز د ریل پټلۍ غځولو چارې هم پېل شوې او د رسمي ارقامو له مخې تر اوسه په هېواد کې ۱۰۶ کیلو متره پورې ریل پټلۍ غځول شوي دي. (وګورئ جدول ۳).

---

[18] Maxwell J Fry, The Afghan Economy: Money, finance, and the critical constraints to economic development, Leiden: E.J Brill, 1974, page 57

[19] Gary R. Shaye, "Save the Children," *Afghanistan: Is There Hope for Peace*, p. 36; *Afghanistan's Endless War: state failure, regional politics, and the rise of the Taliban*, p.92; *The Fragmentation of Afghanistan*, pp.227-228

جدول ۳: په افغانستان کې د سړک جوړونه (۱۳۸۷ څخه تر ۱۳۹۵ پورې)( ارقام په کیلو متر کې)

| شاخص | 1387 2008_09 | 1388 2009-10 | 1389 2010-11 | 1390 2011-12 | 1391 2012-13 | 1392 2013-14 | 1393 2014-15 | 1394 2015-16 | 1395 2016-17 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټول موجوده سړکونه** | **12710** | **13689** | **14897** | **19106** | **24330** | **28245** | **33864** | **37090** | **39855** |
| قیر شوي سړکونه | 4550 | 4848 | 5611 | 7000 | 7479 | 8538 | 9468 | 10768 | **11168** |
| کرېړ اچول شوی سړکونه | 8155 | 8814 | 9212 | 12000 | 16708 | 19564 | 24146 | 25125 | **27475** |
| نورسړکونه | 5 | 27 | 32 | 32 | 37 | 37 | 144 | 1091 | **1106** |
| داوسپني پټلی | 0 | 0 | 42 | 106 | 106 | 106 | 106 | 106 | **106** |
| **ټول جوړ شوي سړکونه** | **1686** | **979** | **1208** | **4241** | **5192** | **3915** | **5619** | **3226** | **2765** |
| قیر شوی سړکونه | 1132 | 298 | 763 | 1389 | 479 | 1059 | 930 | 1300 | **400** |
| کرېړ اچول شوی سړکونه | 549 | 659 | 398 | 2788 | 4708 | 2856 | 4582 | 979 | **2350** |
| نور سړکونه | 5 | 22 | 5 | – | 5 | – | 107 | 947 | **15** |
| داوسپني پټلی | 0 | 0 | 42 | 64 | – | – | – | – | – |

*ماخذ: د افغانستان د فواید عامه وزارت، ښاروالی، شخصي کمپنی، د احصائيې مرکزي اداره ۱۳۹۵*

## دویم؛ د عامه ځایونو نور ډولونه

د عامه ځایونو د نورو ډولونو په تړاو لکه د پارکونو، لوبغالیو جوړونه او د کلتوري، مذهبي او تاریخي ځایونو خوندیتوب او بیا احیا په تړاو هم یو شمېر نړیوالو موسسو او افغان حکومت هلې ځلې کړي دي. د کلتوري، مذهبي او تاریخي ځایونو د خوندیتوب او رغولو په تړاو یو شمېر نړیوالې موسسې لکه دافا (DAFA)، اغا خان، یونیسکو پر خپلو فعالیتونو بوختې دي. دغه راز له عامه سکتور څخه د کلیو پراختیا وزارت، د حج او اوقافو وزارت، د ښاري پراختیا او ځمکې وزارت، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د کانونو وزارت په دې تړاو خپلې پروژې لري.

دا چې د کلتوري، مذهبي او تاریخي ځایونو د خوندیتوب په تړاو نړېوالو موسسو تر اوسه څومره خپله بودیجه ځانګړې کړې، په دې تړاو موږ وغوښتل چې له دافا، اغا خان، د امریکا سفارت او یو شمېر نورو ادارو څخه ارقام راټول کړو خو ډېرى په خپلو ایمیلونو کې دغه ارقام محرم وګڼل. په بل اړخ کې، د افغانستان د ۱۳۹٦ کال په انکشافي بودیجه کې، زموږ د محاسبې له مخې، د دغو لرغونو او کلتوري ساحو په تړاو ۲۷ پروژې په بېلابېلو ولایتونو کې په نښه شوې وې، او د خوندیتوب په تړاو یې ۱۳٫۵ میلیون ډالره ځانګړي کړي وو، چې له دې جملې څخه ۷٫۵۲ میلیون ډالره نوې بودیجه وه او پاتې نوره د تېر کال څخه راپاتې وه[20].

دا چې د پارکونو او لوبغالېو د بیا رغونې او جوړونې په تړاو افغان حکومت او یا نړېوالو موسسو څومره هلې ځلې کړې، څېړونکو ته ستونزمن دي، چې دقیقو ارقامو ته لاسرسی ومومي. خو بیا هم په لنډه توګه په دې تړاو او په ډېرى توګه یو این ډي پي، یو این هبیتات، اغا خان، ښاروالی، د ښاري پراختیا او ځمکې وزارت، او یو شمېر نورې ادارې پر خپلو فعالیتونو بوختې دي. یوازې یو این هبیتات له ۲۰۱٦ز کال څخه نیولې تر اوسه (۲۰۱۹ز)، د هېواد په بېلابېلو ښاري سیمو کې تقریباً ۷۳ پارکونه رغولي او جوړ کړي دي. د دې ترڅنګ په همدغه پېر کې یې له یو میلیون متر مربع څخه زیات عامه ځایونه هم رغولي او په بیا جوړونه کې یې برخه اخیستې ده.

## 6. د افغانستان عامه ځایونو ستونزې او ننګونې

- **ترافیکي پېښې**

افغانستان په نړېواله کچه یو له هغو هېوادونو څخه دی، چې د ترافیکي پېښو له کبله خلکو ته ډېرى مرګ ژوبله اوړي. د رسمي ارقامو له مخې، د ۲۰۱٦-۲۰۱۷ز کال پرمهال په افغانستان کې تقریباً ۳۰۸۹ ترافیکي پېښې رامنځته شوې وې، چې دا بیا د ۲۰۱۴-۲۰۱۵ز کال په پرتله ۱۰۴٫۸ سلنه زیاتوالی ښیي[21]. د دغو ترافیکي پېښو له کبله یو شمېر خلکو ته مرګ ژوبله هم واوښتله. د نړېوال روغتیایي سازمان د ارقامو له مخې یوازې په ۲۰۱۸ز کال کې تقریباً ۵۲۳۰ تنه په ترافیکي پېښو کې وژل شوي، چې دا بیا ۱۵٫۱ تنه پر یو لکو تنو راځي او د منځنۍ اسیا هېوادونو او پاکستان په پرتله لوړ ارقام دي[22].

---

[20] وزارت مالیه، د افغانستان د ۱۳۹٦ کال ملي بودیجه، منظور شوې.

[21] د افغانستان مرکزي احصائیوي اداره، د ۱۳۹٦ کال احصائیوي کلنی،

[22] په دې تړاو وګورئ د WHO ارقام په دې لینک کې: https://extranet.who.int/roadsafety/death-on-the-roads/#country_or_area/AFG

- **امنيتي پېښې**

که څه هم موږ په دې تړاو چې په عامه ځايونو کې څومره امنيتي پېښې رامنځته شوي، دقيق ارقام نه لرو؛ خو بيا هم، عمومي وضعيت ته په کتلو، له کله چې په افغانستان کې روانه جګړه ورځ تر بلې توده شوې، او د جګړې مخه هم د ۲۰۱۴ز کال راپدېخوا په تدريجي توګه د ښارونو پر لور اوښتې، نو له دې کبله د افغانستان په عامه ځايونو کې – د بېلګې په توګه مساجد، پارکونو، لوبغاليو، سړکونو او جادو – د يو شمېر چاودنو له کبله عامه خلکو ته مرګ ژوبله اوښتې.

په دې تړاو په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه ماموريت «يوناما» وروستی راپور يو څه وضعيت روښانه کوي. د دغه راپور له مخې، په ۲۰۱۸ز کال کې تقريباً ۱۰۹۹۳ ملکيانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه، چې دا بيا د ۲۰۱۷ز کال په پرتله ۱۱ سلنه زياتوالی ښيي[23].

- **په عامه ځايونو کې د مېرمنو په تړاو ستونزې او ننګونې**

مېرمنې زموږ په کلتور کې خاص ځای او مقام لري خو له بده مرغه زموږ په ښاري جوړښتونو کې دې ارزښت ته ډېره کمه پاملرنه شوېده په همدې خاطر د افغانستان په عامه ځايونو کې له يو شمېر ستونزو او ننګونو سره مخ دي. د بېلګې په توګه د ترانسپورت په برخه کې مېرمنې له نارينه‌وو څخه زيات انتظار باسي، ځکه مېرمنو ته ځانګړې شوي مخکنې سيټونه ځوک نه مراعتوي. د دې ترڅنګ د مېرمنو لپاره پارکونو، او مساجدو ته تګ هم يوه بله ستونزه ده. افغان مېرمنې په عمومي ډول چېرته چې د ښځينه وو او نارينه وو شمولتيا مختلطه وي، يا خو نه ځي او که ځي هم، نو د ډول ډول ځورونو سره مخ کېږي. د بېلګې په ډول د يوې سروې له مخې، چې د افغانستان په اوو ولايتونو کې له ۳۴۶ ښځينه‌وو سره شوې، ۹۰سلنه ښځينه‌وو ويلي وو، چې دوی په عامه ځايونو کې د راحت احساس نه کوي او آن تر دې جنسي ځورونې سره مخ شوي دي. په دې تړاو ۴۲سلنه سړکونه، ۲۸ سلنه مارکيټونه، ۱۲ سلنه لوی سړکونه او ٦ سلنه د انجونو د ښوونځيو شاوخوا سيمې يادې کړې وې[24].

---

[23] د يوناما راپور په دغه لينک کې وګورئ:
https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_annual_protection_of_civilians_report_2018_-_23_feb_2019_-_english.pdf

[24] آريانا نيوز، افغان مېرمنې له جنسي ځورونې سره مخ دي: سروې، په پرليکه بڼه: https://ariananews.af/afghan-women-face-increased-sexual-harassment-survey/

دغه راز په دې تړاو د نورې مطالعې لپاره ولولئ د افغانستان د تحليلګرانو شبکې يوه څېړنيزه مقاله:

- **د ځایونو غصب**

د عامه ځایونو غصبول یوه بله ننګونه ده، چې افغان حکومت ورسره مخ دی. که څه هم موږ په دې تړاو تر اوسه کوم رسمي او کره ارقام په لاس کې نه لرو، چې په عمومي توګه په هېواد کې د عامه ځایونو د غصب شوو ځمکو وضعیت څرګند کړي. خو بیا هم د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمېټه په خپل یو راپور کې لیکي، چې د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۲ کلونو ترمنځ په هېواد کې تقریباً ۱,۲ میلیونه جریبه ځمکه د ۱۵زرو څخه زیاتو غاصبینو له خوا غصب شوې[25]. همدغه راپور په یوه بله برخه کې، چې د عامه ځایونو له یو ډول سره تړاو لري، لیکي: «د ارشاد حج او اوقافو وزارت تقریباً د [۵۰زرو] جریبې ځمکې څښتن دی. خو له دغې جملې څخه تقریباً ۳۳ زره جریبه ځمکه د زورواکو او حکومتي ادارو له خوا غصب شوې ده. په دغو غصب شوو ځمکو کې هدیرې تر ټولو لویه برخه جوړوي او د مساجدو د ساحاتو او ځمکې غصبولو بېلګې هم شته دي.»[26]

- **د کلتوري او تاریخي اثارو غلا**

دا چې کلتوري او تاریخي ځایونه هم په عامه ځایونو کې راځي، نو له همدې ځایه د دغو ځایونو او اثارو خوندیتوب هم حکومت ته لویه ننګونه ده. لکه څنګه چې پورته یې یادونه وشوه، د تېرو څلورو لسیزو جګړو د افغانستان د فرهنګ دغو ډګرونو ته لوی تاوانونه واړول.

اوسمهال هم، د ملګرو ملتونو ښوونیزې او فرهنګي اداري «یونیسکو» له ۱۰۷۳ نړېوالو فرهنګي ساحاتو څخه دوه د افغانستان دي (یو د غور منار او بل د بامیانو دره او پاتې شوي لرغوني اثار دي)، چې دواړه یې بیا د یونیسکو له خوا له ګواښ سره مخ بلل شوي دي[27].

په ۲۰۱۴ز کال کې د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وویل، چې په هېواد کې تقریباً ۱۲۰۰ لرغوني سیمې، ځایونه، او اثار د منځه تلو له ګواښ سره مخ دي. د دغه وزارت په اند د بودیجې د کمښت له کبله نه شي کولای، چې دغو له ګواښ سره مخ سیمو او ځایونو بیارغونه او ساتنه وکړي[28].

---

https://www.afghanistan-analysts.org/harassment-of-women-in-afghanistan-a-hidden-phenomenon-addressed-in-too-many-laws/

[25] MEC, Report of the Public Inquiry into Land Usurpation, Independent Joint Anti-Corruption Monitoring and Evaluation Committee (MEC): Kabul, Nov 2014

[26] تېر ماخذ

[27] See World Heritage List of UNESCO online at:< http://whc.unesco.org/en/list/>

د دې ترځنګ په دې وروستېو کې د غزنین په نامه قلعه چې ۳٦ برجونه لري او تاریخ یې له اسلام څخه وړاندې بودایي دورې ته ورګرځي، د وروستېو کلونو جګړو، بارانونو او بې پامۍ له کبله یې ۱۴ برجونه نړېدلي دي[29].

## سپارښتنې

- د ښار جوړونې په پلان کې باید عامه ځایونو ته لومړیتوب ورکړل شي او په تړاو یې باید نړېوال معیارونه او زموږ کلتوري ارزښتونه په نظر کې ونیول شي؛
- په ښارونو کې باید عامه ځایونه په نښه او خوندي شي، ترڅو د ښار مېشته کېدو د لوړې کچې له کبله عامه ځایونه اغېزمن نه شي؛
- د ښاروالۍ لهخوا باید د عامه ځایونو خوندیتوب او نظارت وشي، ترڅو عامه ځایونه له یوې خوا له غصب وژغورل شي او له بلې خوا یې ښارنه هم وشي؛
- د افغانستان د کلتوري او تاریخي ځایونو او اثارو د ساتنې او خوندیتوب په تړاو باید له یو شمېر نړېوالو ادارو سره په همغږۍ پروژې پلي شي. د دې ترڅنګ د بودیجې کمښت شاید دومره لویه ننګونه نه وي، ځکه هر کال وزارتونه او د هېواد ملي بودیجه په بشپړه توګه نه مصرفېږي. د پروژو په نښه کول او پلي کول یې ننګونه ده.

---

[28]په دې تړاو وګورئ د ازادۍ راډیو راپور: نوراني: دولس سوه لرغونې سیمې د له منځه تلو له خطر سره مخ دي، په پرلیکه بڼه:
https://pa.azadiradio.com/a/25286068.html

[29]په دې تړاو وګورئ د دویچه ویله پښتو راپور: په افغانستان کې ډېر لرغوني ځایونه له ګواښ سره مخامخ دي، په پرلیکه بڼه:
https://www.dw.com/ps/%D9%BE%D9%87-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86-%DA%89%DB%8C%D8%B1-%D9%84%D8%B1%D8%BA%D9%88%D9%86%D9%8A-%DA%81%D8%A7%DB%8C%D9%88%D9%86%D9%87-%D9%84%D9%87-%DA%AB%D9%88%D8%A7%DA%9A-%D8%B3%D8%B1%D9%87-%D9%85%D8%AE%D8%A7%D9%85%D8%AE-%D8%AF%D9%8A/a-49219603

# افغانستان مرکز وصل مدنیت های گذشته جهان و مرکز تقاطع راه ابریشم

## دکتور محمد حلیم تنویر[1]

**خلاصه**

*این مقاله پیش از این در یک کنفرانس بین المللی در بیشکک ارائه شده و حال در ژورنال "تحلیل" نشر می شود.*

*این مقاله در مورد راه ابریشم، چگونه و از کجا آغاز شد، جایگاه افغانستان در آن چی‌بوده، و افغانستان چگونه آسیای جنوبی را با آسیای میانه و چین/آسیای شرقی با خاور میانه وصل می کرد. علاوه بر این، راه ابریشم نه تنها راه مبادله کالاهای بازرگانی و ابریشم بود، بلکه راه تبادل افکار بود. همچنین، نویسنده توصیه هایی به یونسکو در مورد اماکن فرهنگی و تاریخی افغانستان هم ارایه کرده.*

**واژه‌های کلیدی:** جاده ابریشم ، کوشانیان ، هپتالی ها ، بودایی ، افغانستان در جاده ابریشم قدیمی ، یونسکو

## مقدمه

جاده های باستانی آریانا ـ افغانستان در قرون گذشته، برای تجارت، تداوم زراعت و فعالیت های اجتماعی، صحرانشینان، جنگجوها، مهاجران، رهگذران مسافران و راهبان ادیان زردتشتی، بودایی، مسیحی و اسلام را به سوی چین جذب می کرد.

این مسافران راز هایی را پشت سرخود شان به جای گذاشته اند. رازهایی که باستان شناسان می خواهند درباره مسیر جاده ابریشم بردارند. افغانستان به حیث نقطه اتصال جاده ابریشم بسوی غرب و جنوب بوده و

[1]دکتور محمد حلیم تنویر مورخ، نویسنده و ژورنالیست، و مشاور ارشد وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان

از چهار هزار سال قبل در قلب قدرت های سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و مذهبی منطقه در سراسر آسیا قرار گرفته بود. افغانستان در مسیر تاریخ، سه مدنیت بزرگ دینی (زردتشتی، بودایی و اسلام) را سپری نموده است.

راه ابریشم که از جانب چینایی ها مورد استفاده قرار داشت نیز از بین میدان ها و دشت های شمالی افغانستان و از شهر جوزجانان، تخارستان، اندراب، دهکده های مرتفع پامیر، از شهر اُم البلاد بلخ، بادغیس، مرو، هری(هرات باستان)، سیستان بسوی غرب، از سلسله کوه های هندوکش و بامیان قدیم، غزنه تاریخی، کابل، گردیز، هده، و از مدنیت گندهارا تا اراکوزیای کندهار عبور مینمود.

زردتشت پیام رسان صلح، ۳۵۰۰ سال پیش در شهر باستانی (بلخ) یا (بلیکا) زندگی کرد و در همین سرزمین هم از دنیا رفت. باستان شناسان عقیده دارند که آغاز مدنیت آریانا - افغاستان را حدود ۵۰۰۰ سال قبل تعیین نموده اند. کتاب (اوستا) اولین رسم الخط این کشور است که بین مدنیت های (چین)، (بابل)، (هند)، (فارس) و سرزمین اروپایی جایگاه خود را داشت. اوستا درهمیاری با زبان سانسکریت و زبان قدیم چینی، غنامندی و شگوفایی زبان های جهان و نقش ایجاد و تکوین مدنیت های جهان بازی نمود. چنانچه بخشی از متن های دینی و رهنمایی های(اوستا) بعد از هجوم هخامنشی ها در سرزمین آریانا به فارس برده شده و به زبان (پهلوی) ترجمه شد.

جاده ابریشم، یک جاده قدیمی تجارت از چین تا به اروپاست که از دو هزار سال پیش مورد استفاده بود و در جهان بسیار شهرت دارد. شهر های افغانستان در امتداد جاده ابریشم به عنوان پلی و مرکز تقاطع مدنیت ها بین چین و کشورهای اروپا، آسیا و آفریقا برای تبادلات تجارتی بود. شهر های بدخشان، تخار، بلخ، بامیان، کابل، نیمروز و هده در افغانستان نقاط مهم استراتیژیک و محل تقاطع جاده ابریشم میان تمدن های شرق و غرب بود و نقش مهمی در تاریخ تجارت و فرهنگ، تبادل نظریات و اندیشه ها، و ایجاد جرکت بسوی مدنیت و رفاه بین کشور های آسیا و اروپا داشته است.

جاده ابریشم، راه تجارت زمینی چین بود. چین سعی داشت تا روابط تجارتی خود را با آسیای جنوبی و غربی، اروپا و آفریقا نگهدارد. از راه آسیای مرکزی (سرزمین و تمدن آریایی) در روزگار قدیم جایگاه خاص خود را در آسیای میانه نیز داشت. به سبب آنکه ابریشم و پارچه های ابریشمی که از تولیدات مهم چین بود، از این جاده به غرب توزیع می شد. بدین سبب "جاده ابریشم" نام گرفت. نتایج مطالعات نشان می دهد که این جاده اساساً در سلسله "هان" چین در قرن یکم قبل از میلاد شکل گرفت. در آن زمان جاده ابریشم به قرغزیستان، قزاقستان، تاجکستان، افغانستان، ازبکستان و ایران (امروزی) و شهر "اسکندریه" مصر، صحرای افریقا و اسپانیه درغرب امتداد می یافت. راه دیگر این جاده نیز از بلخ به کاپیسا (پایتخت مدنیت کوشانی)

نیز بود که به دو شاخ و بخش جدا میشد. یکی کابل، بامیان و بسوی هرات و دیگری به بست، نیمروز و سیستان در افغانستان به خلیج می انجامید که جزء راه بحری ابریشم نیز شمرده میشد. همچنان راه ابریشم از شهر باستانی (بلخ) بسوی هند، از طریق (اندراب) به طرف جنوب یعنی شهرهای کاپیسا، (هده) جلال آباد، پشاور، لاهور، دهلی و کراچی امتداد می یافت. این راه و طریق را اکنون بنام (راه ادویه) یا Spice Roads یاد می شود.

از قرن دوم قبل از میلاد تا آغاز قرن سوم میلادی امتداد جاده ابریشم از غرب به شرق به کشور بزرگ:

1. (روم) باستان اروپا از طریق آسیای صغیر (ترکیه)،
2. فارس و عرب در آسیای غربی،
3. امپراتوری"کوشانی ها" آسیای مرکزی (سرزمین آریانا - افغانستان، آسیای مرکزی و شمال هند امروز را حکومت می کرد)،
4. هند و جنوب آسیا و
5. سلسله "هان" چین در آسیای شرقی .

راه اندازی جاده ابریشم باعث تبادلات مستقیم و تاثیر گذاری بین این تمدن های قدیمی شد. از آن به بعد، پیشرفت این تمدن ها دیگر بدون ارتباط نبود و سرزمین آریانا – افغانستان مرکز تقاطع این مدنیت ها در ساحه ارتباطات، تجارت، سیاست و تبادل افکار و مدنیت ها شمرده می شد.

مبدأ دورۀ تاریخی جاده ابریشم در افغانستان از قرن ششم یا پنجم قبل از میلاد آغاز میگردد. در افغانستان این دوره با عملیات تهاجمی هخامنشیان که توسط داریوش اول ( ۴۸۸ – ۵۲۲ ق.م.) صورت گرفت . در آن زمان تمام ساحۀ افغانستان به شش ولایت تقسیم گردیده بود:

1. Zavala سیستان،
2. Areia هرات،
3. بکتریا یا بلخ،
4. گندهارا یا درۀ کابل،
5. Thatagush یا ساحۀ هزاره جات و
6. Haravati یا کندهار.

در هند دورۀ تاریخی با بمیان آمدن شانزدهمین Maha Jana Padas و با ظهور بودا و مهاویهارا (پیشوای مذهب چین)؛ پیشوایان دو مذهب بزرگ در قرن ششم – پنجم قبل از میلاد آغاز میگردد.

مدنیت کوشانی در تبادلات فرهنگی و تجارتی آسیا از طریق جاده ابریشم نقش محوری و اساسی داشت. دین و روش های بودایی در (بامیان) افغانستان، جایگاه خود را بین هند و چین داشت. مدنیت (کوشان) در (بگرام) و وادی (کاپیسا) مرکز مدنیت بودایی و درایت (کنشکا) امپراتور مدبر کوشانی بود. او دین بودا را در سرزمین چین از راه پامیر و آسیای میانه ترویج بیشتر داد. بودا به عنوان یکی از سه مذهب جهان، در پایان سلسله "هان" غربی (سال۲۰٦ قبل از میلاد تا سال ۲۲۰ میلادی) وارد چین شد. در معبد غار "کزیر" و "سینگ کیانگ" که قرن سوم تأسیس شد، نزدیک به ده هزار متر مربع نقاشی دیواری دیده می شود که نشانگر جریان رواج مذهب بودا از هند به چین است.

طبق استنباط ها، مذهب بودا از هند و از طریق جاده ابریشم و مدنیت کوشانی افغانستان باستان به شهر "کزیر"، "سینگ کیانگ"، سپس به "دونگ هوانگ" ولایت "گان سو" و مناطق دیگر چین رواج یافته است. غارهای مذهب بودا باقی مانده در امتداد جاده ابریشم مانند غار "موگائو کوی"، "دونگ هوانگ"، غار "لونگ من" شهر "لویان" سبک هنری شرقی و غربی را آمیخته و گواه تبادلات فرهنگی شرقی و غربی از راه جاده ابریشم است. اکنون این غارها جزو میراث فرهنگی جهان محسوب می شود.

اما غار ها و مغاره های "غارِ مار"، "مغاره آق کپرک" و مغاره "کور" در جنوب مزار شریف، مغاره "قره کمر"، در شهر (ایبک)، مغاره "چهل ستون" در بامیان، و مدنیت های قدیم "نادعلی" در سیستان، مدنیت "مندیگک" در کندهار، مدنیت "هده" در جلال آباد، مدنیت "آی خانم" در جوار دریای آمو، و محله های "شورتوغای"، "طلا تپه"، "فولل" در شمال افغانستان و از همه مهمتر کتیبه های بدست آمده "سرخ کوتل" و "خوات وردک" همه نشانه های برجسته در تثبیت جاده ابریشم و روش های تجارتی چین با مدنیت های دیگر از طریق شهر های افغانستان است.

از اداره یونسکو درخواست می نمایم تا افغانستان را به بهانه های جنگ های داخلی فراموش نکرده و مغاره های تاریخی افغانستان علاوه از شهر های تاریخی کشورم راکه بعدا معرفی خواهم کرد در فهرست و جز میراث های فرهنگی جهان محسوب نماید.

راه اتصال هند با راه ابریشم از پشاور و از طریق درۀ خیبر و جلال آباد به لوگر و کابل (مدنیت گندهارا) میرسید که از کابل به دو سمت منشعب میگردید: یکی جانب بلخ از طریق کاپیسا، اندراب و بامیان امتداد می یافت و دیگری از مسیر کندهار، فراه، نیمروز و هرات به طرف فارس منتهی میشد. راه ابریشم و راه هند در

شهر باستانی (بلخ) که برای قرون متمادی مرکز تجارتی و ثقافتی ممالک شرقی شده بود؛ با هم متلاقی میگردید.

با این نزدیکی ها و ارتباطات جای تعجب نیست که مطالعۀ بقایا و شواهد باستانشناسی افغانستان و هند، روایات گنگ و مبهم تاریخی را روشن ساخته و آنرا زنده میسازد.

سرود های ریگویدا از Kubha (کابل) و Suvastu (سوات امروزی) یکجا با پنج دریای پنجاب بنام های: Vitasta (جیلم) ، Aikman (چیناب)، Parunic (راوی) ، Vipasa (بیس) و Satudri (ستلج) یاد میکند.

چنین معلوم میشود که جوامع چوپانی آریایی که بوسیلۀ دسته های جنگجوی و دلاور سوار بر عراده های که بوسیلۀ اسبان کش میگردید، رهبری می شدند، در این ناحیه که ذریعۀ پنج دریای فوق الذکر آبیآری میگردید مسکن گزین شده اند. به همین علت است که ایشان در ریگویدا به Saindhara و در اوستا به Hapta Hindu شناخته شده اند. این سرزمین (افغانستان امروزی) واقعاً گهوارۀ تمدن آریایی های قدیم را تشکیل میدهد. و جزء اصلی راه ابریشم در معاملات تجارتی و روابط با چین، آسیای میانه (قزاقستان و فرغزیستان و تاجکستان تا ترکمنستان) و بخش های آذربایجان نیز بود.

اولین بار در قرن ششم میلادی؛ شاعر مشهور هند Varaha Mihira در کتاب Brithat Samhita این سرزمین آریانا را به اسم افغانستان یا سرزمین افغانها یاد میکند که کلمۀ (افغان) را به شکل (Avagana) نوشته است.

## راه ابریشم و مدنیت ها و امپراتوری های افغانستان باستان

افغانستان بعد از قرن هفتم میلادی بنام (خراسان) یاد میشد. حدود این سرزمین همان پهنه (آریانای قدیم) بود.

گله های شتر با بار پنبه های تازه چیده شده، در کناره صحرا و دشت ها خشک و سوخته به سوی چین و اروپا در حرکت بودند. در مقابل دیواره های گلی بلندی که وادی پامیر بدخشان، شهر های بلخ را در برابر باد های سوزان بیابان های اطراف حفظ می کنند. این شهر در قرن هفتم و دوازدهم میلادی به عنوان مرکز مذهب و علم و تجارت بود و با روابط محکم و مهم با هند و چین نقش اساسی در تحکیم راه ابریشم داشت.

مولانای جلال الدین محمد بلخی، شاعر دری زبان  قرن سیزدهم میلادی اینجا در بلخ متولد شد. بلخ زمانی با تمدن بابل رقابت می کرد.

با آنکه شهر بلخ  درسال ۱۲۲۰ میلادی توسط چنگیز خان غارت و تخریب شد ولی ابهت و بزرگی خود را تا هنوز در خود نگهداشته و از آن ببعد توسط شاهان امپراتوری تیموری در هرات بعنوان شهر تاریخ و تمدن و مادر شهر ها خوانده شده بود. مارکو پولو نیز زمانی که از اینجا گذشته بود آن را شهر عظیم و باشکوه خوانده بود.

پس از قرن 9 میلادی به دنبال تغییر ساختار سیاسی و اقتصادی قاره اروپا و آسیا، به خاصتاً پیشرفت بحری، حمل و نقل تجارتی از  راه ابحار بطور روزافزون در تجارت نقش ایفا می کرد. جاده ابریشم جاده زمینی سنتی به تدریج رو به زوال رفت. در دوران سلسله "سون" چین در قرن دهم میلادی جاده ابریشم به عنوان یک راه تجارت بسیار کم مورد استفاده قرار می گرفت.

جاده ابریشم تاریخ دیرینه دارد و در روند پیشرفت تمدن جهان نقش مهمی ایفا کرده است. در سالهای اخیر، "طرح مطالعه جدید جاده ابریشم" اکنون سازمان یونسکو این جاده را "جاده گفتگو" قلمداد کرده است تا به پیشبرد گفتگو و تبادلات کشورهای شرق و غرب مساعدت کند.

## تاریخچه راه ابریشم

برای آشنایی با راه ابریشم، نخست باید راههای قدیم افغانستان (آریانا) و (خراسان)  را که اساس و تهداب راه ابریشم است شناخت.

قدیمی ترین راه ابریشم افغانستان، تنگنا و راه پامیر است که از ایالت سینگ کیانگ بسوی بدخشان، تخارستان و بلخ باستانی (باکتریا)، و از آنجا بسوی بادغیس و هرات با یک شاخهء که به نیشاپور و ری، اکباتان (همدان) و تنگنای زاگرس و بابل می انجامد. و شاخهء دیگر به بامیان، کاپیسا، کابل و هده جلال آباد و بسوی هندوستان راه گشوده است که شهر های باستانی نقطه تقاطع مدنیت ها و اتصال  و روابط بین مدنیت های مختلفه بوده است.

این راه از روزگاران کهن، اصلی ترین راهِ پیوند میان شرق و غرب بوده است. به این ترتیب راه ابریشم راه نوبنیادی نیست، بلکه همان مسیر قدیم است که در گذر روزگاران از آسیای مرکزی به چین پیوسته و سرازیر شدن کاروانهای ابریشم این نام را بر آن نهاده است.

برقراری ارتباط رسمی میان افغانستان (آریانا زمین) و چین، بر پیوندهای گسترده که با آمد و شد نمایندگان دو کشور روز به روز گسترش می یافت. چینایان به موقعیت حساس آریانا آگاه بودند و هم آریاییان و باختریان (باکتریان) به نقشی که می توانستند بعنوان یگانه پل پیوند شرق و غرب ایفا کنند. بنابراین هر دو طرف می کوشیدند تا با گشایش راه ابریشم، اقتصاد خویش رارونق بخشند.

مقاومت آریایی ها و تلاش آنان برای در انحصار داشتن این راه برای حمل کالا میان شرق و غرب سرمایه هنگفتی را نصیب مدنیت آریایی و آرییان و بعد به سود خراسانیان در (افغانستان) کرد و اقتصاد آنان را که تا آن زمان برپایه زراعت و مالداری بود رونق بخشید.

## مسیر اصلی راه ابریشم

ابتدای جاده ابریشم از شهر لویانگ در جنوب رود هوانگ هو آغاز شده و به ترتیب از سیان، چانگ یه در ولایت (کانسو) گذشته و به توان هوانگ می رسیده است. از اینجا راه به دو شاخه شمالی و جنوبی تقسیم می شد. راه شمالی از میان کوههای (تیان شان) و راه جنوبی از کوههای نان شان، آلتین تاغ و کونلن می گذشت که شاخه های دیگر راه ابریشم بسوی هند و افغانستان از این راه جدا می شدند.

با گذشتن از مرزهای چین ، جاده ابریشم وارد قرقیزستان می شود که نخستین منزل آن اوزکند و سپس اوش از جمله کانونهای مهم تولید ابریشم بود و هم اکنون بزرگترین کارخانه ابریشم کشی و ابریشم بافی را در خود دارد. پس از آن وارد سرزمین فرغانه شده و پس از گذر از سمرقند و بخارا و جیحون (آمو دریا) به بلخ، تخارستان؛ بامیان، اندراب،کابل، هده جلال آباد و بسوی هند و شاخۀ دیگر آن بسوی بادغیس، هرات، مرو و سپس سرخس کنونی می رسیده است.

راه ابریشم از دروازه یشم و دیوار چین شروع می شد و از طریق «توزفان» (راه شمالی) و «ختن» (راه جنوبی) به کاشغر می رسید و از آن جا به فرغانه می رفت. در فرغانه کالاها را می فروختند یا با کاروان دیگری از راه سمرقند به بخارا و بلخ و هرات برده ومرو از طریق نیشابور، ری به آسیای صغیر می رساندند. یا این که از بلخ از طریق راه دره خُلم و سمنگان ، اندرآب ، هده (جلال آباد) و پشاور به هندوستان می رفتند.[2]

---

[2] افغانستان، لویی دوپری (انگلیسی) ۱۹۸۰ میلادی

مسیر جاده ابریشم از غرب به شرق و از بغداد تا بدخشان در ماوراءالنهر است که در کتاب های جغرافیایی به «جاده بزرگ خراسان» شهرت دارد. بطلمیوس، از قومی به نام «توخاوری» یا (تخاری) اسم می برد و از شهر آن ها روی معبر معروف «جاده ابریشم» یاد می کند.[3]

راه ابریشم در نفوذ افکار و پذیرش ادیان (بودایی و بعداً اسلام) از افغانستان به چین نیز اثر گذار بود و راه های مواصلاتی پامیر بدخشان و بلخ و سمرقند از دو طریق بحری متصل به نیمروز و هرات میسر شده بود. فرهنگ و دین بودایی در امپراتوری کوشانی از طریق هده (جلال آباد) و کاپیسا و بامیان نیز در حلقه مدنیت دینی با سرزمین های هند و چین علایق و روابط مستحکم داشت. و بعد از اینکه فرهنگ اسلامی گسترش یافت، باز هم شاهان بزرگ تاریخ افغانستان چون امیر تیمور، سلطان محمود غزنوی، گوهر شاد و احمد شاه درانی در تاریخ نوین کشور در تحکیم راه مواصلاتی و ارتباطات با سرزمین چین و هند نقش محوری را بازی نمودند. اسلام از هر دو راه وارد چین شد. "با آن که راه ابریشم زمینی کهن تر از راه بحری بوده اما ورود اسلام از طریق راه بحری کمی بیش از راه زمینی بود. راه ابریشم دریایی از چین به سوی کرانه جنوب شرقی رفت که اسلام در حدود قرن هفتم میلادی / اول هجری وارد آن شد، در حالی که راه ابریشم زمینی از سین کیانگ می گذشت که اسلام در میانه قرن دهم میلادی / چهارم هجری در آن راه یافته بود."[4]

"مسیر حرکت تمدن تنها از یونان به چین نبوده، بلکه جریان های فرهنگی از شرق به غرب بود که موجب تکوین نهضت رنسانس گردید."[5]

## بلخ باستان

ولایت بلخ در شمال افغانستان خانه برخی از مهم ترین بناهای تاریخی جهان است. شهر باستانی بلخ زمانی حتی ام البلاد یا مادر همه شهرها لقب گرفته بود.

خانم لین اودانل یک دهه بعد از اولین دیدارش از بلخ با گروهی از باستان شناسان به این شهر برگشته تا گنجینه‌های بیشتری از این ولایت را کشف کنند.

---

[3] با کاروان تاریخ، مسعود نوربخش، تهران، نشر ایرانشهر، چاپ اول، ۱۳۷۰، ص ۴۹-۵۱.

[4] جغرافیای تاریخی ایران باستان، محمدجواد مشکور، تهران، دنیای کتاب، چاپ اول، ۱۳۷۱، ص ۷۳۲.

[5] معماری اسلامی چین در مسیر جاده های ابریشم»، چن دان شنگ، ترجمه محسن مذهب جعفری؛ وقف، میراث جاویدان، شماره ۱۷، سال ۱۳۷۶، ص ۹۶.

باستان شناسان فرانسوی اینجا آمده اند تا از دیوارهایی که زمانی دژ شش ضلعی را در بر می گرفت نمونه برداری کنند. این دژ یا قلعه که شکلش تنها در عکس های ماهواره ای قابل تشخیص است در موقعیتی قرار داشت که هم از نظر دفاعی و هم از نظر نزدیکی به آب استراتژیک محسوب می شد.

آنها در زیربنای دژ حفاری های عمیقی می کنند تا با نمونه برداری از سنگ و گل تهداب این دیوارها، قدمت تاریخی این بنا را به دست بیاورند. دانشمندان فعلا حدس می زنند که این قلعه در ۲۵۰۰ سال پیش بنا شده است.

بعد از دوازده سال، با باستان شناسان افغان و فرانسوی به بلخ برگشته ام تا برخی از قدیمی ترین و باشکوه ترین و مهم ترین مناطق تاریخی جهان را ببینیم. منطقه ای که نه تنها به گذشته افغانستان روشنی بخشیده، بلکه به پیشرفت تمدن بشری از هند تا چین و ورای آن کمک کرده است.

در باغ چشمه شفا، یک سنگ عظیم شبیه یک سندان به چشم می‌خورد. این سنگ نشانه‌ای بجا مانده از شهری است که موبدان زرتشت و پیروان آنها 600 سال قبل، اینجا آیین‌های مذهبی‌شان را بجا می آوردند.

بلخ باستان یکی از قدیمی ترین شهرهای جهان است. هر آنچه از این شهر باقی مانده تلی از خاکی است و دیوارهایی که حالا با حفاری های پر از محنت از دل خاک سر بیرون می آورند.

## مناره های هرات

هرات یکی از شهرهای باستان کشور شهریکه تاریخ درخشان ان در عرصه علم فرهنگ و هنر همیشه جاویدان بوده است. اگر تاریخ این خط باستان را ورق زنیم خواهیم دید که دوره سلطنت تیموریان یکی از درخشان ترین دوره های این شهرباستان بوده است. این عصر پر افتخار تیموریان هرات در مسیر تاریخ کشور ما همیشه بگونه نقطه عطف مورد توجه قرار گرفته است. درمیان ابدات تاریخی وبناهای هنر این شهر یکی هم مجموعه مصلی هرات میباشد که هنر پر افتخار معماری ان دوره میباشد هنگامیکه ما بر هنر اسلامی بر میخوریم پیرامون ساختمان ها و آثار اسلامی به بررسی و تحلیل به عمل می اوریم عنصر مبهم که جلوه گر می شود مناراست. هربار که از کنار شان می گذرم حصاره های که حالا فرسوده گی ها ونگرانی ها در انتظار نابودی روزها را می شمارند. روزگاری که کاروانها به سمت هرات می امدند این منارها بودند که انها را به سمت شهر راهنمای می کردند. و در داخل شهر نیز نخستین بنای که از دور در نظر اول به چشم میخورد منارها بودند که در گوشه شمالی شهر مغرور ایستاده بودند و به هر تازه واردی اقتدار حکمرانان تیمور شاهی و توجه خاص انان به ساختن عمارت زیبا و هنر معماری را به رخ می کشیدند. تا در چند قدمی منار ها

بایستی عظمت شان را آنچنان که باید درک کنی های گویا منارها از خاطرات بیش از هشت صد سال عمر شان با تو سخن میگویند.

سالهای اخیر سازمان یونسکو منارهای هرات را که در اصل ده منار بود تحت پوشش قرار داده یک پروژه به خاطر استحکام منار پنجم هم جریان دارد یک کمربند به پیکره این منار نصف گردیده است. که دو متر و هفت سانتی این منار انحراف داشت با بسته شدن این کمر بند چهل سانتی جابه جا شده است. اما پیشنهاد میگردد تا در مورد شهر باستانی هرات و خاصتا مناره های شهر هرات، یونسکو دو پیشنهاد افغانستان را در اجندای اساسی کار آینده خود عملی سازد:

1. به رسمیت شناختن شهر هرات بعنوان یکی از شهر های باستانی و میراث های فرهنگی جهان.
2. ترمیم مناره ها و استوار سازی آن و بعد در مورد احیاءی این مناره بگونه باستانی آن.

## دیوار های کابل

زمانی که برهمنی ها وبودایی ها بوده اند. در همان کتاب حدود العالم است که کابل شهرکیست و او را حصارست محکم ومعروف به استواری واندروی مسلمانان و هندوان واندروی بتخانه ها ست.

شاهان کابل یا رتبـِـل شاهان بازمانده گان کوشانی ها ویفتلی ها بودند. مذهب ایشان بودایی بود. آنها با توجه به ضرورت دفاعی دیوارهای مستحکمی را بنا نها ده بودند. تا جلو تجاور مهاجمین را بگیرند.

سرنوشتی که دیوارهای کوه های آسمایی وشیردروازه دیده اند نیز جالب است. نخست از دست رفتن اهمیت دفاعی آنها ست. از قراین پیداست که پس ازحملۀ سپاه اسلامی، و موفقیت های آنان، واضح بوده است که چنین دیوارهای قادر نیستند سد دفاعی برای جلوگیزی ازهجوم بیگانگان باشند و از آن پس دیوارها به تاریخ پیوسته اند. این پیوستن به تاریخ ، فراموش نمودن تاریخ نیست. یادآور مدنیت سیاست و مذهب آن زمانه است. هر آنچه مسکوکات و معابد وآثار عتیقه از کابل بدست آمده است، حاکی ازمدنیت ازعصر کوشانی ها و از مدنیت بودایی خاصتاٌ از قرن دوم مسیحی حاکی است. این است که امروز اگر از کابل تاریخی یاد میشود، دریای کابل با نام های تاریخی آن همینطور دیوارها وکوه های آسمایی وشیر دروازه تداعی میابند. در قرن های بعدی، با رواج یابی دین اسلام ، در حالیکه مدنیت های پیشینه ومذاهب آنها تا اندازه زیادی ازمیان برداشته شدند، دیوارها نیز بدلیل نبود هیچ نیاز ارزشگزاری مورد لطف و توجهی نبودند. علایق بابربا انگیزۀ عمرانی درکابل، میتواند حد اقل چشم بینندگان را به سوی دیوارها نیزبرساند. زیرا بیشترین ابادی های بابر، یکی هم باغ بابر یا همان جایی که مدفن او نیز است، درکرانه کوه ها ست.

در نتیجه با گذشت تقریبا دو هزارسال ازاعمار دیوارها درکوههای آسمایی وشیر دروازه، ویرانی آنها بیشتر شد. البته روبرو شدن با چنان سرنوشت به دو دلیل دور از انتظار نیست: یکی آنکه در کشور های مانند افغانستان که هزار ویک غم و مشکل دارد، اندیشیدن به آنها حتی در حدود جلب جهانگردان وسهل نمودن رفتن بدانجا نمیتواند مطرح شود. دوم ، بیعلاقگی فرهنگی و مواردی هم بی توجهی عمدی.

اکنون دیوار کوه آسمایی بکلی ازبین رفته و یا شاید تهداب های زیرین آن باقیمانده باشند. دیوار های شیردروازه نیز در حال نابودی است. از یونسکو تقاضا داریم تا در ترمیم و بهتر سازی این دیواره ها با افغانستان همکاری همه جانبه نموده و بخشی از فرهنگ باستانی افغانستان را در شهر کابل احیاء نمایند.

## مدنیت های آی خانم و هده

هده در سرزمین گنداهاره و در منطقهٔ جلال‌آباد افغانستان مرکز این تمدن محسوب میشد. نیایش گاه‌ها و معابد در پیرامون روستای کنونی هده و تپه‌های مُشرِف به دریای کابل موقعیت دارد. این معابد از سنگ شیست، سنگ آهک، یا گِل بنا شده‌بودند و با نقش‌ها و نگاره‌های گِلی و استاکو (stucco) تزئین شده بودند. تندیس‌های خود بودا، که بزرگتر از تندیس‌های همراهانش هستند، با مهارت زیادی ساخته شده‌اند و قالب نگهدارندهٔ آنها با نقش‌های بُهت‌انگیزِ سبکِ رئالیزم تصویر سازی شده‌اند. هنرمندانی که این آثار را خلق کرده‌اند بخوبی قادر بودند اجزای چهرهٔ اقوام مختلف و جزئیات پوشاک گوناگون و زیور آلات ساخته‌شده به سبک باروک را بازآوری کنند. چهره‌نگاری‌هایی (پُرتره) از قبیل یک شاهدُخت، یک سرباز، یک راهب با سرِ تراشیده، یک کوچی پوشیده در ردا، و یک انسان بدوی و وحشی. نیایشگاه‌هایی که در تپهٔ شُتُر حفر شده‌اند، همچون تصاویر زنده‌ای، شاهدخت‌ها، اهداکنندگان، و ایزدان هندو (هندویزم اولیه) را ترسیم می‌کنند که در هنگام اجرای مراسم مراقبه (Meditation) در پیرامون بودا جمع شده‌اند. برخی از این مجسمه ها، همچون پیکرهٔ ناگه شاه، نمایانگر تاثیرپذیری از هنر هند هستند؛ برخی دیگر، همچون هِراکلِس-وَجرَپانی یا وجرپانی-اسکندر بدون شک تقلیدی از سکه‌ها و تندیس‌های بُرُنزی باستانی مشرق‌زمین هستند. امروزه پیشینهٔ هنر گنداره را به سده‌های دوم تا ششم میلادی تخمین می‌زنند.فاهیان زائر چینی هده را هیلو نامیده است . هیونتسنگ نیز از هده به حیث يك مركز فرهنگی یاد کرده است

درجریان حفریات باستان شناسان آثار و اشیای زیادی کشف گردید که نماینده گی از هنر، مذهب و ساختمان های مذهبی جمعیت های آن زمان می کند. هده در زمانه های قدیم مبدای نوآوری ها بود. به حمایت مردم هده ، طریقة جدید مذهب بودایی بنام هینایانا که معنی عرادة بزرگ دارد، رایج شد. برای اولین بار در هده زمینة ساختن مجسمه های بودایی مساعدگردید. به عقیدة دانشمند انگلیسی سرجان مارشال

مجسمه های ساخته شده در هده عمدتاً چهره ها و هیکل های تیپ آریایی (کوشانی و اسکایی) داشتند. این گونه فعالیت ها، هده را به حیث مرکز فرهنگی در تاریخ قدیم افغانستان معرفی نموده است.

هده یکی از مراکز مهم هنری مکتب گندهارا (کندهار) می باشد. سبك هنری گندهارا در تمام حوزه آسیای میانه و هند قدیم شهرت دارد. در این سبك هنری عمدتاً ساختن مجسمه های بودا از همه اولتر جلب توجه مي نمایند. مکتب گندهارا ترکیب دو سبك هنر بود. در مراعات موازنهٔ ساختمانی، در مجسمه ها سبك های یونانی به کار گرفته بود ، در حالي که شکل و هویت معنوی را از مذهب بودایی هندی گرفته بود. در هده انواع و اشکال گونه گون هنری و ساختمانی را داریم که ارزش خاص دارند. هیکل های ساخته شده ازگچ تازه گی بس بارز از انواع هیکل های ساخته شده در حوزه هند داشتند.

هَدَّه در حدود هشت کیلومتری جنوب‌شرقی جلال‌آباد قرار دارد و در آن آثاری از شهر تاریخی و استوپایی (معبد بودایی؛ در افغانستان: تپه‌کلان) دیده شده است. در ۱۳۰۲-۱۳۰۷ش، محققان فرانسوی در ویرانه‌های شهر تاریخی، که در ارتفاع ۴۷۵ متری قرار داشت، خاصاً در ویرانه‌های معبد بودایی، اکتشافاتی کردند

## مدنیت آی خانم در جوار دریای آمو

آی خانم، یک شهر یونانی در شمال افغانستان است که اکنون به صورت یک محوطه‌ی باستانی، بر بالای تپه نسبتاً هموارى، در ولسوالی دشت قلعهٔ ولایت تخار، در تقاطع رودخانه‌های جیحون (آمودریا) و کوکچه (در بیش از صد متری شمال مجرای رودخانهٔ کوکچه و دو کیلومتری جنوب شرق رودخانهٔ پنج (آمودریا)) موقعیت دارد.[ این شهر باستانی را اسکندر مقدونی بنیاد نهاد و سنگ تهدابی که توسط او، در این شهر کار گذاشته شده بود، اکنون در موزه کابل نگهداری می‌شود. قدمت این سنگ بنا به حدود سیصد سال قبل از میلاد مسیح می‌رسد و گفته می‌شود که تنها چیزی در جهان است که اسکندر کبیر قطعاً آن را لمس کرده‌است.
جغرافیانگاران یونانی، مانند: "استرابو" و "بطلیموس"، حدود ۲۳۰۰ سال قبل از امروز، در آثار خود از "اسکندریهٔ آمودریا" یا "اسکندریهٔ اوکسیانا" نام برده‌اند. اما تا این اواخر آشکار نبود که این شهر افسانه‌ای اسکندر مقدونی در کدام یک از کشورهای آسیا مدفون بوده است. سالها بود که باستانشناسان و مؤرخان جهان بویژه اروپایان به جستجوی رد پای سپاهیان اسکندر در شرق برآمده بودند

## میرزکه ولایت لوگر

میرزکه با قدامت تاریخی دو هزار ساله و داشتن گنجینه های ناپیدا جهان بشریت، طی سه دهه جنگ های داخلی در افغانستان، دستخوش غارت، چپاول و کندن کاری های غیر قانونی شد و تمام آثار این جایگاه تاریخی افغانستان به غارت و قاچاق رفت.

دراین نشست با اغتنام فرصت از دفتر مرکزی یونسکو درخواست دارم تا هیاءتی را جهت تثبیت و بررسی مدنیت های به بغما رفته به افغانستان بفرستند و تمام آثار حفریات شده این مدنیتها را که در موزیم افغانستان و آثار باستانی کشور در وزارت اطلاعات و فرهنگ افغانستان درج است تثبیت نمایند تا هرگاه هر اثر در هر جایی از دنیا پیدا شود، ملکیت افغانستان بوده و باید دوباره به افغانستان سپرده شود.

## افغانستان مرکز تقاطع راه ابریشم بین مدنیت های جهانی

راه ابریشم به عنوان یک ارزش تاریخی در ابعاد فرهنگ، اقتصاد و سیاست کشور ها نقش اساسی دارد. دراین اواخر کشور همسایه ما چین،بحث اتصال چین به افغانستان را از راه واخان و پامیر مطرح کند. سفیر چین در کابل گفت این کشور در مورد برنامه «یک کمربند، یک راه» با دولت افغانستان مشوره می‌کند. طرح این برنامه را رییس‌جمهور چین در سال ۲۰۱۳ اعلام کرد. کمربند اقتصادی راه ابریشم طی سخنرانی سال ۲۰۱۳ شی چین پنگ در قزاقستان مطرح گردید. در سال ۲۰۱۵، دولت چین اولین نقشه این طرح قرن را به نشر سپرد که شامل کمر بند اقتصادی راه ابریشم «از طریق آسیای میانه» و راه ابریشم بحری قرن ۲۱ است که از جنوب آسیا می‌گذرد و این کشور را به اروپا و افریقا وصل می‌کند. در چارچوب همین برنامه قرار است که بخشی از راه ابریشم احیا ء شود و در کنار آن افغانستان از طریق واخان بدخشان به قلمرو چین وصل شود. روشن است که تطبیق این پروژه خیلی وقت‌گیر است و تا هنوز شروع هم نشده است، اماطرح برنامه اتصال افغانستان به چین از اهمیت بالایی برخوردار است.

اتصال افغانستان به چین علاوه بر این که تجارت را سهل می‌سازد و تولیدکنندگان چینی را مستقیما به بازار افغانستان وصل می‌کند، اهمیت رابطه با کابل را برای پیکنگ بالا می‌برد. وقتی افغانستان به چین متصل شود، امنیت شمال‌شرق افغانستان برای چین اهمیت پیدا می‌کند.

دولت افغانستان مصمم است تا بحث اتصال به چین را جدی دنبال کند. دولت افغانستان می خواهد پروژه احیای راه ابریشم و اتصال قلمرو افغانسان به چین را جدی بگیرد تا روابط دولت مرکزی افغانستان و چین به حدی تقویت شود که پروژه اتصال بدخشان به ایالت سین‌کیانگ عملی شود. در ادبیات سیاسی چین تا هنوز برای جایگاه افغانستان اصطلاحات چون «شریک» و «وصل» به کار می‌رود. افغانستان از لحاظ تاریخی نه تنها در مسیر راه ابریشم کهن قرار دارد، بلکه دو شهر هرات و بلخ ایستگاه‌های اساسی این مسیر و چهارراه

ارتباطی آن بوده است. تا هنوز کاروانسراهای راه ابریشم در افغانستان باقی مانده و تولید عنعنوی ابریشم خاصتاً در هرات رونق دارد.

در دسیمبر ۲۰۱۴ چین، قرغزستان، تاجیکستان، افغانستان و ایران توافق‌نامه تمدید خط آهن از چین الی ایران را به امضا رساندند که از شش ولایت افغانستان، کندز، بلخ، جوزجان، فاریاب، بادغیس و هرات می‌گذرد که بزرگ‌ترین مسیر خط آهن در افغانستان خواهد بود که نه تنها ایران و چین را وصل می‌کند بلکه هم‌چنان افغانستان را با کشورهای همسایه شمالی وصل می‌کند و می‌توان جز از پروژه بزرگ راه ابریشم به حساب آید.

راه ابریشم یک فرصت استثنایی برای افغانستان به حساب می‌آید. استفاده از صندوق وجهی راه ابریشم، بانک بنیاد های آسیایی، بانک جدید توسعه و صندوق وجهی سازمان همکاری شانکهای می‌تواند زیرساخت‌های کشور را برای تبدیلی افغانستان به ایستگاه ترانسپورتی- انرژی منطقه تقویت کند. افغانستان نیاز به جلب سرمایه دارد. اقتصاد افغانستان نمی‌تواند از طریق کمک‌های بلاعوض جوابگوی نیازمندی‌های توسعه‌ای کشور باشد.

باید اراده سیاسی رهبری دو کشور و خواست مردمان را برای همکاری‌ها، گسترش داد و در عمل پیاده کرد. چین از توانایی‌های عظیمی برخوردار است و توسعه روزافزون آن کشور به امنیت، ثبات و مواد خام نیاز دارد.

- کمربند اقتصادی راه ابریشم به رهبری چین شامل چندین کشور منطقه از جمله افغانستان خواهدبود
- دهلیز میانی یا راه ابریشم مدرن به رهبری ترکیه که شامل افغانستان هم می‌شود؛
- ابتکار راه ابریشم، شامل قزاقستان، آذربایجان، گرجستان و ترکیه؛ که افغانستان نقش اساسی را خواهد داشت
- راه ابریشم آبی شامل چین، شورای همکاری خلیج، و دیگر کشورهای آسیایی است که در رسیدن باین مئمول افغانستان باید شاملپروژه های انکشافی آن باشد
- ابتکار راه ابریشم جدید مورد حمایت ایالات متحده امریکا. نیز قرار دارد

یکی از اهداف اساسی سیاست خارجی افغانستان کاهش خشونت ها داخلی است که باید بین دولت‌ها از طریق ایجاد وابستگی‌های اقتصادی منطقه‌ای برای توسعه مشترک پایدار بوده است. در روشنی یک چنین سیاستی،با اتصال دهلیزهای سنتی پویای شمال- جنوب، تمام منطقه می‌تواند ظرفیت کامل احیای راه ابریشم را از طریق تبدیل افغانستان به یک مرکز تجارت و ترانسپورت منطقه‌ای تحقق بخشد. و این مامول با

ساختن شاهراه واخان از کاشغر تا بدخشان میسر خواهد بود. نقش فرهنگی این راه نیز میتواند رویای های "هیوان تسنگ" و "مارکوپولو" را بین شرق و غرب تحقق بخشد.

جهت نیل بااین اهداف روش جدید و ایجاد یک پلاتفورم راه ابریشم از طریق اتصال برقی(انلاین) و ایجاد شبکه های ارتباطی با هر عضو و کشور شامل با راه ابریشم ، یک گام موفقیت آمیز در پیشبرد برنامه های ارتقایی راه ابریشم خواهد بود. افغانستان دراین کار های توسعه یی خود را شریک و همکار میداند. همچنانیکه در دومین همایش بین المللی جاده ابریشم زیر عنوان (بستر های فرهنگی و تمدنی شکل گیری جاده ابریشم و چشم انداز های آینده) در دانشگاه فردوسی در شهر زیبای مشهد را نیز در محور های مورد بررسی جاده ابریشم اقدام نیک برای همه کشور ها دانسته موفقیت بیشتر نصیب ما گردد

# د ملي یووالي حکومت پرمهال په افغانستان کې د روسانو لېوالتیا او ستراتېژي (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

**څېړندوی عمران زکریا[1]**

***لنډیز***

*روسیه په افغانستان کې اوږدمهالې ستراتیژیکې لېوالتیاوې لري، چې په دې کې د هېواد سیاسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او د نشه يي توکو مخنیوی دی. په افغانستان کې د مسکو ستراتیژي څه دا رنګه ده، چې له یوې خوا، نه غواړي امریکایي ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي، خو له بلې خوا بیا دا هم نه غواړي، چې بهرني ځواکونه دې له افغانستانه سمدستي او چټک ووځي او په دې توګه ګډوډي شاته پرېږدي.*

*په افغانستان کې د روسیې لېوالتیاوو وخت ته په پاملرنې بدلون موندلی دی؛ د سترې لوبې (The Great Game) په اوږدو کې افغانستان د روسیې لپاره د ځمکنۍ پراختیا په پار یو ښه فرصت و. د دوو نړېوالو جګړو او سړې جګړې پرمهال ورته د کابل ناپېیلتوب ارزښت درلود. د دې ترڅنګ د ۲۰ مې پېړۍ په ۱۹۸۰ مه لسیزه کې پر افغانستان د پوځي یرغل تر شا ګرمو اوبو ته رسېدل او په افغانستان کې د خپلو ایډیالوژیکو پلویانو د حکومت باثباته کول د روسانو د لېوالتیاوو نور ډولونه وو.*

*خو اوس‌مهال مسکو افغانستان ته نور د یو فرصت په سترګه نه، بلکې د یو داسې هېواد په توګه ګوري، چې له بې ثباتۍ، د بهرنیو ځواکونو له شتون او نشه يي توکو له کرکېلې څخه پاک وي؛ ځکه د مسکو په ګمان د دغو درې واړو په شتون کې به لومړی منځنۍ آسیا او بیا په دویم قدم کې روسیه اغېزمنه شي.*

***کیلي:*** *روسیه په افغانستان کې، داعش، افغان-روس اړیکې، د مسکو افغان سولې پروسه*

---

[1] څېړندوی عمران زکریا د افغانستان د علومو اکاډمۍ د سیمه‌ییزو څېړنو مرکز علمي غړی او اوس‌مهال د چین په Central China Normal University کې په نړېوالو اړیکو کې ماسټري کوي.

## سریزه

له تاريخي پلوه په افغانستان کې بې ثباتي د بهرنيو لاس‌وهنو او د هېواد او سيمې پر سر د سياليو له امله ده. په ۱۹مه مېلادي پېړۍ کې په افغانستان کې د روسيې ښکېلتيا له برتانيې سره پر سيالۍ پيل شوه، چې يادې سيالۍ هغه مهال د سترې لوبې Great Game په نامه شهرت درلود[2].

د ۲۰مې مېلادي پېړۍ پرمهال د امريکا او روسيې ترمنځ سړه جگړه، چې نړۍ يې پر دوو قطبونو وېشلې وه؛ افغانستان ته يې هم رېښې په ۱۹۵۰مه مېلادي لسيزه کې راوغځېدلې او په پای کې د سړې جگړې پرمهال د امريکا او روسيې دغه رقابت هم همدلته پای ته ورسېد. په ۱۹۹۰ مه ميلادي لسيزه کې په افغانستان کې د کورنۍ جگړې له کبله روسيې په منځنۍ آسيا کې خپل پوځي شتون زيات کړ. د دې ترڅنگ، د ۱۹۹۰ مې لسيزې په وروستېو کې د روسيې اړيکې له طالبانو سره هغه مهال خرابې شوې، چې کله طالبانو په ۲۰۰۰ز کال کې په يوه اړخيزه توگه د چېچنيا خپلواکي ومنله[3].

د طالبانو رژيم له ړنگېدو سره سم، د ۲۰۰۱ز کال د نومبر پر ۲۶ مه د روسانو يو ډيپلوماتيک پلاوی کابل ته د ډيپلوماتيک ماموريت پرانېستلو په موخه راغی[4].

معاصره فدراتيفه روسيه د ولاديمير پوټين تر رهبرۍ لاندې په افغانستان کې امنيتي او اقتصادي لېوالتياوې لري. په ۲۰۰۱ز کال کې د امريکا متحدو ايالتونو تر رهبرۍ لاندې پر افغانستان تر بريد وروسته، روسيه په کمه کچه په افغانستان کې د امريکا له متحده ايالاتو سره په پوځي عملياتو کې ښکېله شوه. دغه ښکېلتيا د شمال ترانسپورتي لارې تاسيس او پرانېستل او بيا په منځنۍ اسيا کې د ناټو ځواکونو ته د دغې سيمې پوځي اډو ته د لاسرسي زمينې برابرول وو. دغه مهال په افغانستان کې د روسيې بنيادي گټې د افغانستان ثبات،

---

[2]Kathryn Stoner, Russia's 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, P.399. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[3]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: https://www.bishkekproject.com/memos/13

[4]Thomas Ruttig, From Point Zero to 'New Warmth': Russian-Afghan Relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 8 Aug 2014, P4. Access date: 5/6/2019. Online access: *https://www.afghanistan-analysts.org/from-point-zero-to-new-warmth-russian-afghan-relations-since-1989/?format=pdf*

اقتصادي پرمختګ او ستره هڅه یې له افغانستان څخه منځنۍ اسیا او بیا روسیې ته د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی وو[5].

په ۲۰۰۴ز کال کې په اوکراین کې د رامنځته شوو پېښو – په ځانګړي ډول نارنجي انقلاب – له امله د روسیې او لوېدیځ اړیکې سړې شوې، نو دې د روسیې او افغانستان پر اړیکو هم اغېزې وښندلې او په پایله کې په ۲۰۰٦ز کال کې مسکو د پخواني ولسمشر حامد کرزي له حکومت سره خپل پوځي ملاتړ ته د پای ټکی کېښود[6].

دغه مهال د امریکا-افغان او امریکا-روسیې اړیکو خرابېدو ته جدي اړتیا وه، څو د افغان-روسیې همکاري بیا له سره پیل شي. داسې چې د ۲۰۰۸ز کال په اپرېل کې د متحدو ایالتونو د پخواني ولسمشر اوباما د ټاکنیز کمپاین یو له بنسټیزو موضوعاتو له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو ویستل وو، نو د اوباما ټیم په ښکاره ډول پر کرزي او په افغانستان کې پر اداري فساد نیوکې وکړې. په پایله کې کرزي هڅه وکړه، چې د متحدو ایالتونو او ناټو پر ځای د خپل هېواد د بهرنیو اړیکو لیدلوری بدل کړي. هم‌مهاله، د ناټو له لوري ګرجستان ته په ناټو سازمان کې د غړیتوب وړاندیز او د روسیې او ګرجستان تر منځ پنځه ورځنۍ جګړې د مسکو او لوېدیځ اړیکې لاپسې سړې کړې. په پای کې په ۲۰۰۹ز کال کې د افغان-روسیې په حکومتي کچه تماسونه د ولسمشر کرزي او ولسمشر مېدوېدوف ترمنځ د خطونو له تبادلې وروسته یو ځل بیا پیل شوې[7].

له پورتني حالت څخه په ډاګه کېږي، چې د ولسمشر کرزي هدف لوېدیځ ته په ډاګه کول و، چې افغانستان نورې لارې هم لري، ترڅو خپلې اړیکې پیاوړې او ملګري پیدا کړي. د ۲۰۱۴ز کال په اوږدو کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د شمېرې په کمېدو سره، روسیې هم لکه د یو شمېر ګاونډیانو او سیمې هېوادونو په څېر په افغانستان کې لېوالتیا په اوتومات ډول زیاته شوه. د سیمې په کچه د روسیې بنسټیزه لېوالتیا د منځنۍ اسیا په جمهوریتونو کې ثبات وو. روسیه اوسني افغانستان ته د یو مسوولیت په سترګه ګوري، نو ځکه روسیه په افغانستان کې ګام په ګام خپل رول لوبوي. روسیه په افغانستان کې نفوذ غواړي، څو له دې لارې په

---

[5]Kathryn Stoner, Russia’s 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, P.398. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[6]Joakim Brattvoll, Is Russia Back in Afghanistan? Peace Research Institute Oslo, 04 2016, P. 3. Access date: 16/6/2019.

[7]Thomas Ruttig, From Point Zero to ‘New Warmth’: Russian-Afghan Relations since 1989, Afghanistan Analysts Network, 8 Aug 2014, P5. Access date: 5/6/2019. Online access: *https://www.afghanistan-analysts.org/from-point-zero-to-new-warmth-russian-afghan-relations-since-1989/?format=pdf*

منځنۍ اسيا کې خپلې امنيتي لېوالتياوې چټکې کړي. همدارنگه روسيه د منځنۍ اسيا په گاونډ او سوېلي اسيا کې د امريکا اوږدمهاله پوځي شتون نشي زغملی، نو هڅه کوي په افغانستان کې پياوړی مرکزي حکومت رامنځته شي، څو د امريکا او ناټو ځواکونو د پوځي شتون زمينه راکمه شي[8].

له بله اړخه، په افغانستان کې د داعش پراختيا روسيې ته زمينه چمتو کړه، چې له طالبانو سره خپلې اړيکې ټينگې او لاپسې پياوړې کړي. هر څومره چې په افغانستان کې امنيتي وضعيت خرابيږي او هېواد د سياسي بې ثباتۍ پر لور ځي، هومره روسيې ته په منځنۍ اسيا کې د پوځي شتون او نفوذ زمينه برابريږي.

## تیوري

د نړېوالو اړيکو د رياليزم تيوري له مخې انسان خود غرضه او د خپل قدرت زياتولو لېواله دی؛ له همدې امله د تاريخ په اوږدو کې د جگړو شاهدان يو، چې دولتونه هڅه کوي له هره اړخه خپل قدرت زيات کړي. ماکياولي په ۱۵۳۲ز کال کې په خپل کتاب (The Prince) کې پر دې ټينگار کوي، چې د رهبر اساسي دنده د ملي امنيت خوندي کول دي او د دې لپاره چې دغه دنده په ښه توگه ترسره کړي، بايد کورنيو او بهرنيو ټولو خطرونو ته متوجه اوسي[9].

په ۲۰۱۴ز کال کې له روسيې سره د کريميا يوځای کېدل د پياوړې روسيې د بېرته راگرځېدو تصديق کوي، چې دا په روسيه کې د نړېوالو اړيکو د نورو تيوريو پر باور لرونکو د رياليستانو له سپيناوي سره مرسته کوي. د روسيې بهرنۍ پاليسي د سړې جگړې پر مهال او اوس هم د رياليزم تيورۍ پر بنسټ ولاړه ده، چې رهبران يې د ملي گټو پر بنسټ گامونه پورته کوي[10].

په ۲۰۰۷ز کال کې د ميونيخ په کنفرانس کې د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين د روسيې د بهرنۍ پاليسۍ نوی چوکاټ په نښه کړ، چې تر دې دمه د رياليزم تيوري پر اساسي اصولو او د روسيې هېواد پر گټو ولاړ

[8]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: https://www.bishkekproject.com/memos/13

[9]Sandrina Antunes and Isabel Camisao, Introducing Realism in International Relations, 27 FEB 2018. Access date: 25 June 2019. Online access: https://www.e-ir.info/2018/02/27/introducing-realism-in-international-relations-theory/

[10]Sumantra Maitra, Realism in Russian Foreign Policy: The Crimean Case, CLAWS Journal, 2014, P116. Access date: 25 June 2019. Online access date: https://www.claws.in/images/journals_doc/267144158_SumantraMaitra.pdf

دی[11]. روسيې هم د سړې جګړې او هم اوسمهال په خپل بهرني سياست کې د قدرت د موازنې ميکانيزم پر مخ وړي.

## د افغانستان او روسيې پر اړيکو د مسکو- واشنګټن اړيکو سيوری

په ۲۰۰۱ز کال کې روسيې پر افغانستان د امريکا د بريد ملاتړ وکړ؛ په پايله کې د طالبانو رژيم نسکور شو، ډېره موده وروسته د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي وويل، "افغانستان هغه مهال يوازينی ځای و، چې د مسکو او واشنګټين ګټې سره په ټکر کې نه وې"[12].

روسيې په ۲۰۰٦ز کال کې له افغانستان سره خپلې پوځي مرستې بندې کړې. د افغانستان-امريکا او روسيې-امريکا انډېښنو زياتوالي د کابل او مسکو حکومتونو ترمنځ لېوالتياوو ته لاپسې زمينه چمتو کړه؛ داسې چې د پخواني ولسمشر کرزي او اوباما ترمنځ اړيکې ډېرې سړې شوې. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د پخواني استازي کای ايډي (Kai Eide) په وينا، کرزي غوښتل له متحدو اياالتونو غچ واخلي، هماغه و چې د سوچي په المپيک لوبو کې يې ګډون وکړ، چې لوېديځو هېوادونو ورسره بايکاټ کړی وو، ان په ۲۰۱۴ز کال کې کرزي له روسيې سره د کرېميا د يوځای کېدو ملاتړ هم وکړ[13].

همدارنګه روسيې د ۲۰۱۰ز کال په اوږدو کې د امريکا-روسيې اړيکو تر خرابېدو وروسته بيا هڅه پيل کړه، چې له طالبانو سره اړيکې ټينګې کړي[14].

په افغانستان کې د روسيې لېوالتيا او ښکېلتيا بايد د امريکا او روسيې د دوه اړخيزو اړيکو له لارې وپېژندل شي. درې نمونې يې د توپير وړ دي:

1. د سپټمبر له ۱۱ مې وروسته، د روسيې له خوا د تروريزم پر وړاندې د امريکا په جګړه کې لومړنۍ همکاري؛

[11]تېر مأخذ، ۱۲٦ مخ

[12]Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm

[13]Joakim Brattvoll, Is Russia Back in Afghanistan? Peace Research Institute Oslo, 04 2016, Pp. 3-4. Access date: 16/6/2019.

[14]Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html

2. له ۲۰۰۵ز کال څخه تر ۲۰۱۰ز کال پورې په منځنۍ اسیا کې د امریکا د موخو پر وړاندې د شک راپورته کېدل، چې روسیې په افغان جګړه کې د همکارۍ پر ځای د خنډونو جوړولو هڅې پیل کړې؛
3. له ۲۰۱۱ز کال را په دېخوا او له ۲۰۱۴ز کال وروسته د امنیتي تشې په اړه د روسیې د اندېښنو زیاتېدل، خو ترځنګ یې په کمه اندازه د روسیې همکاري.[15]

د روسیې چارواکي له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د بېړني تګ له کبله سخت اندېښمن وو، چې دا به د افغانستان او سیمې امنیت وګواښي.

که د پایلې په توګه ووایو، نو روسیه له درېیو غوراویو سره مخ شوه:

1. د ۱۹۹۰ مې لسیزې پالیسۍ ته بېرته ګرځېدل او د شمال له ټلوالې ملاتړ، څو د شمال بفر زون بیا تاسیس کړي، او له دې لارې د منځنۍ اسیا متحدین له یرغله خوندي کړي.
2. د ملي یووالي له حکومت سره همکاري او یا هم له معتدله طالبانو سره همکاري.
3. له لوېدیځو هېوادونو سره همکاري او له منځنۍ اسیا څخه د خوندي سیمې راچاپېرول.[16]

په حقیقت کې د افغانستان پر وړاندې د روسیې له بهرني سیاست څخه په ډاګه کېږي، چې روسیه په منځنۍ اسیا او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د خپل نفوذ پراختیا غواړي، څو د سیمه‌ییز قدرت په توګه خپلې او د خپلو متحدینو ګټې خوندي کړي.

روسي چارواکي پر دې باور دي، چې روسیه په افغانستان کې چندان ښه موقعیت نه لري، نو ځینې وخت فکر کوي، چې روسیه دې په افغانستان کې د بې ثباتۍ ستر خطر ومني، خو امریکا ته به دا پیغام واستوي، چې روسان د امریکا فشار نشي منلی.[17]

---

[15]Kathryn Stoner, Russia's 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, Pp.418-419. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[16]Kathryn Stoner, Russia's 21st Century Interests in Afghanistan: Resetting the Bear Trap, University of California Press, Asian Survey, Vol. 55, March/April 2015, Pp.418-419. Access date: 10 June 2019. Online access: *https://www.jstor.org/stable/10.1525/as.2015.55.2.398*

[17]Antonio Giustozzi and Ali Mohammad Ali, the National Unity Government and Re-Shaping of Political Coalitions in Afghanistan, January 9, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.crpaweb.org/single-post/2018/01/10/The-National-Unity-Government-and-the-Re-Shaping-of-Political-Coalitions-in-Afghanistan-Antonio-Giustozzi-Ali-Mohammad-Ali

## د افغان طالبانو او روسیې اړیکې

افغان طالبانو هغه مهال چې په ۱۹۹۵ز کال کې یې د هېواد یو شمېر ولایتونه تر کنټرول لاندې وو، له روسیې سره د اړیکو د تاسیس غوښتنه وکړه. د ۱۹۹۵ز کال په اګست کې د روسیې الوتکه د طالبانو د جټ الوتکې له لوري دې ته اړ شوه، چې د کندهار په نړېوال هوایي ډګر کې ناسته وکړي، وروسته که څه هم افغان طالبانو د روسانو الوتکه پرېښوده خو دغه مهال د دواړو لوریو ترمنځ په ډیپلوماتیک ډګر کې مخامخې ناستې وشوې. د دغو خبرو اترو پرمهال طالبانو وکولای شول، د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال په کندهار ولایت کې ځای پر ځای شوي ماینونه خنثی کړي. همدارنګه طالبانو هڅه وکړه روسیه دې ته مجبوره کړي، چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي څوکۍ د طالبانو په استازیتوب ومني، خو روسیې دا کار ونه کړ او د پخوا په څېر یې د مجاهدینو د حکومت ملاتړ ته دوام ورکړ، او په دې توګه طالبانو ونشوای کړای د روسیې له لوري سیاسي ملاتړ ترلاسه کړي[18].

روسیې پر افغانستان د امریکا تر پوځي برید وروسته، د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۷ز کال کې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړې، چې له افغانستان څخه منځنۍ اسیا ته د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي پر موضوع بحث وکړي. خو اوسمهال دغه تماسونه توپیر لري، د روسیې چارواکي ادعا کوي، چې په افغانستان کې د امریکا پالیسي له ناکامۍ سره مخ ده، نو ځکه روسیه غواړي په افغانستان کې «مداخله» وکړي[19].

د ۲۰۱۶ز کال په ډسمبر کې مسکو له طالبانو سره له خپلو پټو اړیکو پرده پورته کړه او د روسیې د بهرنیو چارو وزیر اعلان وکړ، چې له طالبانو سره استخباراتي معلومات شریکوي[20]، ترڅو په افغانستان کې د داعش پر وړاندې جګړه وکړي. افغان حکومتي چارواکو په غبرګون کې پر روسیې تور پورې کړ، چې له طالبانو سره د وسلو مرسته کوي، خو روسي چارواکو دا خبر رد کړ[21]. همدارنګه، طالبانو هم له روسیې څخه د پوځي ملاتړ موضوع رد کړه[22]. د افغانستان پر وړاندې د روسیې نوی دریځ داسې په ډاګه کوي، چې د اسیا په زړه کې یوه بله نوې ستره لوبه پیلېدونکې ده.

---

[18]Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: *https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html*

[19]Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm*

[20]تېر ماخذ

[21]تېر ماخذ

[22]تېر ماخذ

د دې ترڅنګ، د ۲۰۱۷ز کال په مارچ میاشت کې، په افغانستان کې امریکایي پوځي چارواکو مسکو پر دې تورن کړ چې د روسیې له لوري د افغان سولې د ډیپلوماسۍ موخه په افغانستان کې د ناټو ماموریت کمزوري کول دي او پر مسکو یې تور پورې کړ، چې طالبانو ته وسلې ورکوي. خو روسي چارواکو دا تور رد کړ او په دې باندې یې اعتراف وکړ چې له طالبانو سره اړیکې لري[23].

د امریکایي پوځي چارواکو د ادعا پرضد روسي چارواکي وايي، چې امریکا له پوځي عملیاتونو سره بیا هم د ټرمپ د ولسمشرۍ پر مهال دې ته ملا وتړله، څو له طالبانو سره روغې جوړې ته کښېني، نو روسیه هم هڅه کوي له طالبانو سره اړیکې پراخې کړي او د افغانستان شخړې ته د پای ټکی کېږدي. د سوریې، شمالي کوریا او د افغانستان په مسایلو کې د روسیې ښکېلتیا له امریکا سره د تعادل د موازنې برابروالی دی. له طالبانو سره د روسیې تماسونه کولای شي ځانګړې پایلې ولري. په افغانستان کې له طالبانو سره د روسیې اړیکې او د سولې په نامه له طالبانو سره مذاکرات په دې معنی، چې دا به په نړېواله کچه د شخړو په حل کولو او د روسیې په ښکېلتیا کې د روسیې له وضعیت سره ځانګړې مرسته وکړي، څو په نړېواله کچه مقام ترلاسه کړي[24].

په واشنګټن کې د وډرو ویلسن نړېوال څېړنیز مرکز کې مایکل کوګل من د ۲۰۱۷ز کال په جنورۍ کې وویل، چې روسیه څو لسیزې وړاندې له افغانستان څخه وتلې وه، خو اوس یو ځل بیا د افغانستان مسایلو ته رادننه شوې ده. د کوګل من په نظر، روسیې پر ځان ستر خطر منلی، چې په افغانستان کې د طالبانو لوري ته راګرځېدلې ده. کوګل من وايي: "روسیه د یو نادولتي لوبغاړي ملاتړ کوي، چې د داعش دښمن دی. همدارنګه روسیه له طالبانو څخه په افغانستان کې داسې ګټه اخلي، چې پر واشنګټن فشار راوړي. خو کوګل من دا هم وايي چې له طالبانو څخه د روسیې د ملاتړ تر شا داسې راز دی، چې سپړل یې ستونزمن کار دی"[25].

---

[23]تېر ماخذ

[24]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

[25]Afghanistan-Russia Relations, Global Security. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.globalsecurity.org/military/world/afghanistan/forrel-ru.htm*

## مسکو څه غواړي؟

روسیه په داسې حال کې افغان طالبان په مسکو کې د سولې خبرو ته رابولي، چې له ۲۰۰۳ز کال راهیسې د طالبانو ډله د یوې تروریستې ډلې په توګه پېژني. د ۲۰۱۶ز کال په سپټمبر کې جنرال اولېګ سیروم‌ولوتوف، د روسیې د بهرنیو چارو مرستیال وزیر وویل، طالبان په روسیه کې د یوې تروریستي ډلې په توګه پېژندل کېږي، چې روسیه د ملګرو ملتونو له نظر سره همغږې ده. همدارنګه د روسیې دولتي رسنۍ تاس (TASS) هم "په روسیه کې طالبان د یوې تروریستې او ناقانونه ډلې" په توګه اعلان کړي ده[26].

دا چې ولې روسیه اوس‌مهال له همدې «تروریستې ډلې» سره خپلې اړیکې پراخې کړي، دا یو شمېر عوامل لري:

**لومړی** – روسیې له طالبانو سره د بهرنیو اړیکو له لارې لوبدیځ ته ور په زړه کړه، چې که لوبدیځ د افغانستان په اړه په سیمه‌ییزه او یا نړیواله کچه پلانونه جوړوي او د روسیې ګټې له پامه غورځوي، نو روسیه هم کولای شي په خپل وار له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي. په ۲۰۱٦ز کال کې په افغانستان کې د سولې په موخه د همغږۍ څلور اړخیزه ګروپ بنه غوره کړه (Quadripartite Coordination Group) چې امریکا، چین، پاکستان او افغانستان یې غړي هېوادونه وو. غړو هېوادونو له طالبانو سره د مذاکراتو په موخه ناستې جوړې کړې، خو کومه بریالۍ لاسته راوړنه یې نه درلوده.

**دویم** – د طالبانو د ملاتړ له لارې د روسیې مشرتابه غواړي، په سیمه کې د امریکا متحدو ایالتونو او ناټو د نفوذ پر وړاندې خنډونه پیاوړي کړي.

**دریم** – روسیه په افغانستان کې د داعش د نفوذ له لارې د خطر احساس کوي. له ۲۰۱۴ز کال وروسته، روسیه منځنۍ اسیا او په ځانګړې ډول روسیې ته د داعش د نفوذ پراخېدو او یا انتقال اندېښنه لري؛ دا چې طالبان د داعش پر وړاندې جنګېږي، نو له طالبانو سره مرسته د روسیې لپاره ښه وسیله جوړه شوه. د ۲۰۱۷ز

---

[26]Samuel Ramani, Russia and the Taliban: Talking with Terrorists, January 12, 219. Access date: 19/6/2019. Online access: *https://thediplomat.com/2019/01/russia-and-the-taliban-talking-with-terrorists/*

کال په ډسمبر کې د روسيې د بهرنيو چارو وزير څرګنده کړه، چې روسيې له داعش سره د مبارزې په موخه له طالبانو سره استخباراتي معلومات شريکول[27].

**ځلورم** – د روسيې لپاره بل سرخوږی افغان ترياک دي. افغانستان د ټولې نړۍ ۹۰ سلنه نشه يي توکي برابروي، چې ډېری يې د طالبانو تر حاکميت لاندې سيمو کې کرل کېږي. په روسيه کې د نشه يي توکو د استعمال له کبله هر کال ۷۰۰۰ کسان وژل کېږي. نو ځکه روسي چارواکي باور لري، چې له نشه يي توکو سره په مبارزه کې د ملي يووالي حکومت په پرتله افغان طالبان کولای شي ښه مرسته وکړي[28].

په افغانستان کې د نشه يي توکو توليد د ۲۰۰۱ز کال په پرتله په ۲۰۱۲ز کال کې ۱۹ ځله لوړ شوی دی، او روسيه يې ستر مارکېټ دی. د روسيې شاوخوا شپږ سلنه وګړي پر نشه يي توکو روږدي دي او د يادو نشه يي توکو اساس تر ډېره له افغانستان څخه دی[29].

**پنځم؛ د امريکا ځنډې ته کول او خپل نرم ځواک زياتول**

له طالبانو څخه د روسيې ملاتړ کولای شي د افغانستان راتلونکي لپاره بېلابېلې پايلې ولري، لکه د مرکزي حکومت کمزوري کول، چې په دې سره به په کابل کې د متحدو ايالتونو د ملاتړي حکومت قدرت هم محدود کړي. همدارنګه روسيه هڅه کوي، د افغان شخړې د حل په موخه د امريکا متحده ايالتونه ځنډې ته کړي. د طالبانو له وسله والې ډلې سره د روسيې خبرې به د روسيې رول د يو منځګړي په توګه هم پياوړی کړي. د ۲۰۱٦ز کال د ډسمبر راهيسې، روسيه په دوامداره توګه له طالبانو سره خبرې پر مخ وړي، ترڅو په افغانستان کې روان بحران ته د پای ټکی کېږدي[30].

## د مسکو د افغان سولې پروسې ارزونه

---

[27]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/

[28]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/

[29]Richard Ghiasy, the Evolution of Russian Geopolitical Interests in Afghanistan: from Opportunity to Liability, 22 March 2017. Access date: 24 June 2019. Online access: https://www.bishkekproject.com/memos/13

[30]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/

مسکو ته د افغان طالبانو له رابللو وړاندې، روسيې د ۲۰۱٦ز کال په ډسمبر کې د روسيې، چين او پاکستان درې اړخيزه ناسته پيل کړه. خو د افغان حکومت چارواکو له خوا تونده غبرګون وښودل شو، چې روسيه غواړي افغان حکومت څنډې ته کړي او دغه راز د افغانستان په کورنيو مسايلو کې هم لاسوهنې کوي. د افغان حکومت د تونده غبرګون او نيوکو له کبله روسيې يو ځل بيا د ۲۰۱۷ز کال په فبرورۍ کې د شپږو هېوادونو د استازو په شمول د افغان حکومت استازي هم راوغوښتل او پر افغان سولې يې ټينګار وکړ. له يادې ناستې داسې په ډاګه کېږي، چې روسيه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د موازنې ستراتېژۍ ته غېږ پرانېستې او هڅه کوي له دې لارې د شخړې په حل کولو کې خپل اغېز پراخ کړي[31]. له دې ناستې دوه مياشتې وروسته، روسيې د ۲۰۱۷ز کال د اپرېل په مياشت کې د افغانستان په تړاو د ۱۱ هېوادونو يوه بله ناسته هم چمتو کړه. د مسکو په دغه پروسه کې د ۱۱ هېوادونو ګډون (د منځنۍ اسيا هېوادونو، ايران، هندوستان او افغانستان) په ډاګه کوي، چې د مسکو له لوري له طالبانو سره د همکارۍ ستراتېژي ځانګړې اغېزه لري او د سيمه‌ييزو ملګرو له لوري په رسميت پېژندل شوې[32].

دغه راز، وروسته روسيې په مسکو کې د افغان سياسي ګروپونو ترمنځ د خبرو اترو زمينه هم برابره کړه، ترڅو د افغانستان امنيتي او سياسي وضعيت په اړه يوې ځانګړې اجماع ته سره ورسېږي. له دې غونډې د روسيې دوه اساسي موخې وې:

**لومړی** – دا چې امريکا او طالبان د خبرو په جريان کې دي او روسيه په مسکو کې افغان سياسي ګروپونه د خبرو لپاره راغواړي، داسې په ډاګه کوي، چې روسيه د امريکا له وتلو وروسته د افغانستان د وضعيت په اړه انديښنه لري او روسيه باوري ده، چې له طالبانو سره له خبرو پرته سوله ناشونې ده، نو ځکه روسيه په لومړي ګام کې طالبان په افغانستان کې د يو پياوړي سياسي لوبغاړي په توګه پېژني، ترڅو په راتلونکي کې په افغان سوله کې رغنده رول ولوبوي.

**دويم** – په چټکۍ سره له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل، هېواد ته خطر اړولی شي. نو سوله هغه مهال په افغانستان کې راتلای شي، کله چې د افغانستان د راتلونکي په تړاو واک په خپله د افغانانو په لاسونو کې وي. له دې لارې نه يوازې دا چې د افغانستان بلکې د ګاونډيو هېوادونو لپاره هم ثبات شونی دی؛ نو

[31]Samuel Ramani, Russia's falling out with Kabul, The Diplomat, June 06, 2019. Access date: 18/6/2019. Online access: *https://thediplomat.com/2019/06/russias-falling-out-with-kabul/*
[32]Shaikh Muhammad Bilal, Russia Elbowing the U.S. Out of the Afghan Political Process? June 29, 2018. Access date: 6/6/2019. Online access: *https://www.geopoliticalmonitor.com/russia-elbowing-the-u-s-out-of-the-afghan-political-process/*

روسان پر دې باوري دي، چې د افغانستان په اړه په روسیه کې د داسې مجلسونو جوړول یوازې او یوازې همدا موخه لري[33].

ځینې لیکوالان ادعا کوي، چې د افغانستان شخړې په حل کولو کې کېدای شي دا هم مرسته وکړي، چې امریکا دې په خپله ډیپلوماتیکه کړنلاره کې بدلون راولي. په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې په موخه د امریکا اوسنۍ هڅې د منځګړي په توګه تمرکز کوي. لیکوالان وړاندیز کوي، د سولې په موخه ګټوره کړنلاره به دا وي، چې امریکا دې د افغانستان د سولې په مسله کې شپږ ګاونډیان او نور سیمه‌ییز لوبغاړي لکه روسیه، هند، اروپایي اتحادیه شکېل کړي، ترڅو د هېواد په راتلونکي کې رول ولري[34].

د روسیې حکومت د افغان سولې په موخه ګام په ګام خپله ډیپلوماتیکه ښکېلتیا پر مخ وړي، ترڅو پر طالبانو د خپل زیاتېدونکی نفوذ او له تماسونو په ګټې اخیستنې سره د سولې پروسه مخ ته یوسي[35]. په بل اړخ کې مسکو ته د طالبانو د تګ او ګډون هدف هم یوازې دا نه وو، چې د سولې په خبرو کې دې ګډون وکړي، بلکې دا هم و، څو واشنګټن ته په ډاګه کړي، چې که امریکا د سولې خبرو ته چمتو نه وي، نو طالبان نور غوراوي هم لري، چې هغه روسیه ده، ترڅو له دې لارې سیاسي او پوځي ملاتړ ترلاسه کړي[36].

## پایله

روسان تر ډېره بریده په افغانستان کې له روان وضعیت-په ځانګړي ډول ناامنۍ وېره لري. په افغانستان کې لوېدیځ او روسیه مشترکې ګټې لري، خو همکاري بیا د یو شمېر نورو سیمه‌ییزو مسایلو لکه اوکراین او سوریې له امله قرباني کېږي.

په دې وروستېو کې د مسکو او کابل په اړیکو کې اندېښنې په زیاتېدو دي. دا چې په دې وروستېو کې د سولې په پروسه کې روسیې د افغان حکومت د اپوزېسیون سیاسي ځېرې  ځان ته رانېږدې کړي او د سولې په

[33]Umair Jamal, Understanding Russia's Motivations in Hosting Inter-Afghan Talks, February 12, 2019. Access date: 9/6/2019. Online access: https://thediplomat.com/2019/02/understanding-russias-motivations-in-hosting-inter-afghan-talks/
[34]Richard N. Haass, Agonizing Over Afghanistan, Council on Foreign Relations, January 14, 2019. Access date: 16/6/2019. Online access: https://www.cfr.org/article/agonizing-over-afghanistan
[35]Ayaz Gul, Russia set to host Taliban, Afghan Politicians, VOA, 27 May 2019. Access 23 June 2019. Online access: https://www.voanews.com/world-news/europe/russia-set-host-taliban-afghan-politicians
[36]Arkady Dubnov, What game is Russia playing in Afghanistan? 14 Nov, 2018. Access date: 18/6/2019. Online access: https://www.aljazeera.com/indepth/opinion/game-russia-playing-afghanistan-181113160715311.html

پروسه کې یې د حکومت له استازو پرته طالبان ښکېل کړي دي، نو دا به په راتلونکي کې د کابل او مسکو اړیکې نورې هم سړې کړي.

له همدې ځایه په هغه کچه چې د ولسمشر غني په دوره کې له سعودي عربستان، چین او د سیمې له یو شمېر نورو هېوادونو سره اړیکې پراخې شوې، د سیمې له ستر قدرت روسیې سره هومره پراخې نه شوې، په ځانګړي ډول کله چې په دې وروستېو کې روسیې په خپله مشرتابه او کوربه توب د افغان سولې په موخه په مسکو کې یو شمېر سیمه‌ییز کنفرانسونه راوبلل، چې تر ډېره بریده د افغان دولت په ناخوښۍ تمام شول.

## پایله

په لنډه توګه، د لاجوردو لاره نه یوازې دا چې په خپله یوه مهمه پروژه ده، بلکې له یو شمېر نورو سیمه‌ییزو پروژو سره هم همغږې ده. دغه راز دغه پروژه ډېر ظرفیت لري، چې د غړو هېوادونو د سیاسي اقتصادي ګټو اړتیاوې پوره کړي.

افغانستان، ترکمنستان او آذربایجان، چې وچې پورې تړلي هېوادونه دي، د دې لارې له کبله به د لاجوردو لارې د غړو هېوادونو ترمنځ ادغام او همکاري زیاته شي، او د دې لارې د بشپړې فعالېدو له کبله به سیمه خپل وروستي اقتصادي توان ته ورسېږي. له همدې ځایه ده، چې یو ځل د لاجوردو لارې په حوزه کې اړینې زیربناوې جوړې شي او پروسیجرونه اسانه شي، نو دا به نه یوازې دا چې غړو هېوادونو بلکې په پراخه توګه اوراسیایي سیمې ته اقتصادي ګټې ورسوي.

# د ملي یووالي حکومت پرمهال؛ د اساسي قانون نقض

# (۲۰۱۴-۲۰۱۹)

**څېړنیار عبدالصبور مبارز[1]**

***لنډیز***

*[قانون او په ځانګړي ډول د اساسي قانون حاکمیت د ښې حکومتولی له اساسي عناصرو څخه ګڼل کېږي؛ د قانون د حاکمیت ضد د قانون نقض دی؛ هغه ټولنې چې هلته قانون حاکم نه وي، د پرمختګ څرک نشي لیدلی؛ زمونږ هېواد کې د ملي یووالي حکومت پر مهال د اساسي قانون ډېری مواد نقض شوي دي؛ د بېلګې په ډول: د ټاکنو په ځنډ سره ترسره کول، د اجرایه ریاست بست ایجادول، د قوانینو د توشیح پرمهال د قانون نه رعایت، د سرپرستو وزیرانو د دندو ادامه، د مشرانو جرګې د انتصابي غړو د کار ادامه، د بیان او سفر د ازادۍ حق محدودل، د ولسوالی، ښاروالی او کلیو د مجالسو لپاره د ټاکنو نه ترسره کول، د عادي قوانینو په وضع سره د اساسي قانون د موادو نقض او داسې نور...*

*د اساسي قانون له دې نقض شویو مواد له لیکلو مو موخه داده چې راتلونکي حکومتونه دې برخې ته پام وکړي، د اساسي قانون له نقض څخه ډډه وکړي او د تطبیق په لارو چارو یې کار وکړي.]*

***کیلي: اساسي قانون؛ د قانون نقض؛ ښه حکومتولي؛ د قانون حاکمیت***

---

[1]څېړنیار عبدالصبور مبارز د ننګرهار له پوهنتون څخه په حقوقو کې ماستري کړې ده، شپږ کاله یې په ننګرهار ولایت کې د الفلاح پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس و. ښاغلی مبارز اوسمهال د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي کادر غړی دی او هلته د حقوقو او سیاسي علومو په برخه کې په څېړنه بوخت دی.

## سریزه

انسان یو ټولنیز موجود دی او له نورو انسانانو سره یوځای ژوند کوي، نو د طبیعت او د خپلو مادي او معنوي غوښتنو پر بنسټ مجبور دی، چې له نورو انسانانو سره اړیکې ولري. په عامو مصالحو کې له هغوی سره شریک وي او په خاصو مصالحو کې له هغوی سره راکړه، ورکړه ولري، ځکه هېڅوک نشي کولای چې د ژوند ټولې اړتیاوې په یوازې توګه پوره کړي.

 څرنګه چې ډېر خلک ځان غوښتونکي وي، د مصالحو په ترلاسه کولو او د مفاسدو په له منځه وړلو کې یې ګټې یو له بل سره په ټکر کې راځي. په دې صورت کې که د قضیې هر یو لوری (هر یو د متخاصمینو) وغواړي چې په مقابل لوري خپل نظر ومني او کوښښ وکړي چې باید د ده مصلحت په نظر کې ونیول شي، نو د دوی ترمنځ دښمني رامنځ ته کېږي چې بشري ټولنه له تباهۍ او له منځه تللو سره مخامخ کوي. له همدې کبله د تاریخ په اوږدو کې انساني ټولنې د خپلو اختلافاتو د حل لپاره قوانینو ته اړتیا لري. دا قوانین که متدین خلک یې د وحې څخه ترلاسه کوي او که نور یې د نورو مصادرو څخه لاس ته راوړي؛ ټول په دې باوري دي چې په ژوند کې د آرامتیا او سوکالۍ د احساس بهتره لار په دې قوانینو التزام او دې قوانینو ته احترام دی.

ډېر ځله د مصالحو او ګټو ټکر هغه وخت زیات رامنځ ته کېږي چې یو لوری په لاس کې قوت ولري او بل لوری ضعیفه او ناتوانه وي. د بېلګې په توګه یو لوري ته حکومت او بل لوري ته د ټولنې عام وګړي وي، حکومت توان لري، قوت په لاس کې لري، او د ټولنې نور وګړي ضعیف او ناتوانه وي. د دې مشکل د حل لپاره چې په ټولنه کې د هر چا بنسټیز حقوق مشخص وي، د حکومت نظام او سېستم ټاکلی وي، هر څوک خپل حدود او ثغور وپېژني نو د یوې داسې وثیقې ته اړتیا لیدل کېږي چې د ټولنې ټول وګړي پرې قانع وي او ټولو ته د منلو وړ وي. دې وثیقې ته اساسي قانون ویل کېږي، دا وثیقه بنسټیز نظام، بنسټیز حقوق او مسؤولیتونه ټاکي، د دې وثیقې یعنې اساسي قانون احترام اړین او ضروري دی.

## د موضوع ارزښت

د یو هېواد په اساسي قانون کې د دولت د سیاسي نظام جوړښت معرفي کېږي، د نړېوالو اسنادو د رعایت موضوع په کې واضحه کېږي، د اتباعو اساسي حقوق او وجایب په کې روښانه کېږي، د جمهور رئیس، پارلمان، ولایتي شورا او نورو ټاکنو طرز په کې په نښه کېږي، د قضاء د نظام شکل او بنسټونه په کې معرفي

کېږي، اداري سيستم په کې وضع کېږي او.... د پورتنیو ټولو موضوعاتو څخه داسې څرګندېږي چې اساسي قانون د یو هېواد تر ټولو مهمه وثیقه ده؛ او د پورتنیو موضوعاتو څخه خپله د اساسي قانون اهمیت څرګندېږي؛ اوس کې چیرې څوک پورتني موضوعات رعایت نه کړي، نو په ټولنه کې استقرار او ثبات منځ ته نشي راتللای، چې له همدې امله د اساسي قانون د نقض موضوع اهمیت لري.

## د موضوع موخه

د دې موضوع د لیکنې اساسي موخه دا ده چې د ملي یووالي د حکومت پر مهال د اساسي قانون نقض شوي مواد مشخص کړای شي، څو راتلونکي حکومتونه د اساسي قانون د تطبیق برخو ته پام وکړي؛ او د اساسي قانون هغه مواد چې په دې حکومت (د ملي یووالي حکومت) کې نقض شوي دي د هغې له بیا نقض څخه مخنیوی وکړي او په هېواد کې د قانون حاکمیت چې د ښې حکومتولۍ اساسي عنصر دی رامنځته کړي.

دا چې زموږ په ټولنه کې فساد په خپله وروستۍ مرحله کې شپې سبا کوي، ټولنه مو ثبات او استقرار نه لري، اصلي لامل يې د قانون د حاکمیت نشتوالی دی، نو د دې څېړنې یوه موخه دا ده چې دا واضحه کړو چې که چیرې قانون پلي شي، نو ټولنه مو ورسره د ښېرازۍ خوا ته ځي، او دا هله ممکن دي چې قانون تطبیق شي، او د قانون د تطبیق پېل د اساسي قانون له بشپړ تطبیق څخه کېږي؛ ځکه اساسي قانون د ټولو قوانینو مور او اصل بلل کېږي، د قانون جوړونکي ارګان بیا مقننه قوه ده، نو که چیرې د قانون جوړونکی ارګان د اساسي قانون په شمول ټول قوانین پلي کړي، نو په ټولنه کې د عامو خلکو لخوا قانون ته په زړه کې احترام پیدا کېږي او هغوی هم قانون پلي کوي، او کله چې په ټولنه کې قانون پلي شي، نو بیا ورسره فساد او ټولې بدبختۍ له منځه ځي.

## د موضوع د لیکلو کړنلاره

په یاده موضوع کې له کتابخانه‌يي او تحلیلي مېتود څخه استفاده شوې ده، یعنې لومړی د معتبرو کتابي مراجعو څخه په استفادې موضوع را ټوله شوې ده. کله چې په کتابي مراجعو کې د موضوع اړوند مواد نه دي موندل شوي، نو بیا مجلو او معتبرو انټرنېټي وېبپاڼو ته مراجعه شوې، په کوم ځای کې چې اړینه وه، د قران د ایتونو او احادیثو استخراج په کې شوی دی او د هر ایت او حدیث حواله ورکړل شوې ده، مأخذ د لمن‌لیک په

مېتود ليکل شوی دی. په پای کې له موضوع څخه لاسته راغلې پايله ليکل شوې ده او په همدې مېتود تر اخيره تګ شوی او موضوع تکميل شوې ده.

## د قانون پېژندنه

د قانون واکمني د ښه حکومتولۍ د اساسي عناصرو له جملې څخه ګڼل کېږي، د ملګرو ملتونو د ۱۹۹۷ز کال د نشر شويو اسناد پر بنا د ښې حکومتولۍ لپاره ۹ اساسي عنصرونه په نښه کړي دي چې د هغې له جملې څخه يو هم د قانون واکمني ده.[2]

نړېوال بانک هم د ښې حکومتولۍ لپاره څلور عناصر په نښه کړي دي چې د هغې له جملې څخه يو هم د قانون واکمني ده؛ د ياد بانک په راپور کې راغلي؛ که چيرې په يو هېواد کې قانون واکمن شي نو د ښې حکومتولۍ تر ټول مهم او اساسي عنصر منځته راغلی او دا حکومت له پرمختګ څخه هېڅوک نشي راستنولی.[3]

له پورتني لنډ بحث څخه معلومېږي چې د قانون واکمني د يو هېواد د بهبود او پرمختګ لپاره اړين ګام دی چې بايد د افغانستان اوسنی حکومت يا راتلونکي حکومتونه يې پورته کړي؛ په دې ليکنه کې مونږ څکه د اساسي قانون نقض شوي برخې بيانوو، څو حکومت ورته متوجه او په راتلونکي کې يې د نقض کېدو مخنيوی وکړي او په هېواد کې قانون واکمن کړي.

## د ملي يووالي حکومت پرمهال د اساسي قانون نقض شوي مواد

اساسي قانون د (Constitution) ژباړه ده، او د (Constitution) دقيقې معناوې عبارت دي له: (نظامنامه)، (اساس)، (بنياد)، (بنسټ)، (ساختمان)، (تشکيل) او (تاسيس) څخه. په اصطلاح کې اساسي قانون هغه عامه مقرره ده، چې د يوې ټولنې د لاربښودو قوانينو په رأس کې قرار لري او موخه يې د دولت د عمومي امورو

---

[2] United Nations Development Programme (UNDP) (1997). Governance for sustainable human development, UNDP policy document, New York. Link Below: http://www.sciepub.com/reference/188032

[3] http://documents.worldbank.org/curated/en/604951468739447676/Governance-and-development, for PDF link below:http://documents.worldbank.org/curated/en/604951468739447676/pdf/multi-page.pdf

تنظیم او د هغو متشکله ارکان او بلاخره د ازادیو د حقوقو تثبیت، مکلفیتونه او د خلکو وجایب دي چې په کُلي او عمومي اصل په بڼه لیکل شوي وي.[4]

جرمني فیلسوف والټر[5] وايي: اساسي قانون په دې موخه جوړېږي چې نقض شي؛ ځکه اساسي قانون د اتباعو قانون نه دی؛ بلکې د دولت قانون دی، کله چې عادي قانون نقض کېږي؛ نو دولت افراد له ګرېوانه رانیسي او خپل د قدرت څخه په استفاده پرې قانون پلي کوي او جزا ورکوي؛ خو کله چې اساسي قانون نقض شي، نو په اتباعو کې دومره قوت نه وي چې دولت له ګرېوانه راونیسي او ورته ووايي چې ولې دې قانون نقض کړی دی؛ نو ځکه دولت تل د اساسي قانون لومړی نقض کوونکی ارګان دی.داکتر علامه[6] وايي: ځینې وخت په شوخۍ کې دا وایو چې اساسي قانون درې دښمنان لري چې لومړی یې اجرایه قوه، دویم یې مقننه قوه او درېیم یې قضایه قوه ده؛ د همدې قواوو لخوا اکثریت وخت اساسي قانون نقض کېږي.مونږ هم د پورتني قول په اساس لومړې د اجرایې قوې لخوا، بیا د مقننې قوې لخوا او بیا د قضایه قوې لخوا د اساسي قانون نقض شوي موادو باندې بحث کوو:

## د اجرائیه قوې لخوا د اساسي قانون نقض

اجرایه قوه له جمهور رئیس، وزیرانو، خپلواک کمېسیونونو (اساسي قانون د څارنې خپلواک کمېسیون، بشر حقوقو خپلواک کمېسیون، ټاکنو خپلواک کمېسیون، د ټاکنو د شکایتونو کمېسیون، او د اداري اصلاحاتو ملکي خدمتونو کمېسیون) او ۱۰ خپلواک ریاستونو (افغانستان بانک، ملي امنیت، لویې څارنوالي، علومو اکاډمي او...) څخه تشکیل شوی دی.[7]

د ملي یووالي حکومت په واسطه د اساسي قانون مهم ترین نقض شوي مواد په لاندې ډول دي:

---

[4] ستانکزی، نصر الله، (۱۳۹۲ هـ ش)، د حقوقو مبادي، ژباړن: ګل رحمن رحماني، ګودر خپرندویه ټولنه، ص ۱۶۵

[5] د والټر پوره نوم؛ (Walter Benjamin) دی، په ۱۸۹۲ز کال د جولای په ۱۵ نېټه په برلین کې زېږېدلی دی، د شلمې پېړۍ نوموتی فیلسوف دی، چې د جرمني ایډیالیزم، د لویدیځ مارکسیزم او رومانتسیزم په برخه کې ډېر کار کړی دی، په ۱۹۴۰ز کال د سپټمبر په ۲۶ مه نېټه په هسپانیه کې د ۴۸ کالو په عمر وفات شوی دی. https://en.wikipedia.org/wiki/Walter_Benjamin

[6] ډاکتر علامه په کابل کې د ابن سینا خصوصي پوهنتون استاد دی.

[7] کاوون کاکړ، توماس کریمر او همایون رؤوفي، (۱۳۹۶ هـ ش)، تکامل قوهْ اجرائیه در افغانستان، نهاد واحد تحقیق و ارزیابي افغانستان، کابل، ص ٦. د پي ډي ایف د ترلاسه کولو لېنک:
https://areu.org.af/wp-content/uploads/2018/02/1721D-AREU__Executive-Review-in-Afghanistan_-Dari.pdf

## د اجرایه ریاست بست ایجادول

د اساسي قانون په اساس په افغانستان کې ریاستي رژیم پلي کېږي؛ او په ریاستي رژیم کې د هېواد جمهور رئیس تر ټول ستر واک لرونکی شخص ګڼل کېږي؛ د جمهور رئیس ترڅنګ د هغه کابینه قرار لري چې د اساسي قانون د ۷۱ مې مادې مطابق د جمهور رئیس تر مشرۍ او ریاست لاندې کار کوي؛ د اساسي قانون د ٦٠ مې مادې[8] مطابق جمهور رئیس د درې ګونو قواوو په سر کې قرار لري او درې واړه قواوې ورپورې تړلې دي. له دې علاوه که چېرې د جمهور رئیس او د حکومت د فصلونو ټولې مادې مطالعه کړو، نو په هېڅ ځای کې به د اجرایه ریاست د بست یادونه ونه ګورو؛ چې له دې ښکاره معلومېږي چې د اجرایه ریاست بست د اساسي قانون په خلاف رامنځته شوی دی؛ او ولسمشر غني هم په همدې باوري دی؛ ځکه خو یې هغه مهال ویلي وو چې لومړنی کار به یې د لویې جرګې راغوښتل وي، څو اساسي قانون تعدیل او د اجرایه ریاست بست په کې ځای پر ځای کړي.

د اجرایه ریاست بست د جمهور رئیس محمد اشرف غني د ۳۵م  فرمان په اساس ایجاد شوی دی.


فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د جمهور رئیس فرمان[9]

[8] د اساسي قانون ٦٠ یمه ماده: (جمهور رئیس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه په اجرائیه، مقننه او قضایه برخو کې د دې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.)

[9] https://etilaatroz.com/17936/%D9%81%D8%B1%D9%85%D8%A7%D9%86-%D8%B1%DB%8C%DB%8C%D8%B3-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1-%D8%AF%D8%B1-

په دې فرمان کې د اجرائیه ریاست د بست په ایجادولو کې د اساسي قانون پنځمه، پنځوسمه، شپېتمه، څلور شپېتمه، یو اویایمه، اووه اویایمه او یو سلو دوه څلوېښتمه ماده؛ د مبنی په توګه ذکر شوي دي، چې موږ یادې مادې دلته لنډې تحلیلوو.

د اساسي قانون پنځمه ماده: «ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو تطبیق، له آزادۍ، ملي واکمنۍ او ځمکني بشپړتیا څخه دفاع او د هېواد د امنیت او دفاعي قابلیت تأمین، د دولت له اساسي وظایفو څخه دي.»[10]

که چېرې د اساسي قانون پورتنۍ مادې ته وګورو، نو خپله په دې فرمان کې یاده ماده نقض شوې ده، ځکه پورتنۍ ماده وایي چې دا د دولت دنده ده چې دا قانون (اساسي قانون) او نور قوانین پلي کړي، ولې دلته خپله دا فرمان اساسي قانون نقض کوي ځکه د اجرائیه ریاست بست په اساسي قانون کې هېڅ وجود نلري. او که چېرې ولسمشر د دې مادې د ملي واکمنۍ په کلمه ټینګار کوي چې په دې موخه یې اجرائیه ریاست بست ایجاد کړ چې ملي واکمني تأمین شي، نو په دې ماده کې له ملي واکمنۍ څخه هدف دا نه ده چې حکومت په دوو کسانو ووېشل شي، څو ملي واکمني رامنځ ته شي. دلته خو ملي واکمنۍ لا صدمه لیدلې ده.

د اساسي قانون د پنځوسمې مادې لومړۍ فقره: «دولت مکلف دی چې د یوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سېستم کې د سمون د رامنځته کېدو لپاره، لازم تدبیرونه ونیسي.»[11]

په دې ماده استناد کول درست دي؛ خو یوې موضوع ته باید اشاره وکړو چې کله هم حقوق پوهان دا ماده تحلیلوي، نو له دې مادې اساسي موخه دا ده چې د هېواد ولسمشر چې کله د خپل کار په جریان کې وګوري چې په اداراتو کې سمون راشي؛ نو بیا یو تصمیم نیسي، لکه دا اوس یې چې ترافیک؛ فواید عامې وزارت پورې وتړل او یا نورې اداري هم مدغمې کړې، ولې له دې مادې څخه باید داسې استفاده ونشي چې د ولسمشر خوښه نه وي؛ خو یو بهرنی قوت یې په زوره پرې یو بل شریکوال ومني او بیا په دې ماده استناد وکړي.

---

%D9%85%D9%88%D8%B1%D8%AF-%D8%A7%DB%8C%D8%AC%D8%A7%D8%AF-%D8%B4%D9%88%D8%B1%D8%A7%DB%8C-%D9%88%D8%B2/

[10] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش). پنځمه ماده.

[11] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش). پنځوسمه ماده، لمړۍ فقره.

د اساسي قانون د شپږتمې مادې لمړۍ فقره: «جمهور رئيس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه په اجرائيه، مقننه او قضائيه برخو کې د دې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.»[12]

پر دې مادې هم استناد درست نه دی، ځکه د حقوق پوهانو د تحليل په اساس د اجرائيه برخه کې د واک له تطبيق څخه مراد دا دی چې ولسمشر د وزيرانو د تقرر او هغه ولسي جرګې ته د معرفي کولو صلاحيت لري؛ همدارنګه هغوی کولای شي چې عزل يې کړي. البته که چېرې دا هم ومنو چې د اجرائيه بست هم ايجادولای شي، نو بيا خو دا واک د جمهور رئيس دی؛ نه د يو کانديد! غني خو هغه مهال يوازې کانديد و چې د اجرايه رياست بست يې د يوې موافقې په اساس ومانه.

د اساسي قانون په ٦۴ ماده کې د ولسمشر واکونه ذکر شوي دي چې په يادو واکونو کې ولسمشر سره د دې واک نشته چې د اجرائيه رياست بست دې ايجاد کړي.[13]

يو اويايمه (۷۱) [14] او اووه اويايمه ماده (۷۷) [15]، نه پوهېږم چې ولې يې پرې استناد کړی ځکه په يادو مادو کې راغلي چې حکومت له وزيرانو جوړ دی او وزيران ولسمشر ته مسؤليت لري.

د اساسي قانون يو سلو دوه څلوېښتمه (۱۴۲) ماده: «دولت ددې اساسي قانون د حکمونو د تعميل او د مندرجو ارزښتونو د تأمين لپاره لازمې اداري جوړوي.»[16]

پورتنۍ ماده خو بېرته په ځان عريضه ده، ځکه که اجرائيه رياست بست يې د اساسي قانون د حکمونو د تعميل لپاره ايجاد کړی وي، نو هغه ماده بيا وښاياست چې دا بست يې پر اساس ايجاد شوی وي، او که چېرې داسې کومه ماده وجود نلري، نو بيا خو خپله همدا ماده هم نقض شوې ده.

---

[12] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش). شپږتمه ماده، لمړۍ فقره.

[13] د زياتو معلوماتو لپاره د اساسي قانون ٦۴ ماده وګورئ.

14 71 ماده: ((حکومت له وزيرانو څخه جوړ دی چې د جمهور رئيس تر رياست لاندې کار کوي. د وزيرانو شمير او وظايف د قانون له ليارې تنظيمېږي.))

[15] ۷۷ ماده: ((وزيران خپل وظايف د اداري واحدونو د آمرينو په توګه په هغو حدودو کې چې دا اساسي قانون او نور قوانين يې ټاکي، سرته رسوي. وزيران له خپلو ټاکلو وظيفو څخه د جمهور رئيس او ولسي جرګې په وړاندې مسئوليت لري.))

[16] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش). ۱۴۲ ماده.

## د ټاکنو پر وخت نه ترسره کول

اساسي قانون د جمهوري ریاست[17] او پارلماني ټاکنو[18] موده مشخصه کړې ده؛ خو یاده موده نه رعایت کېږي او همدا لامل دی چې قانون ورسره نقض کېږي؛ تېرې ولسي جرګې تر درېیو کلونو پورې د اساسي قانون خلاف خپلو دندو ته ادامه ورکړې وه، او اساسي قانون یې نقض کړی وو؛ دا چې د داسې پارلمان چې غېر قانوني حیثیت ولري؛ پرېکړې به یې څنګه وي؟ پارلمان ورته ویلای شو او که نه؟ دا هغه پوښتنې دي چې دلته زمونږ له بحث سره تړاو نلري؛ خو باید حکومت ورته ځواب ووایي.

## د قوانینو له توشیح څخه ډډه کول

د اساسي قانون په اساس کله چې یو قانون د پارلمان لخوا تصویب شي؛ نو ولسمشر یې باید د پنځلسو ورځو دننه توشیح کړي؛ که چیرې پنځلس ورځې تېرې شي او جمهور رئیس هغه توشیح نه کړي، نو قانون خپله توشیح شوی او نافذ ګڼل کېږي[19]؛ خو متاسفانه جمهور رئیس په دې برخه کې اساسي قانون ماتوي؛ کله چې له کوم قانون سره مخالفت ولري؛ نو هغه نه توشیح کوي او نه یې ردوي؛ خو کله چې د اساسي قانون مطابق پر هغې پنځلس ورځې تېرې شي، وروسته له هغې یې هم تصویب ته نه پرېږدي؛ لکه: د ډیپلوماتانو د ګمارنې قانون او داسې نور....

### د تقنیني فرمان په اساس توشیح شوي قوانین په معلومه نېټه کې ملي شورى ته نه وړاندې کول

د اساسي قانون د ۷۹ مې مادې په اساس ولسمشر باید تقنیني فرمان د ملي شورى د لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته په یوه میاشت کې ملي شورى ته د تصویب په موخه وړاندې کړي؛ یاده ماده وایي: «تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشیح وروسته د قانون حکم پیدا کوي، تقنیني فرمانونه باید د ملي شورى د

---

17 اساسي قانون ٦١ مه ماده.

18 اساسي قانون ۸۳ یمه ماده : (د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه، د ټاکنو د پایلو د اعلان څخه وروسته پای ته رسېږي او نوې شورى په کار پیل کوي.)

19 د اساسي قانون ۹۴ یمه ماده: (که جمهور رئیس د ملي شورى له مصوبې سره موافقه ونکړي کولای شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته یې په پنځلسو ورځو کې د دلایلو له ښوولو سره ملي شورى ته مسترده کړي. د دې وخت په تېرېدو او یا دا چې ولسي جرګه یو ځل بیا هغه د ټولو غړیو له درېیوو برخو څخه په دوو برخو (۲/۳) رایو تصویب کړي، مصوبه توشیح شوې ګڼل کېږي او نافذیږي.)

لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي او که د ملي شورى له خوا رد شي؛ اعتبار نه لري.»[20] ولې په تاسف سره باید وواېو چې ولسمشر په ډېرو قوانینو کې دا کار نه دی کړی؛ او په ښکاره ډول یې اساسي قانون نقض کړی دی، د بېلګې په ډول اوسنی د جزا کود او د ستندرد جوړونې قوانین چې د تقنیني فرمان په اساس نافذ شوي خو تر نن ورځې پورې ملي شورى ته نه دي وړاندې شوي.

## د ولسي جرګې لخوا د رد شويو وزيرانو بېرته په کار ګمارل

هغه وزیران چې د ولسي جرګې لخوا د استیضاح پر مهال ور څخه د اعتماد رایه اخیستل شوې وه؛ او یا هم د کابینې د معرفي پرمهال د ولسي جرګې لخوا رد شوي لکه: د بهرنیو چارو وزیر، د ملي امنیت رئیس، د مالیې وزیر، د کانونو او پترولیم وزارت وزیر، د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر او....[21] هغه له اړونده وزارت څخه لرې نه کړای شو؛ بلکې د سرپرست په توګه یې تر دوو ـ درېیو کلونو یا هم تر نن ورځې پورې خپلې دندې ته ادامه ورکړې ده، چې دا په ښکاره ډول د اساسي قانون ماتول دي.[22]

د ۱۳۸۸ هـ ش کال د وزارتونو او دولتي ادارو د سرپرستۍ د تنظیم قانون په اساس د سرپرستۍ موده یو میاشت ټاکل شوې وه؛ چې جمهور رئیس اشرف غني په ۱۳۹۳ هـ ش کال کې همدې ته ورته یو قانون لاسلیک کړ چې په اساس یې د سرپرستۍ موده دوه میاشتو ته اوږده شوه.

## د مشرانو جرګې د انتصابي غړو د کار ادامه

د اساسي قانون د ۸۴ مې مادې د درېیمې فقرې په اساس د مشرانو جرګې درېیمه برخه غړي د جمهور رئیس لخوا د پنځو کالونو لپاره د هېواد د خبیرو او تجربه لرونکو کسانو له منځه انتصابېږي؛ خو کله یې چې پنځه کلونه پوره شي د هغې پر ځای بل شخص د جمهور رئیس لخوا انتصابېږي؛ ولې د ملي یووالي حکومت پرمهال

---

[20] اساسي قانون ۷۹ یمه ماده.

[21]http://prod.tolonews.com/fa/afghanistan/%D8%A7%D8%A8%D8%B1%D8%A7%D9%87%DB%8C%D9%85%DB%8C-%D9%88%D8%B2%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%B3%D8%B1%D9%BE%D8%B1%D8%B3%D8%AA-%D8%A7%D8%B2-%D9%81%D8%B1%D8%AF%D8%A7-%D9%85%D8%B4%D8%B1%D9%88%D8%B9%DB%8C%D8%AA-%D9%86%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D9%86%D8%AF

[22] د اساسي قانون ۹۲ یمه ماده: ( ولسي جرګه د ټولو غړیو د شلو فیصدو په پشنهاد کولای شي چې له هر یوه وزیر څخه استیضاح وکړي، که وړاندې شوي توضېح د قناعت وړ نه وي؛ ولسي جرګه د نه باور د رایې موضوع څېړي.)

د مشرانو جرګې انتصابي غړو هم خپلو کارونو ته تر اتو کلونو پورې ادامه ورکړه؛ که چېرې ووایو چې د ولسي جرګې ټاکنې ستونزمنې وې څکه وځنډېدې او قانون نقض شو؛ ولې د انتصاب لپاره خو یوازې د جمهور رئیس فرمان صادرېږي، په دې برخه کې جمهور رئیس ولې اساسي قانون نقض کړی دی؛ په دې وروستېو کې یې یوازې درې – څلور تنه د سیاسي موخو د ترلاسه کولو په موخه لرې کړل او نور یې معرفي کړل خو پاتې کسانو تر اوسه خپلو دندو ته ادامه ورکړې ده.

## د ملي، علمي او اداري مصطلحاتو نه ساتل

د اساسي قانون د شپاړسمې مادې د پنځمې فقرې «...په هېواد کې موجود ملي، علمي او اداري مصطلحات ساتل کیږي.»[23] په اساس باید په هېواد کې موجود ملي، علمي او اداري مصطلحات وساتل شي. د بېلګې په توګه پوهنتون او اړوندې علمي رتبې یې (پوهیالی، پوهنیار...)، څارنوالي او اړونده رتبې یې (څارنوال، څارنپوه...)، د پوځ اړونده رتبې (بریدمل، ډګروال...) او داسې نور.... ولې متأسفانه د ملي یووالي حکومت پرمهال مو ډېر مکتوبونه ولیدل چې بعضې اصطلاحات په کې بدل شوي دي.

## د بیان د ازادۍ نقضول

د اساسي قانون د څلور دېرشمې مادې په اساس د بیان ازادي له تیري څخه خوندي ده. هر افغان حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم مطالب؛ بې له دې چې مخکې له مخکې یې دولتي مقامونو ته وښیي، خپاره او نشر کړي.[24]

د اساسي قانون پورتنۍ ماده د ملي یووالي حکومت پرمهال په کراتو کراتو نقض شوې ده، چې تازه بېلګه یې د ولسمشر اشرف غني د حقوقي مشاور عبدالستار سعادت لخوا د بیان د ازادۍ تر حق لاندې په ټولنیزه شبکه کې د یوې خاطرې لیکل و، چې له امله یې د ولسمشر اشرف غني له خوا ګوښه شو؛ او داسې له دې سره د اساسي قانون یاده ماده نقض شوه.

## د سفر د ازادۍ حق محدودول

[23] د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ ش). ۱٦ ماده، پنځمه فقره.

[24] د اساسي قانون څلور دېرشمه ماده.

د اساسي قانون د ۳۹ مې مادې په اساس هر افغان حق لري چې د هېواد هر گوټ ته سفر وکړي او استوگن شي.[25]

د ملي يووالي حکومت لخوا یاده ماده هم نقض شوې ده؛ چې بېلگه یې د کندهار لویې غونډې ته د عطا محمد نور پر سفر بندیز لگول و او د هغه طیاره یې پرېنښوده چې د کندهار په هوايي ډگر کې ښکته شي.

## د ولسوالۍ، کليوالي او ښاروالۍ ټاکنو نه ترسره کول

د اساسي قانون د ۱۴۰مې مادې په اساس د محلي ادارې د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعاله ونډې اخيستو د تأمين په مقصد، په ولسواليو او کليو کې د قانون له حکمونو سره سم جرگې جوړېږي چې د خلکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د سیمې د اوسیدونکو له خوا د درېیو کلونو لپاره ټاکل کېږي.[26] خو متاسفانه تر اوسه د ملي یووالي حکومت په دې نه دی توانېدلی چې یادې ټاکنې ترسره کړي.

همدارنگه د اساسي قانون د ۱۴۱مې مادې په اساس د ښاري چارو د ادارې لپاره ښاروالي تشکیلېږي، چې ښاروال او د ښاري مجلسونو غړي د ازادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له لارې ټاکل کېږي.[27] خو متاسفانه تر اوسه د ښاروالۍ ټاکنې هم نه دي ترسره شوي.

## د مقننه قوې لخوا د اساسي قانون نقض

مقننه قوه یا ملي شورى د ستر تقنيني ارگان په توگه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندویه ده او د ټول ملت نمایندگي کوي.[28] له دوو مجلسونو: ولسي جرگې او مشرانو جرگې څخه جوړ ده.[29] چې د لاندې درېیو اساسي دندو لرونکې ده:

لومړی: قانون جوړونه

---

[25] د اساسي قانون نه دېرشمه ماده.

[26] د اساسي قانون یو سل او څلوېښتمه ماده.

[27] د اساسي قانون یو سلو یو څلوېښتمه ماده.

[28] د اساسي قانون ۸۱ يمه ماده.

[29] د اساسي قانون ۸۲ يمه ماده.

دویم: د حکومت پر اعمالو نظارت

دریېم: د خلکو استازولي[30]

د اساسي قانون هغه مهم مواد چې د مقننې قوې لخوا نقض شوي په لاندې ډول دي:

## د ټاکنو په چارو کې مداخله

د اساسي قانون په اساس د ټاکنو خپلواک کمېسیون یو خپلواک ارګان دی چې هېڅ قوه نشي کولای په هغې کې مداخله او لاسوهنه وکړي؛ خو د تېرې ولسي جرګې د ټاکنو پر مهال مونږ ولیدل چې د ولسي جرګې اکثریت وکیلان په شکل د اشکالو د کمېسیون په چارو کې او ټاکنو کې مداخله وکړه او له دې لارې یې اساسي قانون نقض کړ.

## د عادي قوانینو په وضع کولو سره د اساسي قانون نقض

د مقننه قوې یو تر ټولو مهمه دنده دا ده چې قوانین تصویب کړي؛ خو بعضې وخت مقننه قوې داسې عادي قوانین تصویب کړي دي چې هغه له اساسي قانون سره په ټکر کې دي؛ چې مقننه قوې له دې لارې هم اساسي قانون نقض کړی دی؛ بېلګې یې په لاندې ډول دي:

### لومړی؛ د جزا کود

د جزا کود چې په ۱۳۹۵هـ ش کال د حوت په ۱۲مه نېټه د کابینې لخوا تصویب او ولسمشر اشرف غني لخوا د تقنیني فرمان په توګه توشیح او د ۱۳۹٦هـ ش کال د ثور په ۲۵مه نېټه په رسمي جریده کې نشر شو، چې ټولې ۹۱٦ مادې لري؛ یاد کود د اساسي قانون د ۷۹مې مادې سره په ټکر کې ده؛ یاده ماده وایي: «تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشیح وروسته د قانون حکم پېدا کوي، تقنیني فرمانونه باید د ملي شورى د

---

[30] مبادی حقوق اساسی افغانستان، (۲۰۰۷م)، پروژه تعلیمات حقوقی افغانستان (ALEP)، د ستنفورد پوهنتون د حقوقو پوهنځی، ص ۱۴٦، د پي ډي ایف د ترلاسه کولو لینک: https://www-cdn.law.stanford.edu/wp-content/uploads/2016/03/ALEP-Constitutional-Law-1st-Ed_Dari.pdf

لومړۍ غونډې تر جوړېدو وروسته د دېرشو ورځو په اوږدو کې هغې ته وړاندې شي او که د ملي شورى له خوا رد شي؛ اعتبار نه لري.»[31]

**دویم؛ د معاشاتو قانون**

ډاکتر رمضان بشر دوست[32] وايي: «د افغانستان د معاشاتو قانون د اساسي قانون د شپږمې مادې (چې په اساس يې دولت دنده لري ترڅو ټولنيز عدالت قايم کړي) او دوه ويشتمې مادې (چې په اساس يې د افغانستان د اتباعو ترمنځ امتياز منع دى) سره په ټکر کې دي». دى زياتوي: «د ياد قانون په اساس د اجرائيه رئيس معاش (۲۷٦۳۵۰ افغانۍ) د مرستيالانو يې (۲۱۱۲۵۰ افغانۍ) دى؛ همدارنګه د ولسي جرګې د غړو معاش (۲۴۰۰۰۰ افغانۍ) دى؛ او په مقابل کې يې د مامورينو معاش شپږ يا اووه زره افغانۍ دي؛ چې دا خپله د ټولنيز عدالت او د قانون پر وړاندې د اتباعو د مساوي والي او نه امتياز والي سره په ټکر کې دى.»[33]

**درېيم؛ د ټاکنو قانون**

د ټاکنو قانون ځينې مواد هم له اساسي قانون سره په ټکر کې دي. د بېلګې په توګه «د ټاکنو قانون د اته دېرشمې مادې» په اساس هغه څوک ولسمشرۍ ته نوماند کېدلاى شي چې مسلمان وي؛ ولې د اساسي قانون دري دېرشمه ماده بيا وايي چې هر افغان (ښځه، نارينه، مسلمان، هندو) د انتخابېدو او انتخابولو حق لري، چې دلته د ټاکنو قانون اته دېرشمه ماده د اساسي قانون د درې دېرشمې مادې سره په ټکر کې ده.

همدارنګه د ټاکنو قانون په اته دېرشمه ماده کې د ولسمشرۍ لپاره او په نه دېرشمه ماده کې د ملي شورى د غړو لپاره تعليم شرط نه دى اېښودل شوى؛ خو بيا په څلوېښتمه ماده کې د ولايتي شورى او ولسوالۍ شورا لپاره تعليم شرط شوى دى؛ چې دا مادې د اساسي قانون د دوه ويشتمې مادې چې په هغې کې د قانون پر وړاندې د اتباعو مساوي والى راغلى په ټکر کې ده.

---

[31] د اساسي قانون ۷۹ يمه ماده.

[32] ډاکتر رمضان بشر دوست د کابل ولايت څخه د ولسي جرګې منتخب غړى دى.

[33] على اقا مزيدى و نوروز رجا (۱۳۹۵هـ ش)، نقض قانون اساسى در ۱۳ سال، خانه ازادي افغانستان، ص ٥٦

## د قضايه قوې لخوا د اساسي قانون نقض

د سترې محکمې يو تر ټولو مهمه دنده دا ده چې جنايي عدالت تامين کړي، جنايي عدالت دوه مفهومه لري؛ يو دا چې هېڅ بې ګناه شخص مجازات نشي او هېڅ مجرم بې مجازاتو پاتې نشي.[34] د افغانستان اساسي قانون هم اووم فصل چې د قضاء په اړه دی؛ همدې برخې ته اشاره کوي او د جنايي عدالت تامين د سترې محکمې دنده ګڼي؛ ولې متاسفانه د افغانستان قضايه قوه صريحاً اساسي قانون نقض کړی او د جنايي عدالت په تامين کې پاتې راغلې ده. ډېری موارد ګورو چې مجرمين نيول شوي دي خو بېرته له محاکمې خوشې شوي دي. د بېلګې په توګه د علي پور په قضيه کې ټولو خلکو ته معلومه وه چې هغه يو جنايتکار دی خو پرته له محاکمې خوشې شو او اوس په ټولنه کې ازاد ګرځي؛ همدرانګه قيصاري، چې د درنو تورونو باوجود، د تحقيق او محاکمې پرته بېرته خوشی شو.

لنډه دا چې د اساسي قانون ډېری برخې د ملي يووالي حکومت پر مهال نقض شوي او احکام يې مات شوي دي، د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کمېسيون په يو راپور کې چې د ۱۳۹۷ هـ ش کال د جدي په ۱۹مه نېټه د اساسي قانون د تصويب اوونۍ د لمانځلو پرمهال د ياد کمېسيون د مرستيال محمد عارف حافظ لخوا وړاندې شوو، راغلي وو: «په ټاکنو کې ځنډ، د ښاروالۍ، ولسوالۍ او کليوالي شورا د ټاکنو نه ترسره کول، د هېواد د اساسي او سياسي کرښو نه موجوديت، د دولتي ادارو او واحدونو د ادغام تقنيني فرمانونه، د يو لړ مهمو ادارو چلول د سرپرستانو لخوا او داسې نور... ډېر موارد وجود لري چې اساسي قانون د ملي يووالي حکومت لخوا نقض شوی دی.»[35]

همدارنګه د افغانستان د حقوق پوهانو د اتحاديې د راپور په اساس د ملي يووالي حکومت په لومړيو دريو کلونو کې د اساسي قانون څلوېښت مادې نقض شوي دي. د يادې اتحاديې مرستيال عبدالسبحان مصباح

[34] دانش، حفيظ الله، (۱۳۹٦ هـ ش)، جنايي بين المللي محکمې د اساسنامې تحليل، ننګرهار پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، ص ۱۰

[35] نظيفه محبوبي، (۱۳۹۷ هـ ش، د جدي ۱۹ نېټه) قانون اساسی در برخی موارد نقض شده است، بشپړ راپور په لاندې لينک ترلاسه کولای شئ: https://da.azadiradio.com/a/29699566.html

وايي: «سره له دې چې د ملي يووالي حکومت پرمهال د اساسي قانون څلوېښت مادې نقض شوي دي، بلکې ډېرى نور مواد يې له سره تطبيق شوي نه دي.»[36]

## پایله

د ملي يووالي حکومت پر مهال د افغانستان د اساسي قانون ډېرى مواد نقض شوي دي؛ دا چې ولې اساسي قانون په دومره اندازه نقض شوى دى؛ مهم دلايل يې دا دي: د اساسي قانون په اړه د تطبيق کوونکو اشخاصو عدم فهم، په اساسي قانون د عامو خلکو نه پوهېدل، په دولتي لوړ پوړو مامورينو کې له قانون څخه د برترۍ حس پيدا کېدل، د هېواد کړکېچنه اوضاع، د اساسي قانون په موادو کې مغلقتيا او خلاوې، د مقاماتو لخوا له واک څخه بده استفاده، د اساسي قانون د تطبيق لپاره د سياسي ارادې نشتون، له قانون څخه د تېښتې د فرهنګ موجوديت، قدرت طلبي، د مالي او اداري فساد شتون او داسې نور.... دا هغه دلايل دي چې له امله يې اساسي قانون نقض کېږي.

د دې څېړنې په پای کې سپارښتنه کوو چې راتلونکي حکومتونه دې اساسي قانون په دقيقه توګه مطالعه او له نقض کېدو څخه دې مخنيوى وکړي. همدارنګه پورتني دلايل چې د اساسي قانون د نقض د اصلي لامل په توګه مو ذکر کړي؛ هڅه دې وکړي چې ياد دلايل له منځه يوسي او په هېواد کې اساسي قانون په بشپړه توګه حاکم کړي.

---

[36] بشپړ راپور دلته کتلی شئ: https://8am.af/x8am/1396/10/16/forty-constitutional-articles-have-been-violated/

# ولې باید افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش تړون لاسلیک کړي؟

**حکمت الله ځلاند[1]**

*[دا مقاله له پاکستان سره د اوبو د وېش تړون پر اړتیا بحث کوي. د مقالې له مخې، په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه، پاکستان ته بهېدونکې اوبه او د پاکستان اندېښنې هغه څه دي، چې له پاکستان سره د اوبو د وېش د تړون د لاسلیکولو اړتیا ښیي.*

*د دې ترڅنګ په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوبو د وېش تړون په لاره کې شته خنډونه او فرصتونه په ښه کړي او دا چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د وېش تړون نه شتون به پر دواړو هېوادونو څه اغېزې وکړي ځواب یې ویل شوی دی.]*

پاکستان هم د افغانستان هغه ګاونډی دی، چې په سوېل ختیځ کې 2430 کیلومتره اوږده پوله او د کابل سیند په حوزه کې، د اوبو د وېش له کوم تړون پرته، ګډې اوبه لري. دا چې په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې د اوبو د کمښت ستونزه په پراخېدو ده، د ګډو اوبو د وېش قضیې اهمیت او له کبله یې راټوکېدونکې ستونزې هم زیاتې شوې دي.

## په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه

د کابل سیند حوزه د افغانستان په څېر پاکستان ته هم خورا زیات اهمیت لري؛ ځکه دغه هېواد له ډېر وخت راهیسې د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دی. د ملګرو ملتونو د نړیوالو اوبو د پراختیا د راپور له مخې، په پاکستان کې د اوبو سرچینې یوازې په پینځو کلونو کې نژدې نیمایي کمې شوې دي. د دغه راپور له مخې، دا

[1] حکمت الله ځلاند دستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز پخوانی څېړونکی، او د ملي یووالي حکومت پرمهال د سولې او جګړې په تړاو د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د راپور مخکښ څېړونکی دی. ښاغلی ځلاند اوسمهال په کاردان پوهنتون کې په نړیوالو اړیکو کې ماستري کوي.

کچه د هر کس لپاره په 2000ز کال کې 2961 متر مکعب څخه، په 2005ز کال کې 1420 متر مکعب ته راټیټه شوې ده.[2]

پاکستان د هغو هېوادونو په کتار کې هم دی، چې د کرنیزو موخو لپاره تر ځمکې لاندې اوبو څخه تر ټولو ډېره استفاده کوي. د یوې سروې له مخې، په پاکستان، نیپال او بنګلدېش کې د 75 سلنه سیمو د خړوبولو لپاره تر ځمکې لاندې اوبه کارول کېږي او له همدې کبله د یوې څېړنې له مخې، په پنجاب ایالت کې تر 2015ز کال پورې په 5 یا 6 کلونو کې د ځمکې لاندې اوبو کچه 5 تر 6 متره پورې ښکته تللې وه.[3] همدا راز د بلوچستان ایالت په ځینو برخو کې په تېره یوه لسیزه کې هر کال 2 تر 3 مترو پورې اوبه ښکته تللې دي او اصلي لامل یې هم په دغه هېواد کې د اوبو افراطي کارونه ده.[4]

## پاکستان ته بهېدونکې اوبه

دا چې په کابل سیند حوزه کې هم د اوبو د اندازه کولو فعال او د دواړو هېوادونو ترمنځ همغږي شوی سیستم او کره مواد نشته دي، پاکستان ته د بهېدونکو اوبو د کچې ارقام هم له یو بل سره توپیر لري. د ځینو تخمینونو له مخې، له افغانستان څخه پاکستان ته د اوبو جریان 21.5 کیلومتر مکعب دی او له دې جملې 15.5 کیلومتر مکعب یې له کابل سیند (په دې کې بیا 10 کیلومتر مکعب یې له پاکستان څخه سرچینه اخلي) او 6 کیلومتر مکعب یې هم د دغې حوزې له نورو شاخو لکه پنجشېر، ګومل، مارګو شمال او کرم سیندونو څخه دي.[5]

د پاکستان د اوبو او برېښنا د پراختیا اداري د معلوماتو له مخې، افغانستان د کابل سیند له لارې د پاکستان 16 تر 17 سلنه پورې اوبه برابروي.[6] خو د پاکستان له پولې سره څېرمه په ډکه سټېشن کې د دغه سیند د

---

[2] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Page 16-17.
[3] Saeed, Aamir, (June 10, 2015), Rapid groundwater depletion threatens Pakistan food security – officials, Reuters. available at: https://in.reuters.com/article/pakistan-water-food-idINKBN0OQ16920150610
[4] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Page 19.
[5] FOA, Afghanistan Water Recourses, available at: http://www.fao.org/nr/water/aquastat/countries_regions/Profile_segments/AFG-WR_eng.stm
[6] The Express Tribune. (June 22, 2011). Ministry suggests water treaty with Kabul to avoid dispute. Available at: https://tribune.com.pk/story/193655/ministry-suggests-water-treaty-with-kabul-to-avoid-dispute/

تخلییې اوسط کچه 608.4 متر مکعب په هره ثانیه کې ده. دغې کچې ته په کتلو سره کابل سیند د سند حوزې 19.2 کیلومتر مکعب یا 20 سلنه کلنۍ اوبه برابروي.[7]

دغه راز د پاکستاني څېړونکو موندنې ښيي، چې له کابل سیند سره د سوات او جېندې سیندونو له یو ځای کېدو وروسته په نوښېره سټېشن کې د پنځو کلونو په جریان کې ثبت شوي مواد ښيي، چې له جولای څخه تر اگسټ میاشتې پورې دغلته د اوبو جریان په هره ثانیه کې له 1000 متر مکعب څخه زیات دی.[8]

## د پاکستان اندېښنې

د کابل سیند حوزه په پراخه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا لري. په دې حوزه کې د 8 تر 10 پورې داسې بندونو جوړولو وړتیا شته، چې په لوړه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا ولري.[9] پاکستان اندېښنه لري، چې د کابل سیند پر حوزه پراختیایي او زېربنایي کارونه به د پاکستان په اړخ کې د دې حوزې پر اړوندو سیمو منفي اغېزې وښندي.[10] په ټوله کې خیبر پښتونخوا ایالت او په ځانګړې توګه د خیبر پښتونخوا ایالت درې سیمې (پېښور، نوښېره، چارسده) د کابل سیند د اوبو کمېدو له کبله اغېزمنېږي.[11]

پاکستانی لوری اټکل کوي چې پر کابل سیند د پلان شوو بندونو له جوړېدلو سره به، د دغې حوزې د لاندېنۍ سیمې په توګه پاکستان ته د ورتلونکو اوبو کچه 17 سلنه راټیټه شي او دا هغه څه دي، چې په طبیعي ډول په افغانستان کې د دغو پروژو د بشپړېدلو په تړاو د پاکستان اندېښنې له ځان سره لري. دا کمښت به داسې مهال وي، چې په تېرو څو لسیزو کې د اوبو د عمومي کچې د کمښت له کبله هم پاکستان ته د بهېدونکو اوبو کچه کال په کال کمه شوې ده او پاکستانی لوری اندېښمن دی، چې په افغانستان کې د اوبو د بندونو له جوړېدلو سره به په پاکستان کې تر کابل سیند لاندې سیمې د اوبو د کمښت له بحران سره

[7] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Page 16.
[8] Nafees Mohammad et al. Construction of Dams on Kabul River and its Socio-Economic Implicatoin for Khayber Pukhtunkhwa, Pakistan. ResearchGate. Feb 2016.
[9] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis. Page 19.
[10] Ahmadzai. S & F. Shroder. John. (2017), Water Security in Kabul River Basin, Journal of Afghanistan Water Studies, Duran Research & Analysis, Page 112.
[11] Nafees Mohammad et al. Construction of Dams on Kabul River and its Socio-Economic Implicatoin for Khayber Pukhtunkhwa, Pakistan. ResearchGate. Feb 2016.

مخ شي، کوم څه ته چې پاکستان چمتووالی نه لري. پاکستاني څېړونکي په دې اند دي، چې دا وضعیت به له کابل سره د اسلام اباد پر اړیکو ژورې اغېزې ولري.[12]

له لویه سره د اوبو کمښت او په ورته وخت کې د پاکستان په اړخ کې د اوبو افراطي کارېدنه یوه مهمه اندېښنه ده. په دې حوزه کې د اقلیمي بدلونونو او د هوا د ګرمېدو له کبله د واورو او یخچالونو کچه کمېږي، چې له کبله یې د واورې ورښت په بارانونو بدلېږي او ډېرې اوبه په هغو وختونو کې بهېږي، چې اړتیا یې کمه وي. څېړنې ښیي، چې په تېرو 50 کلونو کې د پامیر او هندوکش غرونو کې د طبیعي یخچالونو کچه 30 سلنه کمه شوې ده.[13]

په افغانستان کې له جګړو او بې‌ثباتیو وړاندې د کابل سیند پر حوزه 7 بندونه جوړ شوي او د 12 بندونو جوړول په پلان کې دي، چې پر دوو یې عملاً کار روان دی. دا بندونه به په ټولیز ډول 1891 مېګاواټه برېښنا تولید کړای شي.[14] په پاکستان کې بیا دوه بندونه (ورسک او ګولن)[15] د همدې حوزې پر اوبو جوړ شوي دي. پاکستان په 2014ز کال کې په خیبر پښتونخوا سیمه کې د داسو بند طرحه هم نړیوال بانک ته د تمویل په موخه ورکړې وه، چې د نړیوال بانک لهخوا له افغان دولت سره له شریکولو وروسته د افغانستان له مخالفت سره مخ شوه.

دا چې افغانستان د اوږدو جګړو او بې‌ثباتیو له کبله د اوبو په ګډون د ډېرو سکتورونو د پراختیا او پرمختیا فرصت نه دی موندلی، اوس‌مهال کله چې په دې برخه کې ګام پورته کېږي، د اوبو د حوزې د لاندینیو هېوادونو اندېښنې راپاروي او هغوی د تېر په څېر د ورتلونکو اوبو تمه لري. افغانستان د خپلو نورو ګاونډیانو په پرتله لږ پرمختللی هېواد دی او د اوبو په برخه کې انکشافي کارونو ته جدي اړتیا لري. له بلې خوا دا باور چې هر هېواد کړلی شي، په تېر کې د ترلاسه کړو اوبو تمه په راتلونکي کې هم ولري، په نړیوالو قوانینو کې رد شوی دی. په دې تړاو د 1992ز او 1997ز کلونو کنوانسیونونه حل‌لارې وړاندې کوي، لکه له ګډو اوبو منصفانه او معقوله ګټه اخیستنه او داسې نور. د دې ترڅنګ، دا چې د کابل سیند په حوزه کې پراختیایي کارونه تر

---

[12] Pervaz, Iffat & Sheharyar Khan. Brewing Conflict over Kabul River; Policy Options for Legal Framework. Institute for Strategic Studies, Research and Analysis (ISSRA). 2014.
[13] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Page 22.
[14] Ibid. Pages 20-21.
[15] ورسک بند د پېښور ښار د شمال لوېدیځ په 20 کیلومترۍ کې جوړ شوی او ګولن بند بیا د خیبر پښتونخوا په چترال سیمه کې جوړ شوی، چې اوس یې هم کار روان دی.

ډېره د برېښنا د تولید لپاره دي او د څمکو خړوبولو وړتیا پکې کمه ده، پر لاندېنۍ برخه يې اغېزې هم کمې دي.

## د افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش مسئله

له بده مرغه افغانستان او پاکستان د کابل حوزې د اوبو په تړاو هېڅ ډول هوکړه یا کوم تړون نه لري. په دې تړاو یوازېنی هوکړه‌لیک په 1921ز کال کې د افغانستان او برېتانیا ترمنځ دی، چې اوبو ته ډېره کمه اشاره پکې شوې ده. په دې معاهده کې برېتانیا هوکړه کړې، چې افغانستان کولی شي د تورخم د اوسېدونکو لپاره د یوې لولې له لارې اوبه واخلي او په مقابل کې افغانستان هوکړه کړې، چې برېتانیايي مامورین او له ډیورنډ کرښې هاخوا قبایل کولی شي له کابل سیند څخه د کښتۍ چلولو او اوبو لګونې لپاره کار واخلي.[16]

له 2001ز کال راوروسته که څه هم افغانستان او پاکستان د اوبو په تړاو د تړون لاسلیک کولو هڅه کړې؛ خو تراوسه په دې کار بریالي شوي نه دي. په 2003ز کال کې د اوبو د وېش تړون لپاره د یوې 9 کسیزې ګډې تخنیکي کمېټې هڅې د بې‌باوریو او اوسني وضعیت په اړه دقیقو معلوماتو د نشتون له کبله له ماتې سره مخ شوې. په 2006ز کال کې نړیوال بانک هم یو ځل بیا د دواړو هېوادونو د هڅولو هڅه وکړه، خو پایله یې نه لرله. په 2013ز کال کې کله چې پخواني ولسمشر حامد کرزي او لومړي وزیر نواز شریف د برېښنا د تولید لپاره د کونړ سیند د پراختیا د هڅو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړ، تر یوه بریده په دې برخه کې پرمختګ ولیدل شو؛ خو د دغه توافق جزئیات هم پټ پاتې شول.[17]

## د اوبو په تړاو د خبرو اترو پر وړاندې خنډونه

د دواړو هېوادونو ترمنځ خرابې اړیکې او اوږدې بې‌باورۍ د اوبو په تړاو د همکاریو په لاره کې یو اساسي خنډ دی. دا بې‌باورۍ له څلورو مشخصو ډګرونو خړوبېږي (له هند سره د افغانستان اړیکې، د ډیورنډ قضیه، د پښتونستان قضیه، له طالبانو د ملاتړ قضیه).

[16] Ibid. Page 22.
[17] Tolo News. (9 June 2015). Abdullah Urges Regional Cooperation at High Level Water Conference. Available at: https://www.tolonews.com/afghanistan/abdullah-urges-regional-cooperation-high-level-water-conference

د اوبو نړیوال څېړونکي په دې اند دي، چې د اوبو په تړاو خبرو اترو او له ګاونډیو هېوادونو سره د یوه منصفانه تړون د لاسلیک کولو لپاره په اړوندو افغان ارګانونو کې وړتیا کمه ده، چې یو اساسي لامل یې د اوبو د قضیې او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسائلو په تړاو د تخنیکي پوهې کموالی دی. د دې ترڅنګ د یوې سروې له مخې، د افغانستان د اوبو په سکټور کې ډېری کسان د اړیکو پر بنسټ ګومارل شوي، نه د زده‌کړو او تجربو له مخې. که څه هم له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د قضیې لپاره د 2016ز کال په مې میاشت کې بین الوزارتي کمېسیون هم جوړ شو، خو تر اوسه یې هېڅ کومه رسمي غونډه نه ده لرلې. خو په بل اړخ کې پاکستان بیا د اوبو په سکټور کې د تخنیکي پوهانو او کدرونو له پلوه یو بډای هېواد دی.[18] پاکستان له هند سره په 1960ز کال کې د سند سترې حوزې د اوبو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړی او د ګډو اوبو د وېش په برخه کې ښه وړتیا او تجربه لري.[19]

د اوبو په برخه کې د څېړنو جدي کمښت او له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو په تړاو د کافي معلوماتو نشتون هم هغه ستونزه ده، چې په دې تړاو یې خبرې اترې له ننګونو سره مخ کړې دي. په ځینو مواردو کې د اوبو او انرژۍ او کرنې وزارتونو او د چاپېریال ساتنې د ملي اداري عین معلومات یا خو تناقض لري او یا هم نږدې 50 سلنه متفاوت دي. له همدې کبله دقیق او د کارېدنې وړ معتبر معلومات، له پاکستان سره د اوبو په اړه د خبرو اترو لپاره خورا زیات اهمیت لري. په بل اړخ کې پاکستان که څه هم د کابل سیند حوزې په اړه کافي معلومات لري؛ خو د دوه‌اړخیزو همکاریو د کمزورې وضعیت له کبله یې له افغان لورې سره نه شریکوي.[20]

د دې ترڅنګ له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسئلې په اړه عامه پوهاوی هم په نشت حساب دی. عام ذهنیت اوس‌مهال دا دی، چې په افغانستان کې یا له افغانستان بهر ته بهېدونکې هر څاڅکی اوبه د افغانستان ملکیت دی. په دې تړاو عامه پوهاوی په ملي کچه د حکومت له‌خوا د تصمیم نیولو لپاره د عامو خلکو ملاتړ ته اړتیا لري، کوم څه چې د عامه پوهاوي په نشتون کې په سم ډول نه شي ترلاسه کېدای.[21] دا

[18] Gareth Price. Et al. (June 2014) Attitudes to Water in South Asia. Chatham House Report. Pages 30-33. Available at: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/field/field_document/20140627WaterSouthAsia.pdf

[19] World Bank. The Indus Waters Treaty 1960. Available at: https://siteresources.worldbank.org/INTSOUTHASIA/Resources/223497-1105737253588/IndusWatersTreaty1960.pdf

[20] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Page 25.

[21] Ibid. Page 26.

ستونزه هومره جدي ده، چې پخوانی لومړی وزیر محمد موسی شفیق د هلمند سیند د اوبو په تړاو د تړون له لاسلیک کولو کابو یو کال وروسته لومړی ونیول شو او بیا یو کال وروسته د کمونیستانو له لوري د «اوبه خرخوونکي» تر نوم لاندې په څرخي پله زندان کې ترور شو.[22]

په لنډو ټکو کې د دوارو هېوادونو د ګډو اوبو په تړاو د افغان لوري داخلي ننګونې، په افغانستان کې د متخصص کدر نشتون، ناکافي سازماني ظرفیت، بې‌باوره معلومات، امنیتي ستونزې، د اوبو د نړیوالو قوانینو یا ګډو اوبو په اړه د عامه پوهاوي نشتون، بودیجوي ستونزې، د سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو د کیفیت ستونزه (په تېره بیا په کابل کې)، د اوبو په سکټور کې د ښې حکومتولی نشتون دی. همدا راز د کابل حوزې د اوبو په تړاو بهرنۍ ننګونې، د پاکستان او افغانستان ترمنځ بې‌باوري او د همکاریو نشتون، د نفوس زیاتوالی (په تېره بیا ښارونو کې)، اقلیمي بدلونونه او داسې نور دي.

## پر ګډو اوبو د خبرو اترو او هوکړې لپاره شته فرصتونه

د پورتنیو ستونزو او خنډونو ترڅنګ، ځینې داسې فرصتونه هم شته چې د دوارو هېوادونو ترمنځ د اوبو د ستونزې له هواري سره مرسته کوي:

**لومړی:** د ګډو اوبو پر قضیه د کار لپاره د افغانستان د حکومت اوسنۍ سیاسي اراده او ژمنه د دوارو هېوادونو لپاره، په تېره بیا د خبرو اترو د پیل او یوه توافق ته د رسېدو لپاره، ښه فرصت ګڼل کېږي.

**دویم:** د نړیوالې ټولنې توجه او لېوالتیا، په ځانګړې توګه نړیوال بانک د کابل حوزې په تړاو د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ او خبرو اترو سره د مرستې لېوالتیا ښودلې او په دې حوزه کې یې ځینې څېړنې هم کړې دي.

**درېیم:** غیر رسمي څېړنې هم هغه فرصت دی، چې په دې تړاو د معلوماتو او عامه پوهې له زیاتوالي سره مرسته کوي، هغه هم داسې مهال چې په دې برخه کې د معلوماتو کمښت په تېره بیا افغان لوري کې یوه مهمه ستونزه بلل کېږي.

[22] TolAfghanistan Website. Muhammad Musa Shafiq. See it online: http://bit.ly/2MMosaSh

**څلورم:** د نړیوال بانک د څېړنې له مخې، د کابل سیند حوزې په لوړه برخه (افغانستان) کې پانگونه او پراختیایي کارونه به پر پاکستان ډېرې لږ اغېزې ولري؛ ځکه په دې حوزه کې د اوبو لگونې د سیمو د پراختیا لپاره محدوده وړتیا شته ده او په دې حوزه کې جوړېدونکي او پلان شوي بندونه تر ډېره د برېښنا د تولید په موخه دي. له همدې کبله د دې حوزې د اوبو مسئله د شخړو پر ځای پر همکاریو بدلېدای شي؛ ځکه د برېښنا د تولید پروژې به د دواړو هېوادونو د برېښنا اړتیاوې پوره کړي. دغه ټکي ته په کتلو سره، دا ډول پروژې د دواړو هېوادونو ترمنځ له سیاسي ستونزو سره سره پلې کېدای شي. ښه بېلگه یې له مرکزي اسیا څخه سوېلي اسیا ته د برېښنا د لېږد (کاسا-1000) پروژه ده، چې له ټولو ستونزو سره سره د پلي کېدو په حال کې ده.[23]

په لنډو ټکو کې شته فرصتونه، د دې حوزې د اوبو په تړاو د شته ستونزو په هواري کې مرسته کوي. د گډ کار لپاره په افغان اړخ کې د سیاسي ارادې او ژمنې شتون، د نړیوالو تمویلوونکو شتون او توجه، د مخ پر ودې فعالیتونو شتون لکه گډې څېړنې او پر پاکستان د افغانستان په خاوره کې د اوبو د زېرمناوو کمې اغېزې، هغه فرصتونه دي چې د اوبو په برخه کې د همکاریو لامل کېدای شي او په ټوله کې بیا دا همکارۍ د سیمې له ثبات سره مرسته کوي.

## د کابل-اسلام‌آباد د اوبو تړون د نشتون اغېزې

امنیتي ستونزې او په تېره بیا د اوبو د بندونو جوړولو په تړاو د گاونډیو هېوادونو لاسوهنې، تر ټولو جدي ستونزه ده، چې له کبله یې افغانستان د خپلو اوبو په مدیریت او اغېزناک ډول کارولو او د دغه سکتور د پراختیا په چارو کې له ننگونو سره مخ کېږي. ډېر ځله گاونډي هېوادونه د دغه ډول پروژو پر سبوتاژ کولو تورن شوي دي. د بېلگې په توگه په هرات کې د سلما بند د کارکوونکو وژل کېدل او د کونړ سیند د بند په سیمو کې بریدونه یادولی شو، چې ایران او پاکستان پکې پر لاس لرلو تورن دي.[24]

---

[23] Malyar Idrees. (Oct 2017) A Review of Current and Possible Future Relations in **Kabul River Basin**, Kabul, Duran Research & Analysis, Pages 30-33.
[24] Gareth Price. Et al. (June 2014) Attitudes to Water in South Asia. Chatham House Report. Available at: https://www.chathamhouse.org/sites/default/files/field/field_document/20140627WaterSouthAsia.pdf

د ایران په څېر له پاکستان سره د اوبو مسئله هم خورا سیاسي بڼه لري او په ټولیز ډول د اوبو د مدیریت قضیه په تخنیکي ارگانونو لکه له اوبو او انرژۍ وزارت څخه د ملي امنیت شورا او ولسمشرۍ ماڼۍ ته رسېدلې ده. کوم څه چې په نورو هېوادونو کې هم شته او د گډو اوبو اهمیت ته په کتلو سره ښایي مثبتې اغېزې هم ولري؛ خو کله چې په دې تړاو هېڅ تړون موجود نه وي او د خبرو اترو لومړي پړاوونه وي، ښايي اغېزې يې منفي وي.

د تړون نشتون دا قضیه نوره هم پېچلې کوي. له یوې خوا افغانستان په دې حوزه کې د بندونو جوړولو پلان لري او يا يې کار روان دی، چې پر پاکستان به هم اغېزې ولري او له بلې خوا پاکستان هم له افغان لوري سره له مشورې پرته پر کابل سیند د اوبو زېرمه کولو پروژې پلې کوي.[25]

په اوسني وخت کې که څه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ د گډو اوبو په تړاو همکاري او خبرې اترې ډېرې عملي نه ښکاري؛ خو دا هغه قضیه ده چې په کال په کال يې اړتیا زیاتېږي، ځکه په دواړو اړخونو کې د اوبو تقاضا د بېلابېلو لاملونو له کبله لوړېږي او په دې منځ کې د یوه تړون نشتون پر سیاسي اړیکو لا زیاتې منفي اغېزې ښندي. په دې تړاو ښه حل‌لاره دا ده، چې د ملگرو ملتونو یا نړیوال بانک تر سرپرستۍ لاندې د گډو اوبو پر سر د خبرو اترو لپاره یو کمېسیون وټاکل شي او له سیاسي اغېزو لرې په دې تړاو هڅې وکړي.

[25] Ibid.